
# د «قطرتړون»
# سوله که ځلوبی؟




میرعبدالواحد سادات

ژباړه : محمد صفر خواریکښ

# د «قطرتېرون»

# سوله که ځلوبی؟

میرعبدالواحد سادات

ژباړه : محمد صفر خواریکښ

د کتاب پېژندګلوي

د کتاب نوم : د قـطر ترون سوله که ځلوبی؟

لیکوال: میر عبد الواحد سادات

ژباړن: محمد صفر خواریکښ

دیجیتال جوړښت: قاسم آسمایی

د خپروني نېټه: ۲۰۲۱ز کال

خپرندوی: په اروپا کې د افغان حقوقپوهانو ټولنه

www.hoqooq.eu

هسې مه درومه، پدې لار سرگردان

د مکې نه ده ، دا لار د ترکستان

محمدصفر خواریکښ

# نیولیک


سریزه أ

تقریظ هـ

لومړی څپرکی: د قطر ”هوکړه لیک“ او د امریکا دمتحدو ایالتونو د دولت اخلاقي ماته ١

دویم څپرکی: د قطر د ” تړون“ حقوقي ماهیت ١٨

دریم څپرکی: د ”قطر د تړون“ پټه برخه ٢٤

څلورم څپرکی: د” قطرتړون“ اړیپچ پاروونکې برخې ٣٠

پنځم څپرکی: د ”قطر تړون“ او دخلکو بنیادي اړتیاو او غوښتنو ته نه پامرنه ٣٨

شپږم څپرکی: جرمي اقتصاد د ترهګرۍ او طالبانو د تمویل یوه سرچینه! ٤٨

اووم څپرکی: د پاکستان د نقش په باب د ”قطر تړون“ غلی پاتی کیدل ٥٥

اتم څپرکی: د پاکستان له سوپر شیطاني پلانونو سره مقابله ٦٨

نهم څپرکی: د سولې په بهیر کې د ښځو د رښتو او آزادیو دفاع ٨٤

لسم څپرکی: د رندکواپریشن ISI او GHQ د نسخو ځلیدل په مسکو کې ٨٩

يوولسم څپرکی: د «رند کواپریش» موسسې د رندانه طرحې په باب ځغلنده نقد او نظر ۹٦

دولسم څپرکی: سوله که ړنګېدل؟ ۱۰۰

# سریزه

دا رساله د ″قطر تړون″ په باب د یو لړ حقوقي- سیاسي ارزونو لړونکې ده چې تېر زېږدیز کال کې له دې قلم نه خپرې شوې دي.

د دې رسالې له بحثونو مخکې، باید په ټینګار سره یادونه وکړم چې: سوله زموږ د مظلومو خلکو بنسټیزه غوښتنه او واقعي اړتیا او د افغانستان د ساتنې او پایښت شرط دی.

د سکالو د ارزښت په پیژندنې سره، د سولې او د افغانستان مسایلو او مصیبتونو په اړه لیکل، د«لیکلو شوق» یا د دنمارک له «عاج برج» څخه نسخه لیکل نه، بلکې زما لپاره دحقوقو او سیاسي علومو د یو شاګرد په توګه، د حق او حقیقت او د لوړو حقوقي ارزښتونو د دفاع اصلي انګیزه ده، چې په رڼا کې یې ربښتینې او تلپاتې سولې ته لاسرسی شونی دی. د یو روشنګر افغان په توګه ځان د هیواد او خلکو پوروړی او خپله وجداني پازه ګڼم چې د ټپي مورني وطن غږ پورته کړم.

په داسې حال کې چې د ۲۰۰۴ز کال راهیسې د بیلابیلو سرلیکونو لاندې د «سولې ځلوبې» په باب آوازې او ډنډورې مطرح دي او له ۲۰۱۲ز کال راهیسې په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر فعال دی. په کابل کې د سولې په باب له ناستو ،کنفرانس او له طالبانو سره د اختر د درې ورځني اوربند وروسته، د ولسمشر ترامپ، په یو هالیودي څرخیدو کې، دا بهیر د یوې پروژې په کچه د هغه د ټاکنیزو موخو په چوپړ کې شو او د ″قطر سریال″ له طالبانو سره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازی دوکتور خلیلزاد له اتلس میاشتو او یوولس دورو ناستو وروسته د دوحې په ″تړون″ تمام شو.

په دې توګه، د ″بن غونډې″ له کړې خښتې نه د عبرت له اخیستلو پرته یې، بله

کړه ودانۍ په داسې ډول «مهندسي» کړه چې پایلې یې له افغانستان نه د لبنان جوړول او د سقوط او... په مخځوړ ودرول دي.

اوس دا د افغانستان هسکېرلي او سولې ته تږي خلک دی چې: چې د طالباني شرارت په برزخ کې د منځنیو پېړیو امارت او "سلطاني" جمهوریت او د فساد واکمني د رغاوي غوښتنه، باید او د مجبوریت له مخې د(رند مؤسسې، جي اچ کیو او آي اس آی، د ایران پاسدارانو، "د واک دویش لپاره ائتلافي انتقالي دولت" او د کابلوف " پراخ بنسټه اسلامي حکومت" نسخې دژغورنې اکسیر وبولي.

له دې امله، اړینه ده چې د سیاسي هوښیارتیا په رڼا کې او د افغانستان د لوړو ګټو او مصلحتونو په پام کې نیولو سره، آر(اصلي) کړۍ وپېژنو چې د هغې په وسیله، له هغه «نسکورېدو» او «پرېکېدو» مخه ونیول شي چې زموږ خلکو د شلمې پېړۍ په وروستیو کې دوه ځله هغه ډاروونکې تجربې ازمایلې دي او د همدغې پېژندنې پر بنیاد باید؛ د نظام او په اساسي قانون کې د کښل شویو ارزښتونو ساتنه زموږ د کار په سرلیک کې ځای ولري.

دغه سترې ملي هیلې ته لاسرسی، د افغانستان دولت او طالبانو د مخامخ او بې قید و شرطه خبرو له لارې مشروطې سولې ته رسېدل شونې کوي. دولت او طالبان باید تل په یاد ولري چې د جګړې افت د پای ته رسېدو لپاره یوازې د سیاسي حل لار شتون لري. د افغانستان مظلوم خلک چې نږدې نیمه پېړۍ یې تپل شوې جګړه زغملې ده، د دې حق لري چې رښتینې او تلپاتې سولې ته ورسېږي.

 څرګنده ده چې خلک، نه امارت او اسارت ته غوړځېدل غواړي او نه د دې پلویان دي چې له لاسته راوړنو د "عثمان کمیس" جوړ شي.

کله چې دجمهوریت خبرې کېږي، په یاد مو وي چې دا اصل له یونان او روم او په ځانګړې توګه د کانت او روسو د روښنګرۍ له پېر وروسته، په دوه واکمنیو: ملي

واکمنۍ او د قانون واکمنۍ کې تعریف او توپیر کېږي چې ”اسلامي امارت ” دغه دواړه نه مني.

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور او بین‌المللي میثاقونو له مخې او داساسي قانون سره سم ملي واکمني په انحصاري توګه په خلکو پورې تړاو لري او د هغې په عملي کولو سره خلک د سیاسي رژیم د ډول( نوعیت) او د هیواد مشرتابه په باب تصمیم نیسي. ملي ارادې او د ملي واکمنۍ د حق څرګندولو ته د دولت او طالبانو د وفادارۍ معیار ، سراسري اوربند لور ته تګ دی، ترڅې مظلوم خلک د خپل برخلیک د ټاکلو لپاره خپله غوښتنه په آزاد ډول څرګنده کړي.

اوس چې د امریکا د نوي ولسمشر اداره د «بیا کتنې» خبرې کوي، باید په لوړ غږ د خلکو د دې روا غوښتنې غږ چې: «بیا کتنه» که له ډاروونکي چلند سره مخه ښه« لوټه ایښودل او له اوبو تېرېدل» او افغانستان ډوبول وي، په لومړي ګام کې باید د هغه هیواد د «کوږ یې ونیسه مه یې تویوه» سیاست رښتینی مصداق پیدا کوي.

د افغانستان خونړۍ تراژیدي او دوام یې د بهرنې لاس وهنې او تیري پایله ده او اوسنی ګډوډ حالت په وروستیو دوه لسیزو کې د امریکا د متحدو ایالتونو او انګلستان د «کوږ یې ونیسه مه یې تویوه» سیاست محصول دی چې په پاکستان کې د ترهګرۍ د ونې په خړوبولو او زموږ په هیواد کې یې د څانګو په قلمولو(غوڅولو )، زموږ د ویرژلو خلکو روزګار تباه کړی دی. ترهغه وخته چې پاکستان د ترهګرو لپاره خوندي پناهځای او پر فساد سالارانو د مهربانۍ لاس موجود وي، د سولې خبرې، به همداسې «ځلوبې » وي.

دا رساله د همدې تاریخي ضرورت له مخې چې د افغانستان له برخلیک ټاکلو سره غوټه شوی دی، چمتو شوې ده، په داسې حال کې چې زموږ د وطن د تاریخي دوښمنانو چاره هڅوکي ته رارسېدلي له په څنډه تېرېدو پرته، په سپینه او رښتینه

توګه، د خلکو له نومه او د هغوی دژغورنې په پار څانګیز او روښانوونکی غبر پورته کړو.

پورتنۍ موخه پدې رساله کې په دولسو څپرکو کې مطرح شوې ده او د "دوحې تړون" د منل شویو بین‌المللي رښتو(حقوقو) سره سم د امریکا د متحدو ایالتونو دولت د حقوقي او اخلاقي ماتې په توګه ارزول شوی او د هغې غبر حقوقي ماهیت بیان شوی او د"تړون" پټې برخې او هغه برخې چې په قصدي توګه نا څرګندې پرېښودل شوي دي( د طالبانو د خوندي پناهځای او جرمي اقتصاد او مخدره توکو کې د پاکستان اغېز) رسوا شوي او د پاکستان له دروهو(دسیسو) سره د مقابلې عملي لارې ارزول شوې دي.

په ځاي ده چې د دې رسالې په چمتووالي کې د خپل دروند استاد ښاغلي پوهاند فاضلي نه مننداوی اوسم.

دا رساله په دنمارک کې د میشتو افغانانو د شورا مشر، حقوقپوه او پخوانی تجربه لرونکي ډیپلومات ښاغلی هادي ابوي په پوره مهربانۍ تدقیق کړې او تقریظ یې پرې لیکلی دي چې مننه ترې کوم.

حقوقپوه او نه ستړی کېدونکی فرهنګي ښاغلی محمد قاسم آسمايي د دې رسالې د سمون او په اروپا کې د افغان حقوقپوهانو دټولنې خپرونو تل هڅاند پازوال ښاغلي تمیم ابوي په پوره مهربانۍ او ځانګړي غور د مخونو اوډنه کړې ده چې له دواړو قدرمنو مننداوی یم.

همدا راز مخینه لرونکي ژورنالیست او پیاوړي لیکوال ښاغلي محمد صفر خواریکښ نه چې دا رساله پښتو ژبې ته ژباړي له مخکې مننه څرګندوم.

په درنښت میر عبدالواحد سادات

هادي ابوي

# تقریظ

د امریکا د متحدوایالتونو په تاریخ کې د دونالد ترامپ د ولسمشرۍ دوره باید یوه اشتثنا وبولو. داسې استثناچې د ده ادارې د هغې په رڼا کې په کورني او بهرني سیاست ستر سیاسي بې‌مخینې نوي کارونه وکړل.

له دغو نویو کارونو څخه یو یې د طالبانو د ډلې په وړاندې د سپینې ماڼۍ دریځ وو، هغه ډله چې د ملګرو ملتونو سازمان کې د «ترهګرې» ډلې په نوم ثبت وه خو په په واشنګټن کې داسې دوست و پېژندل شو چې ”امریکایان نه وژني“.

یوځل، په هر ډول چې وو په پایله کې دې ډلې د امریکا د دولت له استازو سره ژمن‌لیک لاسلیک کړ چې بیا هم یوه استثنا وه. استثنا له دې امله چې په هیڅ یو دوه اړخیز ژمن‌لیک کې، مقابل لوري ته دومره ستر امتیازونه ورکړ شوي نه وو او د ”پټو مادو“ په نوم پکې ګونګ او ناڅرګند څه ځای په ځای شوي نه وو.

مګر له مهالیز پلوه ،”د دوحې عاشقانه خبرې“ په داسې وخت کې پیل او سرته ورسېدې چې د امریکا متحد ایالتونه د برخلیک جوړونکو ټاکنو په لور روان وو چې په پایله کې یې جوبایډن ولسمشرۍ ته ورسید.

د بایډن لومړۍ خبره چې له طالبانو سره تړون له بیا کتنې تر له منځه وړلو پورې په پام کې نیسي، طالبان له ډېر بد حالت سره مخ کړل.

په دې خبرتیا سره، د امریکا د بهرني سیاست په ډېرو مهمو ټکو کې تازه حالت رامنځ ته کېږي. د پالیسۍ د دې بدلون سملاسي پایله، د طالبانو چې ځان یې د بشپړ بري

په یو قدمۍ کې لیدل سخت غبرګون دی. هغوی نه یوازې په دې بریالي شوي وو چې امریکا خبروته راکاږي، بلکې د خبرو په پیر او وروستۍ پایله کې یې فوق‌العاده امتیازات هم لاس ته وروړي وو.

بایډن په څرګنده د دوحې د ”هوکړه لیک“ د بیا کتنې خبره وکړه او که څه هم د ترامپ د دورې خبرلوڅ زلمی خلیلزاد یې پر خپله دنده پرېښود خو دا بیخي څرګنده ده چې امریکا د طالبانو په وړاندې پر خپلې تګ‌لارې بیا کتنه کې جدي ده.

تر اوسه په سمه توګه څرګنده نه ده چې بایډن به پدې هکله د حل کومه لار غوره کړي او آیا د حل مناسبې لارې لري؟

یو احتمال به د په شاتګ د مودې داوږدېدو لپاره په داسې حال کې چې په دوحه یا بل ځای کې د افغانستان د سولې خبرې دوام ولري د طالبانو د حمایت د جلبولو لپاره هڅه وي. ښایي د بایډن دولت له نورو هیوادونو او په دغه لړ کې د چین، ایران، پاکستان، قطر، روسیې او سعودي عربستان نه وغواړي چې د دې هوکړه لیک د سمون لپاره پر طالبانو زور واچوي.

خو که طالبان د هوکړه لیک له اوږدېدو سره موافقه ونکړي (ګومان کېږي چې نه یې کوي)، د بایډن دولت به د ځواکونو د ایستلو د ناوړه لارو په غوراوي او د افغانستان دولت د سقوط یا یوې ”همېشنۍ جګړه“ کې د ښکېلېدو خطر سره مخامخ شي. ښایي د امریکا متحد ایالتونه به لږ تر لږه ۲۵۰۰ سرتېري پداسې حال کې وساتي چې ټینګار کوي، شاتګ ته ژمن دی او د سولې د بهیر ملاتړ کوي. ان ویل شوي دي چې د دې لارې په تطبیق سره د سرتېرو شمېر ۴۵۰۰ ته زیات شي.

طالبانو مخکې دا هوکړه لیک ته ”خیانت“ بللی او ویلي دي چې دې اقدام ته به د امریکا متحدو ایالتونو په هدف ګرزولو سره ځواب ورکړي.

ګورو چې هيڅ ثابت او وروستی انتخاب شتون نلري. مالومه نده چې د امريکا متحد ایالتونه غواړي یا کولای شي خپل سرتېري داسې بهر کړي چې طالبان يې غواړي؟ په هغه حال کې د افغانستان د جمهوري دولت برخليک او دا ټول ملکي تلفات او اقتصادي، سياسي او مدني برياوې او په دې سیمه کې د امریکا د متحدو ایالتونو راتلونکې هغه هم په داسې شرایطو کې چې چین د دروازې شا ته منتظر دی به څه شي؟

په دې صورت کې افغانستان به چې همدا اوس پکې ملکي تلفات د طالبانو او د هغوی د شريکانو د فعاليتونو له امله د ورځ ۲۰ کسان دي تر کومه د دې حالت زغم ولري؟

پدې توګه د افغانستان برخليک له يوې خوا د يوې سراسري او تلپاتې سولې په هيله او له بله پلوه يو تورتم حالت او ځلوبي(سراب) په لور متوجه دی.

د دې دوه اړخونو "سوله" یا "ځلوبی" منځ کې حرکت او سفر د بحث سکالو (موضوع) ده چې په دې رساله کې په پام کې نیول شوي ده.

پېژندل شوی حقوقپوه د پوره سیاسي تجربې لورنکی ښاغلی میر عبدالواحد سادات، چې له اوږدې مودې راهيسې يې "طالبان" مطالعه کړې دي او په دې باب يې په لسګونو مقالې ليکلي دي، پدې رساله کې تر کومه چې شونې ده لوستونکی د سولې له خبرو او راتلونکو له زړه پورې نه تر ناخوښو احتمالاتو له بهير سره خبروي پدې ډول چې لوستونکی تر زياتې کچې نورو سرچينو ته له مراجعې بې نيازه کوي.

د محترم ليکوال نه په منني سره چې خپل وخت يې دې ارزښتناک کار ته ځانګړی کړی دی او له خپرندوی نه هم له دې امله مننه چې د ښاغلي سادات بله رساله د لوستنکو په واک کې ورکوي.

# لومړی څپرکی

## د قطر "هوکړه لیک" او د امریکا دمتحدو ایالتونو د دولت اخلاقي ماته

کله چې د امریکا پنځه څلویښتم ولسمشر ژمن‌ماتوونکی دی او دروغ وايي، په حقیقت کې د امریکا دولت اخلاقي ماته زباتوي.

دلته د ښاغلي ټرامپ د کار د ډول په توګه پر پوپولېزم او د هغه پر استثنايي شخصي عادتونو له بحث پرته چې د هغې له امله مې دوه کاله مخکې د لس ملیونو افغانانو د وژلو د لیوني ډوله څرګندونو او د افغانستان په ختیز کې د بمونو د مور دغورځولو په مهال، د «مست زنګي»[1] په نوم یاد کړ، زما د لیکنې اصلي موخه:

- د ملګرو ملتونو سازمان منشور کې د کښل شویو بین‌المللي حقونو د منل شویو معیارونو او بین‌المللي تړونونو ماتول - زموږ د خلکو او هیواد په برخلیک لوبې

- د "سولې سریال" تر نامه لاندې د افغانستان د خونړي ناورین دوام دی، چې له هر ډول شخصي مینه والۍ او کینې پرته د نړیوالو اعتبار لرونکو معیارنو پر بنیاد او د افغانستان د لوړو ګټو پر بنسټ او زموږ د مظلومو خلکو د غوښتنې زیاتې اړتیا له مخې د حقوقو او سیاسي علومو د شاګرد په توګه بیانوم.

د سکالو د مطرح کولو اړتیا په څلورو بنیادي برخو کې څرګندیږي:

۱.   سوله د افغانستان جګړې ځپلیو او سولې ته د تږو خلکو بنسټیزه غوښتنه

او څرګنده اړتیا ده. ښاغلي ټرامپ پخپلو بیړنیو تصمیمونو د سولې بهیر د یوې پروژې کچې ته راټیټ او د خپلو د ننیو او ټاکنیزو ګټو په چوپړ کې کارولې ده.

٢. افغانان او افغانستان د ربښتیني او دایمي سولې ته له رسېدو محروموي.
٣. د طالبانو اسلامي تحریک او دهغوي اصلي ملاتړي پاکستان ته دامتیاز په ورکولو سره، یوډول «نیابتي سوله» مطرح کوي او افغانستان د نیابتي جګړو د دوام په په مخځوړ کې ودروي.
٤. زموږ د خلکو د ژوندانه حق چې له سخت خطر سره مخ دی، د سختو سترو نویو ګواښونو سره مخ کېږي چې ببلګې یې له طالبانو سره د "قطر تړون" له لاسلیک وروسته په ځانګړې توګه د دوحې د "بین‌الافغاني" ناستو له پیل وروسته وینو.

البته په دې بحث کې د مسایلو او پېښو شالید ته یې د «شین ملاوستني» جوړول او د افغانستان د لومړني جمهوریت د ړنګولو او د سرې جګړې په زور کې د «لوي لوبې» د اوږدولو او د دغه جګړې په « نطع (د مجرمینو وژنځای) » باندې زموږ د هیواد د بدلولو لپاره د «سنتو» تړون کې د خپل متحد هځول ... او د لښکرود یرغل لاملونواو تر نن ورځ پورې د امریکا پر پراخ پوځي شتون، څه نه وایم.

**پر افغانستان د امریکا پوځي یرغل:**

د سپتمبر یوولسم د جورج بوش دولت د بهرني سیاست او بین‌المللي دیپلوماسۍ د اساسي موخو لپاره ځانګړې او استثنايي فضا برابره کړه. دا تاریخي فرصت افغانستان ته د پوځونو رالېږلو لپاره ډېر مناسب وخت وپېژندل شو او د وخت له لاسه ورکولو پرته، د امریکا د دیپلوماسۍ او پوځي دستګاه داسې په بېساري ډول پراخه فعالیت ته پیل کړ چې د ملګرو ملتونو سازمان له لارې له بین‌المللي ټلوالې سره افغانستان ته د زیات شمېر پوځونو لېږلو د "مشروعیت" اساسات توجیه کړي.

د امنیت شورا د ( ۱۲۶۷) او (۱۲۶۶) شمېرو پرېکړو[۲] په اړوند خبرې کېږي او په هغه وخت کې د امریکا د هغه مهال ولسمشر او په ټوله کې د امریکا دولت او نظام، د پوځي یرغل د اصلي موخو په توکه یادېده.

خو اوس د نولس کلونو په تېرېدو سره او کله چې د امریکا ولسمشر د امریکایي سرتېرو د وتلو خبرې کوي، موږ شاهدان یاستو چې امریکا په هیڅ یوې مطرح شوې برخه کې لاس ته څه ندي وروړي او برخلاف: مخدره توکي، لوږه، په نشو اخته کیدل، بیکاري او ترهګري په بېساري توګه پراخه شوې ده او د آزاد بازار پر ځای فساد او د دیموکراسۍ پر ځاي يې، کلیپتوکراسي واکمنه کړې ده.

د القاعدې او طالبانو او د هغوی ګډ کار د تر ټولو ستر تروریستي خطر په توګه ونومول شو او اوس دویم ځل د امارت د بیا جوړولو پرلار اوبه ښیندي او له ترون او له القاعدې سره داړيکو د پریکولو له ژمنې اوه میاشتې وروسته د دغه شریر سازمان مرستیال په غزني کې د طالبانو خلاف په وسله والو عملیاتو کې وژل کېږي.

**پاکستان د ترهګرۍ د منځۍ په توګه:**

په هغه وخت کې بشپړ وضاحت شتون درلود چې د طالبانو اصلي ملاتړ او متحد پاکستان دی او په همدی دلیل لکه څنګه چې پرویز مشرف پخپل کتاب ( داور په کرښه ) کې لیکي، د امریکا د دولت رښینی ګواښ د هغه هیواد د بهرنیو چارو د مرستیال وزیرجنرال ارمیتاژ په واسطه مشرف ته وویل شو، چې د طالبانو "دولت" د ړنګېدو لپاره له امریکا سره همکاري وکړي او افغانستان ته يې د ننوتلو لار برابره کړي.[۳]

مګر دریغه او سل افسوسه: په دغه ټوله موده کې د ترهګرۍ او طالب جرړې په پاکستان کې خړوببېدلې او ځانګې يې په افغانستان کې په اور او وینو کې د افغانانو د ډوبولو په بیه غیځې کولې.

د اریانتیا وړ ده چې د اسلام آباد شاوخوا د اسامه بن لادن له وژلو وروسته، د ملا محمد عمر اخوند مرموز وژل او په پاکستان کې د امریکايي بې پیلوټه الوتکې لخوا د طالبانو د مشر ملا منصور وژلو، د امریکا رسمي مقامات د پاکستان نقش د بین‌المللي تروریزم د مرکز او دهغه هیواد دولت یې دهغوی د ملاتړ په توگه منښت (اعتراف) ته اړایستل. لکه څنگه چې دې حقیقت ته "د آسیا سهیل لپاره د امریکا د دولت ستراتیژي" په خپرېدو کې پاملرنه شوې ده او ولسمشر ټرامپ د ۲۰۱۷ ز د جنوري په لومړۍ پخپل لومړني تویت کې، پاکستان د ترهگرۍ د مرکز او ملاتړ په توگه یاد کړ.[٤]

## د ولسمشر ټرامپ په سیاست کې هالیودي څرخیدنگ:

د هغې ستراتیژي له خپرېدو لا یو کال نه و تېر شوی چې د دیپلوماسۍ د دستگاه رئیس پاکستان ته په یو بیړني سفر کې له افغانستان نه د خپلو پوځیانو د ایستلو لپاره د امریکا دولت د نوي پلان، له طالبانو سره د خبرو پیل او په افغانستان کې د "سولې" خبرې وکړې او د افغانستان په وړاندې یې د خپل دولت د رئیس هالیودي څرخېدنگ ښکاره کړ. په دغه سفر کې یې ښاغلی خلیل‌زاد چې د پلاوي غړی و، د خپل ځانگړي استازي په توگه معرفي کړ چې د چاروڅرنگوالی تنظیم کړي.

پدې توگه د افغانستان د سولې بهیر چې مخکې پیل شوې وو؛ د یوې "پروژې" کچې ته راټیټ او د ترهگرۍ مرکز او ملاتړ پاکستان، په واقعیت کې د دغه "پروژې" ټیکه دار شو.

خشت اول چون نهد معمار کج
تا ثریا می رود دیوار کج

د دې تمه کېدله چې د امریکا متحد ایالتونو او په خاص ډول د دغه هیواد تجربه لرونکي افغان الاصل مامور به د "بن کنفرانس" کې د کړې خښتې له اېښودو درس

اخیستی او زموږ په وطني ګړنه د سهوې سجدې په تکرار به، (ښايي په قصدي توګه) په بلې کږې خښتې د خپل زيږدنځای په وړاندې نامعلومه او ډاروونکې راتلونکې نه جوړوي چې اوس پخپله د سورېي په برخليک د افغانستان له اخته کېدلو "انديښنه" لري!!!

له بدبينۍ او د دروهې له تيوري نه له کار اخيستلو پرته کېدای شي د سياسي علومو له دکتور ښاغلي خليلزاد نه، چې د وروستيو څلورو لسيزونه په زياته موده کې د افغانستان د جګړې له مهندسانو څخه دی پوښتنه وکړو:

- په داسې حال کې چې د جګړې کوم دقيق تعريف و نلرو؛ څنګه کولای شو د سولې خبرې وکړو؟

څرګنده خبره ده چې رښتينې درملنه د ناروغتيا له سم تشخيص وروسته کيدای شي او ماهر داکتر د ناروغۍ له تشخيص وروسته، لازمه نسخه ورکوي.

مالومه ده چې د افغانستان جګړه د دې نيمې پېړۍ په حدودو کې زيات کورني، سيمه يز او بين‌المللي لاملونه او عوامل لري. لسګوني لاملونه، او په دغه لړ کې هيروئين او جرمي اقتصاد، بېوزلي، بېکاري، ټولنيزې ستونزې او مصيبتونه، د ملي قانون محور او دعدالت پلی کوونکي ځواکمن دولت نشتون ... د جګړې د دوام هڅوونکي دي.

د افغانستان خونړۍ ناورين د بهرنۍ لاس وهنې او تېري پايله ده چې له هماغه پيل نه او په ځانګړې توګه په وروستيو دوه لسيزو کې يې د امريکا متحد ايالتونه تاريخي، حقوقي او اخلاقي مسووليت لري.

دا د هماغه "لوی لوبې" دخونړي تاريخ دوام ډېره اوږده صفحه ده او موږ تازه د دې لوبې نوي پير ته "جګ" شوی ياستو. که په سره جګړه کې افغانستان د سرې

جګړې د نطع (د مجرمینو وژنځای) په توګه انتخاب شو، نن منځنۍ آسیا ته د ورننوتلو د لار او د بیلابیلو امنیتي سیستمونو د وصلیدو د مرکز په توګه پېژندل کېږي.

په افغانستان کې نیابتي جګړه روانه ده او د افغانستان په خلاف د پاکستان د نااعلام شوې جګړې پنځه څلویښت کلونه تېرېږي. لکه څنګه چې وویل شوه د ترورېزم د مرکز او ملاتړی په توګه د پاکستان پرنقش د امریکایي مقاماتو لخوا هم منښته شوې او ویلي یې دي چې د دغه هیواد دولت له ترهګرۍ نه د خپل بهرني سیاست موخو ته د رسیدلو لپاره ګټنه کړې او کوي یې.

**لوټه ایښودل او له اوبو تېرېدل:**

پدې توګه لیدل کېږي چې له بده مرغه د دغو ټولو پورتنیو حقیقتونو په پام کې نه نیول، ولسمشر ټرامپ د ده د دیپلوماسۍ د دستګاه رئیس او واک لرونکی مامور یې پدې دوه کلونو کې او د "قطرسریال"، ربښتینې سوله چې زموږ د مظلومو او د سولې ته تږیو خلکو اصلي اړتیا او آرمان دی، په یو ځلوبي بدل کړی او د یوې پروژې کچې ته په ټیټولو او د خپلو کورنیو رقیبانو سره په سیالۍ او ټاکنو کې په حقیقت کې په "پلان شوې" توګه افغانستان د لا سختوخونړیو شخړو په لار ور برابر کړی دی، چې ډارونکي او مرګونې نښې مو یې له طالبانو سره د تړون له لاسیک نه وروسته دې اووه میاشتو کې ولیدې او ګوروېې.

**د "قطر د تړون" حقوقي ځای:**

د ستر هالنډي حقوقپوه او فیلسوف او د «جګړې او سولې حقوق» (۱۶۲۵ز) د مشهور کتاب لیکوال هوګو ګروسیوس چې د بین‌المللي نویو حقوقو د پلار په توګه پېژندل کېږي، له وخته راهیسې او تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو سازمان د جوړیدواو د دغه سازمان د منشور او بین‌المللي تړونونو په هکله د ویانا

بین‌المللي میثاق(۱۹۶۹ز) چې اوس د تړونونو حقونه مطرح دي، په هیڅ ډول داسې یو لاسوند ته حقوقي لاسوند نشو ویلی. البته له طالبانو سره د امریکا د متحدو ایالتونو یو سیاسي سند او د تفاهم تړون دی، چې د دریم اړخ لپاره هیڅ ډول الزامیت نلري په دویم څپرکي کې په تفصیل سره څیړل شوی دی.

پدې توګه لیدل کیږي چې د دیموکراسۍ د ارزښتونو او «دولت- ملت» او «ملت- دولت» لپاره دوه لسیزې ویرنۍ ویل او د خپل پراخه پوځي او سیاسي حضور د توجیه کولو لپاره یې، پخپله د افغانستان د ملي حاکمیت حق تر پښو لاندې کړی دی.

د همدې بحث په اړوند دوکتور خلیل زاد، د یو تلویزیون سره ښکاره وویل چې «امریکا د راتګ او تګ لپاره د چا اجازې ته اړتیا نلري، امریکا یو زبرځواک دی»[۵]

دهغه هیواد د ځانګړي استازي او لوړ دیپلوماتیک مقام د خبرو آسانه پوهیدنه دا ده چې امریکا د خپلو موخو د لاسته وروړلو لپاره د هیوادونو ترمنځ اړیکو کې د هیڅ منل شوي معیار او پیژندل شوي دود چې اساس یې د ملګرو ملتونو سازمان منشور او د بین‌المللي حقونو نورمونه دي، تابع نه ده. پدې صورت کې د یو اشغالګر په توګه پیژندل کیږي.

د کړنو د «توجیه» کولو لپاره یې پخپل زبرځواک ټینګار، د دې واقعیت ثبوت دی چې په نړۍ کې له شوروي اتحاد وروسته له سترې پوځي امپراطورۍ سره، د یوازني زبرځواک په توګه د امریکا په را څرګندیدو په نړۍ کې د ځنګل قانون لاسبری شو.

دا د ځنګل دقانون بنست دی چې:

- «و وژنه، یا وژل کیږی»
- «وخوره یا خوړل کیږي»

چې رودیار کیپلینګ « د ځنګل قانون» کتاب کې هغه له نورو ژویو سره دلیوانو په ژمنه کې بیان کړی دی.[٦]

دا خواشینوونکی حال په واقعیت کې هماغه طبیعي حالت اود « هاپسي یا هاپزي» نړۍ ته ور ستنېدل دي، چې د انګلستان ستر Thomas hobbes -Leviatan فیلسوف، توماس هاپز پخپل لویاتان کتاب کې روښانه کړی دی.[٧]

له طبیعي حالت نه مدني ته تېرېدل، مدنیت ته د تګ او د مدني کیدلو پوله او معیار دی. زموږ د همدې بحث په اړوند، امریکایي اوس‌مهالی فیلسوف ښاغلی چامسکي لیکي: « کله چې بوش زوي( جورج بوش) ته یې وویل چې ستا اقدام د حقوقي معیار مخالف دی، په ځواب کې یې ویلي دي« زما لپاره توپیر نه لري چې حقوقپوهان څه وايي، زه به څوک په کونه په لغته ووهم.»[٨]

البته تردې لویه غمیزه د اده چې په روانو حالاتو او د تاریخ د سترې امپراطورۍ د واک په سر کې د ښاغلي ټرامپ په راتګ سره، زموږ نړۍ د ځنګل له قانون نه بې قانونه ځنګل ته "پرمختګ" کړی دی.

البته پدې وروستیو دوه لسیزو کې د دې دواړو حالتونو نښې تل موجودې وې او تر ټولو څرګند حالتونه یې د سولې د جاري "پروژې " په اړوند یادولی شوو:

د امریکا دولت د افغانستان دولت ستراتیژیک تړون او امنیتي پیمان لاسلیک کړی دی او د دې دولت اصلي ملاتړ او ستر مرسته کوونکی دی.[٩]

خو په عمل کې او دې دوو کلونو کې چې"د سولې سریال" پیل شوی، د موجود دولت د لیرې کولو لپاره یې په نرمو فرېبونو هڅې روانې دي او تردې حده چې له مخالفانو سره یې دیوې یاغي ډلې په توګه چې مشران یې د ملګرو ملتونو په تور نوملړ کې شامل دي، د دوی په غیاب کې تړون لاسیک کوي او د «راتلونکي اسلامي دولت» عبارت

په یادونې سره یې، فاتحه لولي او په پټه یا لفافه کې یې «غیراسلامیت» تاییدوي. خو په عمل کې د دې ترون منځپانګه او محتوا د دریم غېر ژمن لوري لپاره واجب الاجرا ګڼي.

د اریانتیا وړ دا ده چې د شتون او اډو جوړولو لپاره یې د افغانستان له دولت سره تړون لاسلیک کړی دی او د پوځي ځواکونو د ایستلو او اډو د راتلونکي برخلیک په اړوند یې له وسله والو مخالفینو سره تړون لاسیک کړی چې کیدای شي دا د امریکا دولت ژمنو ته د ژمنتوب د منلو او "وفا" شهکار وبولو.

- د کارپوهانو په وینا او د دغه هیواد د مقاماتو د منښت (اعتراف) له مخې له طالبانو سره د امریکا تړون دوه برخې ښکاره او اعلام شوې او پټه برخه لري او څرګنده ده چې له پټې برخې نه یې د افغانستان دولت خبر ندی او په عمل کې په دغه هکله هر ډول پوښتنه او وضاحت غوښتنې ته په ګواښ او زور ښودلو ځواب وایي.
- د امریکا د هڅو باوجود په پاکستان کې د تروریستي مرکزونو او طالبانو شتون اوبالاخره دهغه هیواد د نااعلام شوې جګړې د دوام پر واقعیت اعتراف وکړ او ښاغلي ټرامپ د (۲۰۱۸ز) د جنوري د لومړۍ نېټې پخپل مشهور تویټ، پاکستان د تروریزم مرکز او ملاتړي معرفي کړ. مګر په ټولو دغه دوه کلونو کې اوله طالبانو سره په تړون کې دغه د جګړې لامل ټکي ته هیڅ اشاره نه ده شوې. برخلاف په دې اړوند خبرې د طالبانو په فتوا «مکروه» بولي.
- د افغانستان په جګړه کې د افغانستان دولت او د طالبانو اسلامي تحریک دوه اصلي لوري دي؛ خو لا تر اوسه د «بین‌الافغاني» ناستو له پیلېدو سره هم طالبان په ښکاره دولت د اصلي لوري په توګه نه پېژني چې دا د امریکا دوه ګوني او استخبارتي لوبې دي.
- تر ټولو جالبه د اده چې «بین‌الافغاني» ناستې په دوحه کې رواني دي، خو پرېکړې په پاکستان کې (آی اس آی او جي اچ کیو) د دواړو اړخونو په

غیاب کې د هغه هیواد د استخباراتو له جنرالانو سره د عمران خان د نسخې او لنډمهالي حکومت پر اساس کېږي.

- د امریکا لوري له طالبانو سره په معامله کې، د افغانستان د مظلومو خلکو بنیادي حق (د ژوند حق) له ستر ګواښ سره مخ کړی دی. اوربند یې چې باید د «بین‌الافغاني» خبرواترو د پیلېدو اصل او شرط وی، پر راتلونکي دولت باندې هوکړې پورې تړلی دی.

په دې معنا چې اوسی دولت «مجبور» دی، پخپله خپل قبر وکني.

په داسې حال کې چې له طالبانو سره د امریکا له تړون وروسته، اووه میاشتو کې د دوی تر منځ بشپړ اوربند شتون لري او ښاغلی خلیلزاد او د امریکا د بهرنیوچارو وزیر په کبر او ځان ښودنې سره تکرار وایي: « په دې موده کې یو امریکایي هم په افغانستان کې نه دی وژل شوی» او د دوی «پارټنر» مولوي هیبت الله آخوند هم د امریکایي وژل د شریعت خلاف بللي دي.

خو په دې موده کې په افغانستان کې د وینو حمام جوړ او د جګړې او زور زیاتي کچه زیاته شوې ده. په دې توګه د امریکا د متحدو ایالتونو دولت، د افغانستان له دولت سره خپلو ژمنو ته وفادار ندی او د هغو تړونونو ماتوونکی دی چې د افغانستان له دولت سره یې لاسلیک کړي دي.

په دې حالت کې د امریکا د دولت حقوقي پازه(مسوولیت) مطرح کېږي چې لنډه کتنه ورته کوم .

حقوقي پازه:

د لرغوني یونان او روم له حقوقو نه یو حقوقي اصل چې تر اوسه شتون او په اوس‌مهالو بین‌المللي حقوقو کې د پخوا په څېر اعتبار لري، عبارت دی له:

تړونونه باید اجرا شي.[10] یا (اُوفو بالعهود واُوفو بالعقود) ( Pacta sunt Servando)

د (ملي - مدرنو) دولتونو حقوقي ستن د ویستفالیا د سولې تړون(۱۶۴۸ز) جوړوي چې ملي حاکمیت یې اساس او د درناوي وړ بللی او د ویانا په کنګره (۱۸۱۵ز) کې یې نوی نړیوال نظم تعریف کړی او د ملګرو ملتونو سازمان په جوړېدو سره یې دهغه سازمان په منشور او تصویب شویو هوکړو(میثاقونو) کې کښل شوی دی.[11]

کله چې د امریکا د متحدو ایالتونو دولت د ملګرو ملتونو سازمان او دغه سازمان د امنیت شورا د غړي په توګه یاد شویو اصولو ته ژمن دی؛ باید د تړونونو دحقوقو له معیارونو سره سم او د بین‌المللي تړونونو په هکله د ویانا کنوانسیون(۱۹۶۹ز) د حکمونو له مخې د افغانستان له دولت سره تړونونو ته ژمن وي او د افغانستان د ملي حاکمیت حق ته درناوي وکړي، له دې پرته د ملي حاکمیت د ماتوونکي په توګه اشغالګر ځواک پېژندل (تعریف) کېږي.

(البته باید د افغانستان دولت هم په تړونونو کې د کښل شویو مادو په تنظیم او کمزورو برخو باندې اعتراف او پاملرنه وکړي چې په حقوقي اړخ کې یې د امریکا دولت ته د یواړخیزه خپلسرۍ لار بربره کړې ده)

د ملګروملتونو سازمان د غړیو دولتونو په اړیکو کې به تر دې مسخره او د خندا وړ تکرار نشي چې د امریکا دولت د افغانستان له دولت سره د خپلو پوځیانو د شتون لپاره تر (۲۰۲۶ز کال) پورې ستراتیژیکي او امنیتی تړون لاسلیک کړی دی او اوس یې له مخالفې دوښمنې وسله والې ډلې سره د (۲۰۲۱ز) د مې میاشت پورې د بهرتللو تړون لاسلیک کړی دی.

اخلاقي پازه: په اوس‌مهالو بین‌المللي حقوقو کې دحقوقي اصل پر پازه (مسوولیت) سربیره، اخلاقي پازه هم مطرح ده چې د مفاهیمو ( Internation

(Responsibility) او (International obligation) په تعریف او د ( Moral obligation) بشپړېږي.[۱۲]

په بین‌المللي اړیکو کې د دې لازمي اصولو سره سم د افغانستان په وړاندې د امریکا د متحدو ایالتونو اخلاقي پازه مطرح کېږي.

څرګنده ده چې د افغانستان خونړۍ ناورین د بهرنۍ لاسوهنې او تیري معلول او پایله ده او د امریکا د متحدو ایالتونو دولت له هماغه پیل راهیسې د دې غمیزې د رامنځته کېدو یواځې ګنل کېږي او په وروستیو دوه لسیزو کې یې پخپل «کوږ یې نیسه مه یې تویوه » سیاستونو سره زموږ د هیواد خونړۍ ناورین د دوام لامل دی، چې په ټوله موده کې یې په پاکستان کې د ترهګرۍ جرړې خړوبوي او د افغانستان د مظلومو خلکو د قربانۍ په بیه یې ځانګې غیچي کوي .

امریکا افغانستان پخپل پوځي یرغل سره بام ته پورته او «د ناتو عمده متحد» په توګه یې تعریف کړ، په پرتګال کې (۲۰۱۰ز) غونډې او راوروسته غونډو کې یې تر (۲۰۲۴ز) کال پورې له افغانستان سره د هر اړخیزو مرستو ژمنه کړې ده.

خو په خواشینۍ سره چې اوس د حقوقي او اخلاقي ژمنو په بې پروایي سره، د امریکا ولسمشر د پوځی ځواکونو په ایستلو او د مرستو په کمولو سره یې د افغانستان دولت له سخت حالت سره مخ کړی دی او د هیواد د وسله والو ځواکونو د روحیې د کمزورۍ د طالبانو او د هغوي د ملاتړکونکو پاکستاني جنرالانو د روحیې د پیاوړتیا لامل شوی دی.

دا ډول لیدل کېږي چې د امریکا دولت د افغانستان په وړاندې خپل اخلاقي مسوولیت تر پښو لاندې کړی دی چې پایله یې د بیوزله او جګړې ځپلي هیواد تباه کول دي چې وروستۍ نیمه پېړۍ یې تپل شوې جګړه زغملې ده.

په دې توګه د امریکا د متحدو ایالتونو د ټاکنو درشل کې او داسې حال کې چې ولسمشر ټرامپ هڅه کړې چې د افغانستان موضوع د خپل ټاکنیز کمپاین د موخو لپاره وکاروي، د سولې بهیر د یوې ″بیړنۍ پروژې″ سطحې ته ټیټ کړی او دیموکرات رقیب یې هم د افغانستان موضوع له کمپاین سره بې علاقې نه وو، باید خلک، ملي بنسټونه، مدني ټولنې او روڼ اندي او د امریکا نظریه جوړونکي د خپل هیواد د بایللي حیثیت ته پاملرنه وکړي او د امریکا دولت د حقوقي او اخلاقي ژمنو د اجرا د افغانستان د مظلومو خلکو د ملي واکمنۍ حق او آزادۍ ارادې ته درناوي او پاملرنه وکړي.

د آګاه او د افغانستان لوړو ګټو ته د ژمنو افغانانو له نظره، د امریکا ټاکنو ته د دوه نوماندانو په وجود کې نه خلاصه کېږي، امریکا نه یوازې یو زبرځواک اوستره امپراتوري او په حال کې یو تمدن دی او د امریکا د خپلواکۍ اعلامیه د تاریخ د ځلانده پیر څرګندویه ده او د کوچني بوش او ټرامپ پر کارکړنو سربېره لکه د ابراهام لینکلن غوندې سترو شخصیتونو کارکړنو سره آشنا یاستو چې د هغه دا پخه خبره چې: «هیڅ ستونزه تر څو عادلانه حل نشي حل کېدونکې نه ده» کېدای شي د امریکا د واکمنو د کارونو په سرلیک کې راشي.

تر څو چې له زور ښودلو سره په مخه ښې، زموږ نړۍ د ″بې قانونه ځنګل″ له حالت نه ″ د ځنګل قانون″ پړاو ته او د نړۍ په مقیاس د مدنیت او قانون د واکمنۍ په لار لاړ شي او د هغې په رڼا کې د افغانستان غمځپلي خلک خپلو دې واقعي غوښتنو ته چې ډېرې ساده او انساني دي ورسېږي:

- د ژوند حق او د وژلو بندول یې
- د سولې لوېې لارې ته یې د هیواد د تېرېدو حق
- رښتینې او تلپاتې سوله
- د قانون د واکمنۍ ټینګښت
- د ملي واکمنۍ د حق عملي کول

نړۍ واله ټولنه او په ځانګړې توګه د امنیت شورا دایمي غړي د افغانستان د خلکو د دې روا غوښتنو په ملاتړ سره د خپلو هیوادونو او خلکو د امنیت ملاتړ ته پاملرنه کوي، پرته له دې د افغانستان د اور لوګي به په نیویارک، پاریس او... کې همدارنګه د کرونا له ویروس نه خطرناکه وبا د بهرنیو بې ګناه خلکو ژوند تباه او د دغه هیواد وګړي به د خپلو سیاستوالو او دولتي چارواکو د ګناهونو کفاره ورکړي.

**سرچینې**

---

۱ څو کاله مخکې چې د امریکا د ولسمشر په امرې په ننګرهار ولایت کې د بمونو مور وغورځوله، ښاغلي ټرامپ په ډېره سپین سترګۍ او بې شرمۍ وویل چې:« نه غواړم لس ملیونه ووژنم او افغانستان امکان لري د ځمکې له مخ ایسته شي »
مالومه ده چې ښاغلي ټرامپ پدې څرګندونو سره، د هغه هیواد د آزادۍ مجسمې ته شا او دملګروملتونو د سازمان منشور، د بین‌المللي حقوقو منل شویو معیارونو او د نړۍ د دیپلوماتیکو دودونو او نزاکتونو ترپښو لاندې کول دي، چې د سپینې ماڼۍ سرغنه لکه «شریر ښامار» (لویاتان چې په تورات کې یې یادونه شوې ده او هاپس هغه دخپل کتاب د نوم په توګه غوره کړی دی)، « هاپسي نړۍ- هاپز» لیکي:
- د هر څیز د لرلو حق
- هیڅ څیز غېرعادلانه او غېر اخلاقي ندي
- د ناسمو، عدالت او انصاف د مفاهیمو نشتون
چې هماغه: بې قانونه «قانون» او له «قانون» برتر قانون دی او د هغه وخت حکایت کوي چې: «قانون» د عدالت او انصاف په وړاندې د جګړې ډګر ته ورځي او داسې حالت رامنځ ته کېږي چې "غټ کبان، کوچني کبان وخوري" چې دقیقه مانا یې د ځنګل قانون ته تېرېدل او وحشت ته ستنېدل دي.
له همدې امله د حضرت مولانا د کلام په پیروۍ، «مست زنګي» د ده د حال ربښتینی ستایننوم ګنم او پخپله لیکنه کې یې په همدې نوم یادوم:
**«تیغ دادن درکف زنگی مست فتنه آرد در کف بد گوهران»**

[٢] د ملګرو ملتونوسازمان ۱۲۶۷ پرېکړه لیک په ۱۹۹۹ز کال کې صادر شو او د هغې پر اساس د طالبانو ۱۴۰ مشران د ملګرو ملتونو سازمان به تور نوملړ (لیست) کې راغلل.

البته د افغانستان د دولت به غوښتنه د طالبانو د یو شمېر مشرانو له په اسلام آباد کې د طالبانو پخوانی سفیر عبدالسلام ضعیف او د طالبانو پخوانی دبهرنیو چارو وزیر وکیل احمد متوکل او نور ۱۳ کسان د ملګرو ملتونو له تورنوملړ نه ایسته کړل شوو.
د ملګروملتونوسازمان د امنیت شورا ۱۳۸۶ پریکړه لیک چې د ۲۰۰۱ز کال د دسمبر په۲۰مه تصویب شو، په افغانستان کې د حالاتو په باب پین المللی لاسوند دی.
بي بي سي ۲۰۲۰ز کال د اکتوبر۲۵مه: د افغانستان د ملي امنیت ریاست اعلام کړه چې د غزني ولایت کې د دغه ادارې د ځانګړیو ځواکونو په عملیاتو کې، د ابومحسن المصری په نوم د القاعده شبکې لوړپوړی پازوال او دویم کس، د هند په نیمه وچه کې ددغه شبکې لوي قومندان ووژل شو.
د افغانستان د کورنیو چارو وزارت سرپرست مسعود اندرابي هم په یو ټویټ کې ویلي دي چې د ملي امنیت ریاست لخوا د القاعدې د یو مهم غړي وژل، «په افغانستان کې د ترهګرو ډلو سره د طالبانو د نږدې اړیکې او د افغانستان د حکومت او خلکو په وړاندې د ګډو تروریستي فعالیتونو ښکارندوی ده»

[٣] پرویز مشرف: « درخط آتش، ۳۱۲ او ۳۱۳ مخونه. دري ته ژباړن: سیدهارون یونسي

[٤] د بي بي سي او امریکا غږ له خبري سرویسونو له مخې: « بالاخره له میاشتو انتظار وروسته د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر دونالد ټرامپ، د افغانستان او د آسیا جنوب په هکله د امریکا ستراتیژي اعلام کړه. هغه وویل دخپلو لومړنیو غوښتنو په خلاف، له افغانستان نه د امریکایي پوځیانو له ایستلو سره مخالف دی ځکه چې نه غواړي جوړه شوې تشه، د یاغي ډلو د واکمنېدو لامل شي.
په داسې حال کې چې زیات کسان منتظر وو چې د امریکا ولسمشر به په افغانستان کې دهغه هیواد دپوځیانو دزیاتوالي لپاره یو شمېر اعلان کړي، خو هغه وویل چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر به د دغه هېواد(افغانستان) د حالاتو پر بنیاد وټاکل شي.
دونالد ټرامپ زیاته کړه چې له افغانستان نه په بیړه وتل به داسې تشه رامنځته کړي چې ترهګر، له هغو نه داعش او القاعده به یې ډکه کړي. هغه وویل: « څنګه چې پوهېږئ امریکا په ۲۰۱۱ز کال کې، به بیړه او تېروتنه له عراق نه بهر شوه. په پایله کې یې هغه لاسته راوړنې چې په سختۍ مو ترلاسه کړې وې په آسانه زموږ د ترهګرو دوښمنانو لاس کې ولوېدې.»

ښاغلي ټرامپ د افغانستان جګړه کې په بري ټينګار وکړ وېې ويل چې: « له دې وروسته به برى روښانه تعريف ولري. پر دوښمنانو بريد، د داعش له منځه وړل، پر القاعده ګوزار، پر افغانستان د طالبانو د لاسبري مخنيوى او همدارنګه پر متحدو ايالتونو د بريدونو پاى ته رسول ».
[5] دکتور خليل زاد د دوحې ښار کې د « يک» تلويزيون سره په مرکه کې چې دبين‌الافغاني خبرو د رسمي پيلېدو سره په يو وخت کې ترسر شوه په څرګنده وويل:« امريکا يو زبرځواک دى د راتګ او تګ لپاره اجازې ته اړتيا نلري».

[6] له ويکيپيديا نه اخيستنه: د ځنګل کتاب، د لنډو کيسو، او رومان ليکونکي انګليسي ليکوال او شاعر روديار کيپلينګ(۱۹۳۶-۱۸۶۵ز) د کيسو ټولګه ده. دى په ادبيانوکې د نوبل د جايزې ګټونکى دى.
د ځنګل کتاب به کيسو کې چې لومړى د( ۱۸۴۹-۱۸۹۳ ز) مجلو کې خپرې شوې، د فردي امنيت، کورنيو او ټولنو د امنيت لپاره قوانين وړاندې شوي دي او په زړه پورې ټکې چې پدې هکله شتون لري، د انسان د تمدن په پرتله د ځنګل قانون زيات متمدن دى چې د کيپلينګ لخوا وړاندى کېږي. کيپلينګ په دې کيسه کې د هند د ځنګل په باب هر څه ښيي او له همدې امله لوستونکي هغه يوه سمبوليکه اخلاقي کيسه ګڼي.

[7] د جواد طباطبايي د توماس هابز سياسي اندونو کتاب او ويکيپيديا نه اخځ: د توماس هابز اثر د لوياتان کتاب څلور برخي دى: «انسان» ،« دولت»، «مسيحي دولت» او «د تورتمنو سيمه» د مسيحي دولت خلاف. هابز پخپل کتاب کې ښيي چې له مرګ نه ډار څنګه د انسانانو ترمنځ د ټولنيزو قراردادونو لامل کېږي. دې کتاب د لوېديز پر فلسفې ډېره مهمه اغېزه کړې ده او د سياسي فلسفې په برخه کې يې د ټولنيز قرارداد ډېرې نظرېې رامنځته کړې دي. د هابز له انده طبيعي حالت، هغه حالت دى چې په هغې کې هيڅ قدرت واکمن او کوم قانون شتون نلري او هر څوک د هرڅه حق لري.
لوياتان يوه ډېره غټه ډارونکې وحشي او بې جوړې بلا ده چې د ايوب د کتاب په يوڅلويښتم باب کې، تورات کې راغلي ده.

[8] «د امريکا بهرنى سياست، تروريزم، پوځيتوب» امريکايي نامتو فيلسوف او ژبه پېژندونکى نوام چامسکي، په ديپلوماتيک لوموند کې خپره شوې مقاله.

[9] د ۲۰۱۴ ز کال په وروستيو کې «د امريکا د متحدو ايالتونو او د افغانستان اسلامی جمهوريت تر منځ د ستراتيژيکې همکاري تړون» په دوام او اړوند چې د بارک اوباما او حامد کرزي د دواړو

هیوادونو د ولسمشرانو لاسلیک شوی، د دواړو هیوادونو ترمنځ امنیتي تړون لاسلیک شو چې په (۲۶) ماده کې یې کښل شوي دی:
«دا تړون د ۲۰۱۵ ز کال د جنوري په لومړۍ له هغې وروسته چې دواړو خواوې له دیپلوماتیکو لارو د خپلو کورنیو قانون جوړونو شرایطو د بشپړېدو یوبل ته خبر ورکړي نافذ کېږي. دا تړون د ۲۰۲۴ زکال تر پای او تر هغې ور اخوا نافذ دی، مگر په هغه صورت کې چې د دې مادې د څلورم بند په حکم لغو شي.»

[۱۰] حسن- پستا- د بین‌المللي اړیکو فرهنگ – ۲۴۸ مخ

[۱۱] حسن- پستا- د بین‌المللي اړیکو فرهنگ – ۲۴۸ مخ

[۱۲] په بین‌المللي حقوقو او بین المللی اړیکو کې د اخلاقو د بحث گډول مو مقصد ندی. موخه مو هغه غیر لازمي اصول دي چې د هغو په پام کې نه نیولوسره په نړۍ کې د ځنگل قانون مسلط کېږي.

# دويم څپرکی

## د قطر د " ترون" حقوقي ماهیت

پدې ساده دلیل چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د دایمي غړي د امریکا متحدو ایالتونو د دولت اختیارلرونکي استازي په توګه له یوې یاغي ډلې او د هغې له استازي سره چې د دغه سازمان او د ده د هیواد د بهرنیو چارو وزارت په تور نوملړ کې شامل دی، "ترون" لاسلیک کوي. د حقوقو د یو شاګرد په توګه زما لپاره روښانه او د پوهیدو وړ نه ده چې په قطر کې لاسلیک شوی «لاسوند» د یو حقوقي لاسوند په توګه تعریف کړم او په همدې دلیل مې په سرلیک او ټوله لیکنه کې په ګیمه کې نیولي دی:

د هالیندي نامتو حقوقپوه هوګو سیوس (۱۶۲۵ز)[۱] د «جګړه اوسوله» د معروف کتاب له لیکلو راهیسې چې تر اوسه د بین‌المللي حقوقو د اعتبارلرونکې سرچینې ګڼل کېږي او د وستفالیا ذ ترون (۱۶۴۷ز)[۲] او د معاصرو بین‌المللي حقوقو پورې چې په عمده ډول له دویمې نړیوالې جګړې او ملګرو ملتونو سازمان له جوړېدو وروسته د منشور او له هغې نه د راپیدا شویو بین‌المللي میثاقونو او په ځانګړې توګه د ویانا کنوانسیون (۱۹۶۹ز)[۳] د دغه راز "لاسوند" لاسلیک چې له ټولو منل شویو بین‌المللي حقوقي نورمونو سره ټوپیر ولري، مخینه نلري او هغه هم د ملګرو ملتونو سازمان د یو بنسټ ایښودونکي او د دغه سازمان د امنیت شورا د دایمي غړي لخوا چې د منشور او بین‌المللي ژمنو د حکمونو مراعت او څارل ور په غاړه دي.

دا چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ولې تایید کړ لامل یې د دولتونو په وړاندې د دغه شورا دوه ګوني چلند او د ترهګرۍ دوه ګوني تعریف او دوه ډوله افاده ده چې د ۲۰۰۱ز د سپتمبر یولولسمې نه وروسته د امنیت شورا له پریکړه لیک سره مخالفت لري.[٤]

د ملتونو ترمنځ د آمره قواعدو سکالو ( موضوع) د بین‌المللي حقونو مهمه مسأله ده چې په وین کې ( ۱۹۶۹ز) د کنوانسیون له لاسلیک نه وروسته د حقوقپوهانو د زیاتې پاملرنې او بحث سکالو شوي ده. په ۵۳ ماده کې یې کښل شوي دي:

«هر تړون چې چې د لاسلیک په مهال د ملتونو ترمنځ دعامو حقوقو پر یوې آمره قاعدې باندې په تعرض کې وي، ( کان لم یکن[داسې نه وه]) به فرض شي. د دې موجود تړون د ترتیباتو له امله، د بین‌الملل دعامو حقوقو آمره قاعده هغه مقررات دي چې په ټوله کې د دولتونو بین‌المللي ټولنې منلي دي او دهغو قوانیو په توګه چې په مطلق ډول استثنا منونکي ندي او یوازې د بین الملل دعامو حقوقو د بلې قاعدې په وسیله چې د همدغه ځانګړتیا لرونکي د بدلون وړ دی، په رسمیت پېژندل کېږي.»

هغه ”لاسوند” چې په قطر کې د امریکا د متحدو ایالتونو دولت د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي ښاغلي داکتر خلیل‌زاد له خوا د طالبانو د خبرو د ډلګۍ مشر ښاغلي ملا برادر سره لاسلیک او یو بل ته ورکړ شو، زیات تناقضات او ابهامات لري، چې په افغانستان کې یې د سولې راوستلو په اړوند زیات شکونه رامنځته کړي دي.

شک نشته چې دا لاسوند د امریکا د ملي ګټو لپاره د طالبانوسره د امریکا د نږدېوالي او د اړیکو د تجدید او ”دوستۍ” په موخه ترتیب شوی او د ښاغلي ټرامپ او طالبانو د مشرتابه دواړو خواو لپاره ځانګړی اغېز لري.

دا ”تړون”، «له طالبانو سره د امریکا د سولې هوکړه لیک» تر سرلیک لاندې

لاسلیک شوی، خو په عمل کې یې هغه موارد ترسره کړي دي چې د افغانستان دولت په انحصاري واک کې دي (د کډوالو او د پاسپورټ ورکولو مسألو یادونه...) او «له هوکړه لیک نه وروسته، پر نوي حکومت» ټینګار یې په حقیقت کې د موجود حکومت «غیابي» جنازه کړې ده.

تر دې زیاته خندونکې د اده چې «دریم غایب» (د افغانستان دولت) د هغې مراعت کولو ته اړباسي، لکه څنګه چې په ګواښولو او پټکو سره یې له پنځه زرو نه زیات طالب بندیان خوشي کړل.

له شک پرته د امریکا دغه راز « آمر ډوله » چلند له ټولو حقوقي او ان فقهي موازینو سره مخالف دی او د امریکا دولت ته د «اشغالګر» تعریف ورکوي.

د دې لاسوند تر ټولو زیات خطر یې؛ پټه او محرم برخه ده چې تېره اوونۍ د امریکا په پارلمان کې د دغه پارلمان د شلو غړیو لخوا مطرح شوه او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي پامپیو هم د هغه هیواد له یو تلویزیون سره د مرکې په ترڅ کې پرې منښته وکړه.

ویل کېږي چې د دواړو خواو په هوکړه لیک کې پټه برخه، د امریکا د ځانګړیو پوځي او استخباراتي قطعاتو د شتون لپاره ده.

البته زموږ په یاد دي او کتابونو کې مو لوستي دي چې د پاکستان او افغانستان د دولتونو تر منځ د ژنیو د هوکړه لیک (۱۹۸۸ز د می میاشت) له لاسلیک سره په یو وخت کې، د امریکا او شوروی اتحاد د بهرنیو چارو وزیران چې د دغه هوکړه لیک ضمانت کوونکی وو، په بله خونه کې په پټه د مثبت تناظر (مثبتې سمیټري) هوکړه لیک په خپلو منځو کې لاسلیک کړ او کله چې په شوروی اتحاد کې د (۱۹۹۱ز اګست) له کودتا وروسته له سره بیا د منفي سمیټري (منفي تناظر) هوکړه د همدغه کال په سپتمبر کې لاسلیک او د افغانستان دولت ته یې د وسلو او مهماتو لېږل بند

کړل،[5] چې له هماغه نېټې نه د وخت د دولت د ژوند معکوس شمېرل پیل شو او د (۱۹۹۱ز په دسمبر) کې یې ښاغلی برهان الدین رباني مسکو ته وباله او د ارګ کلي یې ورته وسپارله[6] او ورپسې بغاوتونه او جنجالونه پیل شوو چې په پایله کې دولت نسکور شو چې د هغې دهشتناکه پایلې مو ولیدي.

د امریکا د پوځي ځواکونو د وتلو څرنګوالی او پایلو یې، په امریکا کې هم جدي اندېښنې رامنځته کړې دي؛ په کابل کې د امریکا د متحدو ایالتونو پخوانی سفیر راین کراکر، په واشنګتن کې د بین‌المللي اوستراتیژیکو څېړنو مرکز کې په یوه غونډه کې چې په مجازي توګه جوړه شوې وه وویل:«موږ په دې بیړني وتلو سره خپل ملي امنیت ته سخت زیان رسوو. په همدې وتلو خبرې پیل شوې دي. اتفاقاً دا وتل د تسلیمېدو په توګه دي، نه د سولې په باب.»

ښاغلي کراکر د اوبایمې لسیزې جګړو او د طالبانو د ډلې څرګندېدو ته په اشاره کې خبرداری ورکړ ویې ویل چې په افغانستان کې د طالبانو د بیاځلي احتمالي واک ته رسیدلو نه وروسته پایلو له امله به د امریکا متحد ایالتونه ملامت وي.

په دې ناسته کې چې «په افغانستان کې د سمې پایلې لپاره د شرایطو ټاکل» تر سرلیک لاند شوې وه، دغه راز د امریکا متحدو ایالتونو د مرکزي څارګرۍ د ادارې پخوانې رئیس او افغانستان کې د بین‌المللی ځواکونو بولندوی څلورستوریز جنرال دیوید پیټریس، له افغانستان نه د اپریل میاشتې تر وروستۍ نېټې پورې د امریکایي سرتېر بشپړ وتل «ناورین زېږوونکې» وبلل او ویې ویل: «په اوس حال کې د اپریل تر پایه نه یوازې د خپلو ځواکونو د بشپړو وتلو د پروګرام په اړوند اندېښنه لرم بلکې زما په اند دا به په باالقوه ډول ناورین زیږوونکې وي.

... فکر کوم چې طالبان یوازې د دوه سترو موخو لپاره خبرې کوي: له افغانستان نه د امریکایي ځواکونو وتل او د افغانستان له زندانونو نه د دوی د بندیانو آزادېدل... په سلګونو آزاد شوي طالب بندیان، بیا ځلي د جګړو په میدانونو کې نیول شوي

دي، دا د دې ښکارندوی دي چې طالبانو د جګړې میدان ته د بیرته نه ستنیدو په هکله خپلې ژمنې ته درناوي ندې کړی.»[7]

سرچینې

---

[1] هوګو ګروسیوس هالنډي فیلسوف، حقوقپوه، د سیاسي علومو ستره پوه، د شپاړسمې پېړۍ شاعر او نماشنامه لیکونکی دی. د بین‌المللي حقوقو په برخه کېدقطر « د جګړې او سولې حقوق» د نامتو کتاب لیکوال ګروسیوس نظریات له زیات شهرت برخمن دي او هغه د بین‌المللي حقوقو د پلار په نوم یادېږي. په بین المللي حقوقو کې د ګروسیوس د نظرېې بنسټ پر طبیعي حقوقو ولاړ دی.
د ګروسیوس «د جګړې او سولې حقوق» کتاب د داکتر حسین پیران په دري ژباړل شوی دی.

[2] د ویستفالي سوله( د وستفالي پیمان): دا پیمان په اروپا کې د دیرش کلنو مذهبي جګړو(۱۶۱۸-۱۶۴۸ز) له پای ته رسیدو وروسته د جرمني په مونستر ښار کې د اروپایي هیوادونو ترمنځ(له بریتانیا او لهستان پرته) له رونسانس نه وروسته وخت (۱۶۴۸ز) کې لاسلیک شو، چې وروسته بیا د هیوادو ترمنځ سترو ورته تړونونو ته ورسید او په پاي کې په بین‌المللي قانون تمام شو، چې د ملتونو ټولنه او بیا د ملګرو ملتونو د سازمان بیلګه او بنیاد شو.

[3] «د تړونونو د حقوقو» رسمي او بین‌المللي تدوین یې له (۱۹۴۹ز) راهیسې د ملګرو ملتونو سازمان د بین‌المللي حقونو کمیسیون د کار دستورکې ځای ونیو او په پاي کې (د۱۹۶۹ز د می په ۲۲مه)، د ۱۱۰ هیوادونو د کتونکو او څو بین‌المللي تخصصي سازمانونو او څو بین الدولي سازمانونو، په شتون کې د تړونونو د حقوقو په باب د ویانا کنوانسیون تصویب شو. د ( ۱۹۶۹ز د می ۲۳) نېټې نه د هیوادونو د یوځای کیدو اولاسلیک لپاره ولېږل شو. ( د ملګرو ملتونوسازمان له رسمي سایت نه نقل شوی)

[4] د فارسي بي بي سي له سایت نه نقل: د (۲۰۲۰ ز د مارچ یوولسم) د ملګرو ملتونوسازمان د امنیت شورا په پریکړه لیک کې د طالبانو او امریکا د سولې د هوکړه لیک او د امریکا او د افغانستان دولت د ګډې اعلامیې ملاتړ وکړ.

دا پریکړه لیک د امریکا لخوا په دې شورا کې مطرح شو او له اړیېچ (مخالفت) پرته تصویب شوه. پریکړه لیک ټینګار کوی چې دا سازمان د طالبانو اسلامی امارت په رسمیت نه پېژني او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د اسلامي امارت د راستنېدو ملاتړ نه کوي. د ملګرو ملتونوسازمان د امنیت شورا په پریکړه لیک کې راغلي دي چې د سولې د خبرو اترو په بهیر کې باید مختلفې سیاسي ډلې، مدني فعالان او په هغو کې ښځې ونډه ولري او ددغه هیواد د وګړو په ځانګړې توګه دښځو حقونو د ساتلو لپاره هڅه وشي.

همداراز په دې لاسوند کې د تاو تریخوالي د کمښت د بهیر چې په افغانستان روان دی هرکلی وشو او له دواړو خواو غوښتل شوي چې دغه بهیر ته دوام ورکړي چې په دې هیواد کې دایمي اوربند وشي. له امریکا سره د طالبانو دسولې د هوکړه لیک له لاسلیک سره په یو مهال، کابل او واشنګټن هم ګډه اعلامیه خپره کړې وه چې په هغې کې د ″ترهګرو″ ډلو سره د مقابلې لپاره د دواړو خواو په همکارۍ ټینګار شوی دی.

[5] عبدالوکیل - ازپادشاهی مطلقه الی سقوط ج د ا- لومړی ټوک -۵۵۶ او۵۵۷ مخونه
- دا موضوع د « فراګیری درس تاریخی از شکست قرارداد ژنیو» په دې قلم روښانه شوې ده چې په ګوګل او فیسبوک کې د لاسرسي وړ ده.

[6] فاضل - فضل الرحمن- سفر هیات مجاهدین به مسکو. فیض الرحمن - وثیق- ددغه سفر یادښتونه خپاره کړي دي

[7] د (۲۰۲۱ز د فبروري۱۲) دبي بي سي، د امریکا غږ خبري سایتونو او ...«د واشنګټن د بین‌المللي او ستراتیژیکو څېړنو مرکز» ته د امریکا دپخوانیو ملکي او پوځي مقاماتو د څېړنو رپوټ خپور کړ چې ګډونوال او په هغو کې جنرال پطرویوس له وخت نه مخکې او دمی میاشت کې له وتلو څخه خپله اندېښنه څرګنده کړې ده.

# دريم څپرکی

## د قطر د "تړون" پټه برخه

هغه څه چې د "قطرلاسوند" د پټې برخې په باب د امریکايي لوري د نیتونو په اړوند شک او تردید زیاتوي، په هوکړه لیک کې د پټې برخې له شتون نه د پازوالانو (مسوولانو) انکار دی. په داسې حال کې چې د «پټې برخې» په هکله خبرې اوس دومره ښکاره شوې دي چې ان د امریکا د دولت لوړپوړو چارواکو هم د هغې شتون، رسوا کړی دی لکه څرنګه چې جان بولټن د خاطراتو په کتاب کې د هغې په شتون منښته کړې او ویلي دي چې، له منځپانګې نه يې «خبر نلرم».

مېرمن لینز چیني د جمهوریت غوښتونکو ګوند غړې د امریکا په پارلمان کې د جمهوریت غوښتونکو ګوند له نورو شل غړیو سره کله چې د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی پامپیو څخه د هوکړه لیک د پټو مطالبو په باب پوښتنه کوي منکرېږي او منفي ځواب ورکوي.

د امریکا په کانګرس کې هم د هغه هیواد دفاع وزیر او لوي درستیز په هوکړه لیک کې د پټو برخو په هکله د پوښتنو په اړوند، بې‌خبري وښودله. په داسې حال کې چې مېرمن لینزچیني وايي:«د ترامپ ادارې له طالبانو سره د معاملې په باب دروغ ویلي دي، د لاسوندونو منځپانګه (کلاسیفاید) د هغه څه په خلاف چې پامپیو ویلي دي، پټ لاسوندونه لري.» [1]

البته د کانګرس او پارلمان د فشار لاندې، د بهرنیو چارو وزیر منښتې ته اړ وځي او

د هوکړه لیک د ”ضمیمو“ او د هغې د طرحې د شتون په اړه د امریکا قانون جوړونکو ارگانونو ته خبرې کوي. ښاغلي خلیل‌زاد هم له طلوع او شمشاد تلویزیونو سره په مرکو کې دتخنیکې برخو لرونکو ”ضمیمو“ خبرې وکړې او وې غوښتل چې هغه بې ارزښته وښايي.

د دغه راز تړونونو په باب معمول نړیوال دود دادی چې په اصل لاسلیک شوي لاسوند کې د ”ضمیمو“ یادونه کېږي او له دې پرته دوه هوکړه لیکونو، یوه ښکاره او بل پټ (اصلي) گڼل کېږي.

ښايي همدا اخیستنه لامل شوی چې د امریکا پارلمان د جمهوریت غوښتونکو استازی وايي:«دا معامله، طالبانو ته د افغانستان سپارل دومره بد دي چې هر څوک یې تصور نشي کولای، معامله دومره بده ده چې د امریکا اداره کوښښ کوي، د هغې اساسي برخې له امریکایانو پټې کړي.»[۲]

کاندولیزارایس د امریکا د ملي امنیت پخوانۍ سلاکاره اود بهرنیوچارو وزیرې، دا هوکړه لیک نیمگړی بللی او د هغې مشروط والی تر پوښتنې لاندې راوستی دی. د دې په وینا: «امریکا طالبانو سره زیاتې ژمنې کړې دي؛ خو کم څه یې تر لاسه کړي دي.»[۳]

څرگنده ده چې د هوکړه لیک پټه برخه باید د طالبانو د راتلونکې موقعیت د تعریف او په افغانستان او سیمه کې د امریکا د نقش د دوام د تضمین په باب د جدي موادو لرونکې وي. آگاهان باور لري چې د ځانگړیو پوځي قطعاتو او استخباراتي ډلو شتون له طالبانو سره په پټ توافق کې شامل دی.

د پورتنیو ټکو په پام کې نیولو سره، بې‌دلیله نه وه چې د ټایم مجلې د تېرزیږدیزکال د سپتمبر په لومړۍ‌اوونۍ کې رسوا کړه چې ښاغلی پامپیو نه غواړي چې دا تړون لاسیک کړي، لکه څرنگه چې د طالبانو له ټینگار او تر وروستیو ساعتونو پورې د پاکستان

د امېدوارۍ باوجود، د بهرنیو چارو وزیر د تړون لاسلیک خلیل‌زاد ته پرېښود.

یو شمېر ژورنالیستانو د ښاغلي پامپیو لاسیک نه کول د ولسمشرۍ راتلونکي دورې لپاره د ده د نوماندېدو د پلان اړوند بللی دی.

پر سیمه یزو او نړیوالو جیوپولوتیکوسیالانو د "تړون" د پټې برخې پایلو اغېز:

افغانستان د سیمه یزو او نړیوالو لوبغاړو د جیوپولیتیک کړکېچ او قربانۍ مرکزدی. د جګړې او زموږ د خونړۍ غمیزې دوام،د همدې سیالۍ معلول او محصول دی. له همدې امله د افغانستان د سولې په پروژه کې هم دغه رقیب قدرتونه لاس او اغېزلري.

د سترو او نړۍ والو رقیبانو د امریکا متحد ایالتونه، چین او روسیې سیالۍ او همدارنګه په سیمه یزه کچه، د پاکستان، هند، ایران، سعودي او د خلیج عربي هیوادونه د"سترولوبو" په نوي پیر کې د افغانستان تاریخي برخلیکونه ټاکي.

په داسې حال کې چې پاکستان د طالبانو داصلي ملاتړ او پر دوی د ډېر اغېزمن دولت په توګه، له دې هوکړې نه تر ټولو زیات امتیاز تر لاسه کړی دی، کولای شوو د افغانستان د حالاتو د راتلونکو پرمختیاو په وړاندې د هند موقف له سیمې ور اخوا ان د نړیوالو اغېزو لرونکي ستر قدرت په توګه اټکل کړو.

د قاسم سلیماني له وژلو وروسته، له امریکا سره د ایران اړیکې په ډېرو بدو شرایطو کې دي، د ایران موقف په سیمه او افغانستان کې د "ناانډوله جګړې" او نیابتي جګړو شدت او دوام دی لکه څرنګه چې په ښکاره یې ویلي دي: « له سیمې نه دا مریکایانو له وتلو نه په لږ څه به بسنه ونکړو.»

په دې توګه ایران به د ټولو پراخه نیابتي عواملو څخه چې په واک کې یې لري، په

افغانستان کې د امریکا پر خوړه ګوته د زور اچولو لپاره ګټه وکړي. لکه څرنګه چې په تر ټولو نوي پړاو کې یې د "موازي دولت" په اعلان او له هغوی نه باج غوښتنه د فشار انډول درونده کړی او خوښ دی چې روسیې هم د "قطر تړون" نه وروسته افغانستان ته خپله پاملرنه زیاته کړې ده او د ښاغلي کابلوف په وینا ان چمتو ده چې « خپل پوځي ځواکونه ورولېږي.»

په دې وروستیو وختونو کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر د طلوع تلویزیون کې له لطف الله نجفي زاده سره په مرکه کې «د فاطمیونو له لښکر نه غوره ګټنه» یاده[٤] او وروسته په تهران کې د ملا برادر په مشرتابه د طالبانو د پلاوي کوربه وو.

په داسې حالاتو کې چې د امریکا نوی ولسمشر په قطر کې پر تللي لارې د «بیا کتنې» خبرې کوي، نامتو امریکایي افغانستان پېژندونکی بارنت روبین د امریکا د دولت په سیاست او له سیمه یزو قدرتونو سره په همکارۍ کې د «تجاهل» د له منځه وړلو یادونه کوي: «د منتخب ولسمشر جوبایډن دولت د دې وخت لري چې د تجاهل له دغه چلند نه وړاندې لاړ شي. په افغانستان کې د امریکا د متحدو ایالتونو ګټې له ترهګرۍ سره له مبارزې وراخوا دي. چین، هند، ایران، پاکستان او روسیه- څلور اټومي طاقتونه، د آسیا دوه ستر اقتصاده او د امریکا یو ځیرک دوښمن- ټول د افغانستان په راتلونکې کې شریک دي. د افغانستان د سولې د بهیر په اډانه کې له دغو هیوادونو سره د امریکا د چلند ډول،له دغو هیوادو له هریو سره په اړیکو او په آسیا کې د امریکا د متحدو ایالتونو په موقعیت ژورې اغېزې لري.»[٥]

## سرچینې

[1] د ۲۰۱۹ ز د دسمبر ۱۲ نېټه: د امریکا د پارلمان د بهرنیو اړیکو د کمېټې مشرالیوت انگل، زلمی خلیل زاد چې د امریکا لخوا له طالبانو سره د خبرو مشري یې کوله، د دغه کمېټې ښکاره غونډې ته د گواهۍ لپاره ور غوښتلی دی.
د ښاغلي انگل په وینا کې د افغانستان په جگړه کې له ۲۰۰۰زیاتو امریکایي سرتېرو وژلو ته په اشارې سره چې " د سولې د بهیر په باب د دولت له مالومات پټونې " یې صبر تمام شوی او د دغه اوږدې جگړې د پای ته رسولو وخت رارسیدلی دی.
۲۰۱۹ ز د اگست ۳۱- بي بي سي، واشنگټن پوست ورځپاڼې لوړپوړو امریکایي چارواکو د افغانستان د سولې په بهیر کې د امریکا د ملی امنیت سلاکار، جان بولتون د څنډې ته کولو خبر ورکړی دی.
دې ورځپاڼې د جمعې ورځې (د وړي اتم) سرمقاله کې لیکلي دې ته په پاملرنې سره چې د امریکا د ولسمشر دونالد ټرامپ، متحدان د دې میاشتې په لومړیو کې د افغانستان د راتلونکې لپاره یوې مهمې ناستې ته چمتو کېدل خو د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولتون د بلل شویو په نوملړ کې نه وو.
دې ورځپاڼې لیکلي په بل مورد کې ښاغلي بولتون د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړه لیک د مسودې یو کاپي غوښتې وه. خو د افغانستان د سولې لپاره د امریکا استازي زلمي خلیل زاد دهغه غوښتنه رد کړې وه او ویلي یې ووچې ښاغلی بولتون کولای شي د هوکړه لیک متن د یو لوړ پوړي امریکایي په حضور کې ولولي خو د هوکړه لیک نسخه ورنکړل شي.
یو امریکایي چارواکي واشنگټن پوست ویلي چې دې چلند ښاغلی بولتون غوسه کړ، خو یو بل چارواکي دا موضوع کم ارزښته بولی او وایي چې بالاخره دا مسوده د امریکا د ملی امنیت شورا ته ولېږل شوه. ۲۰۱۸ زد دسمبر۲۲

[2] سناتور لینزي گراهام، د امریکا دجمهوریت غوښتونکې گوند پېژندل شوې څېره له افغانستان نه د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره د ډونالد ټرامپ د پریکړې په غبرگون کې د اندېښنې په څرگندولو سره دغه پرېکړه د امریکا د گټو او امنیت لپاره زیانمنه بللې ده.
دا با نفوذ امریکایي سناتور په دغه اړوند د امریکا د سنا د سملاسي غونډې غوښتنه کړې ده. ښاغلي گراهام په افغانستان کې د اسلامي دولت (داعش) په نوم ډلې شتون ته په اشاره کې ویلي « فکر نه کوي چې څوک جرات وکړي او ووایي چې دا ډله په افغانستان کې ماته شوې ده.»

هغه باورلري چې د داعش ډله په افغانستان کې د تېر کال په پرتله ″زیاته غښتلې″ شوې ده او «ما ته څرګنده ده چې هغوی د امریکا دننه د برید پلان لري.»
دې امریکایي سناتور ویلي دي چې په افغانستان کې د امریکا د پوځي قدرت کمښت به دغه هیواد ″ړنګ″ کړي او د امریکا د ګټو ساتنه به له « زیاتو قربانیو سره مخ شي.»
د جنرال جوزف دانفورد په مشرۍ د امریکا د کانګرس رپوټ ورکوونکې ډله ټینګار کوي چې باید بریالیتوب په دواړو لاسونو طالب جنګیالیو ته ونه سپارو، ځکه چې د افغانستان له دولت سره په خبرو کې هیڅ پرمختګ نلري او کېدای شي وتل د نظام په ړنګېدلو تمام شي.

[٣] کاندو لیزا رایس او د قطر پټه برخه

[٤] https://youtu.be/v.v-c

[٥] روبین - بارنت څېړونکی او نامتوامریکایي افغانستان پېژندونکی. د مقالې سرلیک: «له افغانستان نه د وتلو لپاره یوازې یوه لار شته دی، له سیمه یزو قدرتونو سره همکاري» دري ته ژباړه: فاطمه فرامرز

## څلورم څپرکی

## د "قطر تړون" اړپېچ پاروونکې برخې

په دې برخه کې د "قطرتړون" نورو برخو ته چې اړپېچ پاروونکې دې او د سولې لپاره د خلکو هيلې "ترکستان" ته بيايي تم کېږو:

لومړی- دولت ړنګول او د موجود دولت اغېز کمزوري کول:

"د قطرد سولې پروژې" له هماغه پيل نه، پراخه هڅه وشوه چې د افغانستان دولت ځنډې ته راښکل شي او په دغه لار کې په درې لورو کې پراخه اقدامات ترسره شول:

١. تر مسکو، قطر او پاکستان په اصطلاح سياستوال ځغلول او د طالبانو له استازو سره خبرې.
٢. . د لنډ مهالي دولت د جوړېدو په طرح کې چې اصلي طراح يې د پاکستان (GHQ او ISI ) دي لکه چې عمران خان پرله پسې په هغه ټينګار کاوه.[١]
٣. عمران خان پرله پسې به هغه ټينګار کاوه.
په خواشينۍ سره دغه په اصطلاح سياسيون په ډېره خام فکرۍ او له پايلو يې له فکر کولو پرته، د دغه افغانستان ړنګوونکې طرحې په ډنډورچيانو او او تبليوونکو بدل شوي دی.
٤. د قطر په خبرو کې: د ٢٠١٨ز کال په وروستيو کې په قطر کې د خبرو دهماغه لومړي پير له پيله ترپايه او د "تړون" د لاسليک تر وخته ښاغلي

خلیل‌زاد هڅه وکړه چې د افغانستان دولت په څنډه کې وي او ان دا چې په رسنیو کې په ډاګه شوه، چې د دولت مشرانو ته دلاسوند د طرحې دسپارلو نه ډډه وشوه.

**د دولت ړنګولو د بهیر ناوړه پایلې:**

۱. د جګړې د یواصلي اړخ په توګه د موجوده دولت له پامه غورځول د کړکېچونو د حل پوهه له ټولو نړیوالو موازینو او تجربو سره توپیر لري.
۲. د سولې د بهیرعملي کول یو قوي میکانیزم ته اړه لري او په جاري حالاتو کې یوازنی میکانیزم همدا د افغانستان موجود دولت دی. سوله یوازې د تړون په لاسلیک کې نه خلاصه کېږي، له اوربند د زندانیانو ترخوشي کېدواو په ټولنه کې د طالبانو د جذب او د هغوی د وسله والو کسانو برخلیک او د کډوالو پیچلي مسایل او... ټول یوازې او یوازې د یو قوي میکانیزم په وجود کې چې هماغه دولت دی، تحقق موندلی شي.
۳. په دې توګه لکه لمر روښانه ده چې د دولت نقش یو حیاتي ضرورت دی او د کسانو او سیاسي ډلګیو په محبت او کینې پورې اړه نلري.
٤. د جګړې د یو اصلي اړخ په توګه د دولت د نقش له پامه غورځول، د طالبانو د نارښتینې غټ لیدنې، کاذبه اشتها پاروي او لکه څرنګه چې په عمل کې یې ګورو چې له "سوبې" او بري د دولتې قدرت تر بشپړ لاس ته راوړلو د کم څه فکر نه کوي.
٥. د دولت کمزوري کول چې نسکورېدو ته یې لاره برابروي، افغانستان د سولې په ځای د نوییمې لسیزې ډاروونکو ګډوډیو ته راکاږي.
٦. د دولت کمزوري کول او نسکوریدل د پاکستان د تاریخي پلان عملي کول او دهغه دستراتیژیکې عمق په پلندۍ بدلیدل دي.
٧. د دې طرحې تبلیغول چې طالبان له دولت سره مستقیمو خبرو ته حاضر ندي اوغواړي له هغو تنظیمونو سره چې جنګېدلي دي، خبرې وکړي، د پاکستان شیطانې موخه ده چې غواړي په یوغشي څو موخې تر لاسه کړي.

د پاکستان استخباراتو له وروستیو څلویښت کلونو نه په زیاته موده کې د جهادي تنظیمونو او طالبانو په وجود کې پراخه پانګونه کړې ده او اوس چې یې له سپینې ماڼۍ نه په انګریزي ځیرکتیا مساعد شمال احساس کړی، غواړي د تنظیمونو او طالبانو له ټولګې نه په خپله ګټه د دولتي قدرت تر نیولو پورې د پراخه نفوذ خاوند شي. په زړه پورې ده چې زیات شمېر لوړ پوړي دولتي چارواکي، اوس د پاکستان او طالبانو د سلاکارانو او ډنډورچیانو په نقش کې فعال دي.

له بده مرغه د عقل د واکمنۍ نشتون او عقلي ځنډ زموږ د تاریخي ستونزې په توګه، د دې لامل کېږي چې موږ و نشو کولای په د تاریخ په حساسو پړاوونو کې د افغانستان د لوړو مصلحتونواصلي کړۍ وپېژنو او هغه ونیسو.

د تاریخ په اوږدو او روانو حالاتو کې، هماغه راز موږ ستر ملي مسایل په شخصي محبت او کینې کې خلاصه کوو او دا له یو کس سره د مخالفت پاریدل (هیجان) او یا له یوکس سره دوستي زموږ د ناسم تشخیص اصلي عامل ګرځي او په خاصه توګه په داسې حال کې چې افغانستان د پراخه او پیچلیو استخباراتي لوبو هدف دی، موږ باید له بل هر وخت نه مخکې د خپل وطن او غمجنو خلکو د مصلحت په اړه په سیاسي عقلانیت فکر وکړو.

**دویم- د" قطر تړون" کې د اسلامي امارت بحث:**

د "اسلامي امارت" بحث په سمه معنا (اسلامي اسارت)، د قطر په لاسوند کې په داسې دول مطرح شوی چې موږ ته یې دوه شکونه پیدا کړي دي:

- له مثبت لیده: په دې حالت کې باید د دې سند د امریکایي مسوده لیکونکو پر حماقت باور ولرو چې څرنګه د نړۍ د سترې پوځي امپراتورۍ په توګه، یوې یاغي ډلې ته چې پخپله یې د هغې په جوړولو کې نقش درلود، داسې تاریخي امتیاز منل

کېږي او په تکرار لیکي: «د طالبانو اسلامی امارت چې امریکا هغه د یو دولت په توګه په رسمیت نه پېژني» !!! فاعتبرو یا اوالابصار!

”د طالبانو اسلامی امارت“ د پیدایښت له پیله تر اوسه له ځانه جوړکړي اسلامي شریعت دحکم پر بنیاد، د دولتونو په رسمیت پېژندلو ته هیڅ اړه نلري او د جوړېدو له هماغه لومړۍ ورځ، له طالباني اصولو سره سم، د نړۍ ټول مسلمانان مجبور دي چې د اسلامي امارت ”امیر“ ته بیعت وکړي او لکه څنګه چې اسامه بن لادن ملا محمد عمر آخوند ته بیعت وکړ او همدا اوس داکتر ایمن الظواهری ملا هیبت‌الله آخوند ته بیعت لري او د جهادي- تکفیری او ترهګرو ډلو زیات شمېر مشران د طالبانو امیر ته دغه بیعت لري.

په دې توګه، په ”تړون“ کې د اسلامي امارت یوازې یادونه، طالبانو لپاره ستر تبلیغاتي امتیاز او هغوی ځانګړې لار او دود ګڼل کېږي.

څوک چې دشریعت له مبادي سره آشنا دي او د «هدایه» نامتو کتاب یې لوستی وي، ښه پوهېږي چې د طالبانو له نظر نه د اسلامي ”امارت یادونه“ د: (طلب اصلح عن المدعی یکون اِقرارا بذالک شی)[۲] په مفهوم ګڼل کېږي او اوس طالبان حق لري چې خپلوغړیو، دوستانو او تابعینو ته ابلاغ کړي چې: امریکا دامارت اصل په پرنسیپ کې منلی دی.

- د امریکایي اړخ نیتونه له منفي لیده: په دې حالت کې باید ومنو چې امریکا په دې ”عارفانه تجاهل“ له پېچلې استخباراتي لوبې کار اخیستلی دی چې د افغانستان لپاره ډېرې خطرناکې پایلې لري.

په دې وضاحت سره چې د طالبانو ډله نه د طالبانو د ”تحریک“ په توګه، بلکې ”د طالبانواسلامي امارت“ په نوم په اصطلاح دسولې کاروبار ته داخلېږي او خپل امارت

بیا افغانستان ته دننه لېږدوي، چې په دې حالت کې افغانستان په څو واکمنیو ویشل کېږي او د هیواد د "سورېې جوړونې او لبنان کېدو" خطر شته دی.

- "د طالبانو داسلامی امارت" جیوپولوتیکه صبغه (رنګ):د طالبانو اسلامی امارت په داسې حال کې چې د طالبانو دایدیولوژیکو موخو پېژندوی دی، په عین حال کې په یوه ډېره پېچلې او کثیرالجوانب( ډېراړخیزه) سیمه یزې او نړیوالې استخباراتي لوبه کې د پاکستان د جیوپولو تیکو ګټو ښکارندوي هم دی چې په سیمه یز او بین المللی جیوپولوتیک کړکېچ او رقابت کې ځای د "سترو لوبو نوي پیر" کې د توضیح وړ دی.

په دې توګه او د درې پورتنیو عاملو(فکتورونو)په یادولو سره به، له امکان نه لیرې نه وي، که چېرې طالبان د سولې په "پروژه" کې، د اسلامی امارت په نوم او نه د کومې سیاسي اسلامي ډلې په توګه، د سولې معاملې ته داخل شي، افغانستان د لبنان کېدو په تګلوري کې ودرېږي او د طالبانو اسلامي امارت د پاکستان د جیوپولوتیزم د ملاتړ په توګه نقش ولوبوي.

**دریم – د افغانستان د لبنان کېدو خطر:**

په لبنان کې د حزب الله ځانګړی موقعیت او دریځ د قوي پوځی امکاناتو او په خلکو کې د اغېز او اعتبارلرونکي او په عین حال کې سخت ایدیالوژیک ځواک په توګه، په واقعیت کې په هغه هېواد کې د ایران د جیوپولوتیکو موخو مدافع او ممثل دی.

هرکله چې طالبان د اسلامی امارت تر نامه لاندې اود پاکستان تر شا دوام سره د سولې معاملو ته دوام ورکوي، هماغه د لبنان سناریو په افغانستان کې عملي کېږي. او د هغې لاملونه په لنډه توګه داسې بیانوو:

**څلورم - د سولې د مفهوم ایدیولوژیک کېدل:**

د اسلامي امارت د نوم په راپورته کېدو او د "قطرتړون" کې یې په یادېدو سره په واقعیت امریکا د طالبانو ستر آرمان چې هماغه " د دوی د خپل ځانګړی شریعت تطبیق" دی، شین څراغ ورکړی دی او په دې توګه طالبان اوس د خپلو ایدیالوژیکو غوښتنو د طرح کولو لپاره، ځان په بهتر موقعیت کې ګڼي؛ لکه څرنګه چې د "قطر تړون" د لاسلیک په مناسبت د دوي د امیرالمومنین مولوي هیبت‌الله په اعلامیه کې راغلي دي: « ... له اشغال وروسته،د اسلامي امارت د مجاهدینو سترې موخې ته رسیدل هماغه د اسلامي نظام ټینګښت دی.»[۳]

بې لامله نه ده چې د طالبانو دغوښتنو په زیاتېدو سره، اوس د هغوی د پام وړاو اغېزمن قومندانان، لکه مولوي کبیر او ملا فاضل مظلوم، اسلامي امارت خپله سره کرښه بولي او وايي:« مشارکتي نظام نه غواړو، په طالبانو پورې د مشرتابه تړل، د اسلامي امارت بیرته راتګ او د اسلامي نظام ټيګښت له امریکا او کابل ادارې سره خبرو کې زموږ سره کرښه ده.»[٤]

مولوي فاضل د طالبانو له نامتو قومندانانو څخه دی چې نږدې څوارلس کاله یې د ګوانتانامو زندان کې تېر کړي او اوس په قطر کې د طالبانو دسیاسي دفتر غړی دی،په تېره اوونۍ کې ورته څرګندونې درلودې: «... نن امریکا زارۍ کوي، دا هوکړه لیک ۹۹ سلنه زموږ په ګټه دی. زموږ سرې کرښې روښانه دي: مشر به زموږ له منځه وي، موږ به یو اسلامي حکومت ولرو چې د سلام د شریعت پر بنیاد وي، موږ به په دغه هکله د خپلو شهیدانو او بندیانو په غوښتنو اود ورونو او خویندو په بلهارۍ جوړجاړی و نکړو.»[٥]

په دې څرګندونو کې چې له شک پرته یوه برخه یې تبلیغاتي اړخ لري، د طالبانو نیتونه او موخې واضح بیان شوي دي.

**پنځم - د امریکا د جیوپولوتیکو ګټو او موخو په اوږدو کې د"قطر د سولې پروژه":**

لکه د لمر څرګنده ده چې په وروستي یونیم کال کې د قطر دفتر جوړول، د "قطر د سولې پروژه" د امریکا د ملي ګټو پر بنیاد او ښاغلي ټرامپ د ټاکنیزې ګټې لپاره، د امریکا د لوړو جیوپولوتیکو ګټو په امتداد "مهندسي" شوي ده او په حقیقت کې هماغه موخې تعقیبوي چې په نوییمه لسیزه کې د یونیکال کمپنۍ په فعالیت یې، له طالبانو سره مرسته کوله او په هغه وخت کې ښاغلی خلیل‌زاد د دغه کمپنۍ سلاکار وو.

نړیواله تجربه او همدارنګه د افغانستان خونړۍ پېښې د دې واقعیت ښکارندوی دي چې: امریکا تل خپلو سترو جیوپولوليټیک مصلحتونو او ملي ګټو ته پر نړیوالو او منل شویو معیارونو، بین‌المللي حقوقو او نړیوالو اصولو کې کښل شویو حقوقي موازینو ته برتري ورکړي ده.

په ۱۹۹۶ز کال کې او د کابل له نیولو وروسته او د طالباني شریعت د جاري کېدو له اعلام وروسته، امریکا وویل:« چمتو دي چې د دوی رژیم به رسمیت وپېژني» او د امریکا د بهرنیوچارو وزارت ویاند، ښاغلي ګلین دیویس څرګنده کړه چې: «امریکا په افغانستان کې دشرعي قوانینو له اجرا سره مخالفت نه لري، طالبان زاړه پالي دي، خو امریکایي ضد نه دي.»[٦]

## سرچيني

---

[۱] د امریکا د نړیوال سیاست اند ځای American Research and Development Corporation (RAND Corporation)

د پاکستان د اطلاعاتو او امنیت سازمان: Inter-Services Intelligence (ISI)

د پاکستان د اردو مرکزي قرارګاه:( General Headquarters (GHQ

[۲] د فقهې مشهور کتاب (هدايه) شريف کې د دې فقهي مقولې مفهوم دادی: په يو" رسمي" سند کې د (اسلامي امارت) د کلماتو تکرار يادونه د طالبانو دامارت به اصل باندې اعتراف دی.

[۳] "له امريکا سره د طالبانو د تړون" له لاسليک وروسته د طالبانو د مشر مولوي هيبت الله آخوند له نامه يوه فتوا خپره شوه چې د امريکا له پوځيانو سره متارکه (اوربند) يې تاييد کړه او پکې کښل شوي چې د هغو( امريکايي پوځيانو) وژل شرعي جواز نه لري.

[٤] د افغانستان او پاکستان د خبر رسولو مختلفو شبکو، د طالبانو تړون په باب د طالبانو د اغيزمنو کسانو او په هغو کې د مولوي کبير او ملافضل الله آخوند نظرونه خپاره کړي دي چې هغوی په صراحت سره، د خپل اسلامی امارت د ټينګښت غوښتونکي دي

[٥] د ايران انترنيشنل ويبپاڼه - د ۱۳۹۹ ل کال د وري دولسم.

[٦] د نوييمې لسيزې په وروستيو کې د امريکا لوړپوړو چارواکو او په هغو کې مېرمن رابين رافيل د امريکا دبهرنيو چارو د وزير مرستيالې، پرله پسې ويلي دي چې له طالبانو او شريعت سره يې ستونزه نلرو او دهغوي د "رژيم" د په رسميت پېژندلو غوښتنه يې کړې ده.

# پنځم څپرکی

## د "قطر تړون" او دخلکو بنيادي اړتياو او غوښتنو ته نه پاملرنه

### لومړۍ برخه: د افغانستان د مظلومو خلکو تر ټولو مهمې اړتيا او غوښتنې (اوربند) ته نه پامرنه:

له بده مرغه د "قطرتړون" کې د افغانستان د مظلومو خلکو د دغه څرګندې او حق غوښتنې په هکله دقيقه او لازمه پاملرنه نده شوې، په داسې حال کې چې بايد د خبرو اترو په سر کې يې ځاي درلوداى.

زموږ غمځپلي خلک حق لري او وړ يې دي چې نږدې نيمې پېړۍ تېل شوې جګړې د خطرناکو او ډاروونکو مصيبتونو له زغم وروسته تلپاتې سولې ته ورسېږي او افغانستان د سولې او پرمختګ لوېې لارې ته د تېرېدو له حق برخمن شي.

زموږ د مظلومو خلکو او د جګړې د قربانيانوغوښتنه ډېره ساده او انساني ده چې د اسلام د سپېڅلي دين له ارشاداتو او د بشر د حقونو نړيواله اعلاميه او د هغې په اصولو کې د کښل شويو ټولو مدني او بين‌المللي حقوقي معيارونو سره سمون لري چې، د ژوند حق يې د حقونو تر ټولو لوړاو مکرم حق تعريف کړى دى او د اسلام ستر پيغمبر د انسان د وينې حرمت (درناوى) د کعبې مکرمې له حرمت لوړ بللى دى.[1]

په داسې حال کې چې د افغانستان تاريخي مقدرات هماغه راز د سترو بين‌المللي او سيمه يزو جيوپولوتيک کړکېچونو کې ټاکل کېږي، د هيواد د خونړي ناورين د پاي

ته رسولو لپاره چې د بهرنۍ لاس وهنې ثمره او معلول دی، باید د رواني تباه کوونکې جګړې دواړه خواوې چې د دوحې په بین‌الافغاني خبرو کې ګډون لري، د مظلومو خلکو او د جګړې د قربانیانو اصلي غوښتنو ته په لبیک ویلو سره د جګړې دپای ته رسولو او دایمي اوربند ټینګولو لپاره، خپله اراده د رښتینې سولې په لار کې چې د خلکو اړتیا او د ټولنې د پایښت شرط دی، په ثبوت ورسوي.

خو په ډېرې خواشینۍ چې د ۲۰۲۰ز کال د فبروري میاشتې راهیسې د امریکا له پوځې ځواکونو سره د طالبانو تحریک بشپړ اوربند د دې دلیل پر بنسټ چې ګواکې اشغال پای ته رسېدلی او د "جهاد "دوام او د "کافرانو" وژل شرعي جواز نلري.

خو، هیڅا توضیح کړې نه ده چې د مظلومو افغانانو وژل په کوم دین او آیین کې جواز لري؟!

په دې ډول د جګړې دواړه اصلي لوري، دولت او د طالبانو اسلامي تحریک د یو تاریخي آزمایښت په وړاندې ولاړ دي چې د اوربند په هکله تصمیم، د دوی د پېژندنې او د خلکو د قضاوت معیار ګرځي.

د اوربند لپاره د مظلومو خلکو دغوښتنې نه منل او هر ډول پلمې صاف او ساده، د دې ښکارندوی دي چې د اور بند د ټینګښت مخالف لوری غواړي سیاسي موخې، د قدرت ترلاسه کول او د خپل زړه سیاسي نظام د زورزیاتي او وینو تویولو او یا له پردیو سره د جوجاړي او ټیټال له لارې د خدای پر مظلومو خلکو وتپي.

په داسې حالاتو کې چې افغانستان د جګړې له خطرناکو مصیبتونو، لوږې، اقتصادي کړکیچ، د نړیوالو مرستو د کمښت ګواښ او د کرونا وبا او طبیعي بلاو سره مخ دی، د اوربند لپاره د خلکو غوښتنې ته بې پروایي په دې معنا ده چې د قدرت مدعیان غواړي چې د خلکو په وینو لړلیو جسدونو او قبرونو حکومت وکړي. دجګړې د اصلي اړخونو خبرې په بهترینو پنځه ستوریزه هوټلونو کې او په هیواد کې

د وینو حمام او د ملکی وګړو وژل، د افغانانو دغه د خدای ترټولو مظلومو خلکو په وینو له سوداګرۍ پرته به بل دلیل ونلري .

د جګړې او وینو تویو په دوام کې هیڅ دیني او دنیایي ارزښت خوندي نه باتې کېږي او د هیواد لوړو مصلحتونو ته بېباکي، ورانوونکې جګړه د افغانستان د سوریه کیدلو لار جوړوي.

په جګړه ځپلې ټولنه کې دایمي اوربند د سړولو د بهیر سره مرسته کوي او د یو بل د منلو، پخلاینې، یوبل ته تېرېدلو او نرمۍ د مفاهیمو په اړوند د خبرو لپاره فرصتونه برابروي چې په نشتون کې به یې د سولې په لور تلل ناشوني شي.

له دې امله؛ د جګړې له دوامداره اصلي لورو په ټینګار غوښتنه وشي چې: د مظلومو خلکو او دجګړې د قربانیانو روا غوښتنې ته چې له نېکه مرغه نړیوالې غوښتنې او د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشي عالی مقام، د اروپا اتحادیې او یو شمېراسلامي او د سیمې هیوادونو او د نړۍ سوله غوښتونکو له تاکید سره مطابقت لري، لبیک وواېي او د دایمي اوربند د ټینګښت لپاره تصمیم ونیسي.

په دې لار کې د امریکا متحد ایالتونه باید د اوربند او د افغانستان دګټو لپاره چې هغې ته حقوقي ژمنه او همدارنګه د غمیزې لري، زموږ د خلکو ارادې ته چې د دوه ورستیو کلونو په ټول بهیر (Moral obligation) په وړاندې یې اخلاقي مسوولیت کې څنډې ته راښکل شوی دي پاملرنه وکړي او د خپل کورنیو موخو د بیړې قربان یې نکړي.[٢]

د اوربندغوښتنه په هیڅ دلیل کومه ذهني او له جاري خطرناکو او خونړیو حقایقو نه لېرې غوښتنه نه ده. د افغانستان جګړه خپل ځانګړې خصوصیات لري او د نورو کړکېچونو خلاف، د امریکا متحد ایالتونه د جګړې د دوامداره اړخونو سرپرستي

کوي، د دولت ملاتړی او اصلي تمویلونکی دی او له طالبانو سره یې «تړون» لاسلیک کړی او له پاکستان سره په معامله کې دی.[۳]

د اوربند انفاذ د رسمي خبرو اترو په پیل پورې تړل، چې له شک پرته ستونزمنې دي او وخت اخلي. یا د سیاسي نظام له بحث سره د هغې غوټه کول او... د زیاتو وژلواو چړاو د جواز د صادرېدو په مفهوم او د وینو د سوداګرواو د افغانستان تاریخي دوښمنانو ته باج ورکول دي.

البته د اوربند کول او دوام یې د هغې د طرزالعمل دقیق مراعت کول دي چې ډېره ښه به وي چې د ملګرو ملتونو سازمان لخوا وڅارل شي څو سرغړونکي او دغه راز دریم ورانکاري، وپېژندل شي او مخه یې ونیول شي.

اوربند ته د طالبانو د اسلامي تحریک د ژمنتوب او وفادارۍ په صورت کې، د افغانستان دولت کولای شي په کابل او نورو ولایتونو کې د دوی د دفترونو پرانیستل او د بندیانو خوشي کول وارزوي.

په داسې حال کې چې د امریکا متحد ایالتونه په قطر یعنې خپلې ډېر ستړې اډې ته نږدې له طالبانو سره ناسته پاسته لري او هم د افغانستان د دولت ملاتړی دی، جدي شک او پوښتنه پیدا کېږي چې ولې یې په افغانستان کې د وینو حمام جوړ کړی دی؟

همداراز د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، پاکستان دپخوا په شان د ترهګرو د امن کور بولي، نو ولې د شر اچوونکو د تمویل اصلي سرچینې او جرړو ته پام نه اړوي؟ او یوازې په افغانستان کې د کورونو د تباهۍ او د ملکي وګړو وژلو په بیه د ترهګرۍ د ونې ځانګوړی پرې کوي؟

همدا د کوږ یې نیسه مه یې تویوه سیاست د افغانستان د خونړۍ غمیزې یو اصلي

لامل دی، له یوې خوا طالب بندیان بې شرطه خوشې کېږي او له بل پلوه د خشونت په کمښت او د اوربند په اړتیا ټینګار نه کېږي. برعکس د پاکستان د نااعلام شوې جګړې د دوام په اوج کې، د امریکا د پوځي ځواکونو د غیرمسوولانه وتلو لپاره تصمیم نیول کېږي.!!!

د دغو بیړنیو پرېکړو ترشا پاکستان له اوربند سره په مخالفت، پر ورانوونکې جګړې لا زیاته پانګونه کوي او لنډمهالی دولت مطرح کوي، په غه راز حالاتو کې طالبان د جګړې شدت ته هڅول کېږي او د اوربند په نه منلو سره، په یو اړخیز بري او د امریکا د پوځیانو د نشتون په سبا د ایدیولوژیکوغوښتنو او امارت د ټینګښت پلان جوړوي.

په دغه راز ناوړه شرایطو او داسې حال کې چې د سیمه یزو او بین‌المللي جیوپولیتیکو رقیبانو سیالي زیاته شوې ده. د هیواد شتون سخت خطرونه ګواښوي. سیال لوبغاړي د افغانستان د لبنان جوړولو او سوریه کېدو او د خپل نفوذ په سیمو باندې د ویش لپاره هڅې کوي. نو اړینه ده، چې په پراخه ملي فکر او د افغانستان د لوړو مصلحتونو په ټینګولو سره د خلکو د برخلیک اړوند تاریخي پوښتنې ته، دقیق او اساسي ځواب مطرح او په مصیبت راوړونکو کروناېي حالاتو کې اصلي دندې مشخصې کړو، چې هماغه: زموږ د خلکو د ژوند حق دی چې له ستر او ورځنې ګواښ سره مخ دی. د ټولوانساني ارزښتونو، دیني ارشاداتو او حقوقي معیارونو پر بنیاد د ټولو رښتو(حقونو) په سر کې ځای لري. د جګړه مارانو لخوا دغه حق ته ځای نه ورکول او نه منل دا معنا لري چې غواړي پر مړستونونو حکومت وکړي.

بربادوونکې جګړه، په ورځ کې تر دوه سوه افغانانو ژوند اخلي اوهره ورځ بشري ضد ډاروونکې جنګي جنایتونه او د ملکي وګړو وژل تکرارېږي. روحانیون، روښانفکران او ژورنالیستان د ترهګرو لخوا د «مقناطیسي» ماینونو له مخکې نه د پلان شویو هدفي وژنو نښې دي، چې د طالب ویندویانو له انکار سره سره، د اروپاېي هیوادو، امریکا، کاناډا، آسترالیا او جاپان دسفیرانو د وروستیو اعلامیو له مخې د طالبانو لخوا تر

سره کېږي.

له دې امله: د سراسري اوربند ټيګښت هماغه شان د يوې غوښتنې او سملاسي ضرورت په توګه مطرح دی. بايد ټولې مدنې ټولنې، د سولې او خلکو د رښتو(حقوقو) مدافعان، سياسي، ټولنيز، فرهنګي سازمانونه، پارلمان او د مطبوعاتو او رسنيو فعالان، د اوربند لپاره خپل غږونه سره نږدې او د تلپاتې سولې د پلويانو په پراخه جبهه کې، د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا او د هېواد د نه تجزيه کېدونکي اصل د لوړو ارزښتونو په وجود کې د سولې تږيو خلکو د تاريخي آرمان د منل شويو حقوقي معيارونو سره سم د ملي واکمنۍ د حق عملي کولو لار چې په انحصاري ډول او يوازې په ټول ولس پورې اړه لري برابرکړه. د قانون د واکمنۍ په رڼا کې د آزادي، برابري او د و ګړو د حقونو ساتنه وکړو، چې د افغانستان درې ستر ډېره کې: ښځې، ځوانان، بېوزلان او د جګړې قربانيان د اوربند شرايطو کې د هېواد دراتلونکې او د خپلې خوښې نظام د څرنګوالي لپاره خپله اراده مطرح او له دې روا غوښتنو دفاع وکړي:

- د خلکو د سملاسي اړتيا په توګه د ژوند له حق نه دفاع
- د سملاسي او سراسري اوربند ټينګښت چې؛ د افغانستان شتون د جګړې او چړاو بېړني بندولو کې دی
- د خلکو د ژوند له حق نه دعملي دفاع په پار بايد سملاسي سراسري اوربند وشي، چې په روانو حالاتو کې د افغانستان موجوديت يې په نافذېدو پورې تړلی دی، د خلکو د اساسي غوښتنې په توګه مطرح کړو.

سملاسي او سراسري اوربند او د رښتينې او مشروطې سولې لپاره بايد مورږد طالبانو او د افغانستان دولت مخامخ او بې قيد او شرطه خبرو ته د تللو، هراخيز ملاتړ وکړو.

**دویمه برخه: د ”قطر تړون“ د سولې د دروازې پرانیستل که د خشونت (زورزیاتي) دوام:**

زموږ د بدمرغو خلکو تاریخي برخلیکونه یې د وینو په عهد وپیمان کښلي دي. له طالبانو سره د امریکا د متحدو ایالتونو له هوکړې وروسته د سولې د خبرو پر ځای، جوړجاړی او د خشونت کمښت، تېرېدنه او زغم، د تباه کوونکې جګړو یو نوی فصل خلک په اوروینو کې لړي. تېره اوونۍ په ۳۲ولایتونو کې، له اته سوه تنو څخه د زیات کسانو مرګ ژوبله په وروستیو نولس کلونو کې تر ټولوخونړۍ اوونۍ بلل شوې ده، چې د روحانیونو، د قانون ساتونکو ادارو، د بشرد حقونو کمیسیون، فرهنګیانو او رسنیو د کارکوونکو دهدفي او پلان شویو وژنو له موج او له جنایت ډکو پایلو سره مل وه. اوربند به چې د جګړې اوربلوونکې یې له ټینګېدو ډارېږي، تاریخي فرصت برابر کړي چې د سولې او سولې جوړونې مسألې په ملي او پراخه خبرو اترو کې مطرح او د ټولنیزې او فرهنګي سولې، یوبل ته تېرېدنې، زغم او یوبل منلو په هکله بحث وشي. ځوانان، ښځې او بیوزلان د درې سترو دېره کیو په توګه او په ټوله کې زموږ خلک وکولای شي د قانون د اصالت او مدني ژوند په دفاع کې خپل تاریخي نقش مطرح او پخپل هیواد کې د رښتینې او تلپاتې سولې پلویان وي. پخلاینه، تېرېدنه، زغم(تولیرانس) د «سرولو»، سولې تأمین او سولې پاللو ته دتګ بنیادي اصول دي، چې د افغانستان په جګړه ځپلې او جګړې کې ښکیل او ویشل شوې او پړسېدلې ټولنه کې مهم مسایل دي چې له بده مرغه د ”قطر تړون“ کې ورته هیڅ پاملرنه شوې نه ده .

دې اصولو د انساني کرامت له اصل نه الهام اخیستی او د ملګرو ملتونوپه منشور، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د مدني او سیاسي حقونو بین‌المللي میثاق او له هغو نه په راوتلو کنوانسیونونو کې تدوین شوي دي.

د دغه اصولو مطابق پخلاینه د سولې، ټولنیز پرمختګ او د ټولنې د ټیکاو او پایښت د مخشرط په توګه تسجیل شوې ده.

د دغه شپږګونو اصولو پر بنیاد، ټول انسانان د رنګ، نژاد، دین او باورونو د توپیرونو باوجود باید په سوله کې ژوند وکړي او د خپلوشخصي او ډله یزو نظریاتو له تپلو(تحمیل) نه ډډه وکړي.

په یاد شویو شپږګونو اصولو کې کښل شوي مادې په واقعیت کې هماغه دخپل فرهنګ جوړجاړی او تېرېدنه ده، چې په لوېدیز وایي[٤] او د هغه څه د آګاهانه منلو او ورته اجازه ورکولو څخه عبارت دی چې زموږ په ذوق کېTolerance ورته تولیرانس برابرنه وي. تولیرانس له اوولسمې پېړۍ د خونړیو مذهبي او دیني شخړو له منځه د جان لاک په الواکونو( نظریاتو) سیاسي افکارو ته لار موندله او نن نه یوازې یو اخلاقي ارزښت دی، بلکې د نړۍ د انسانانو یو حقوقي اصل او مکلفیت کڼل کېږي.

په افغانستان کې په زړو افکارو او زردشت او درې ګونو اصولو کې یې د دغه نظر د پېژندنې مخینې سره:

- نیک فکر (پندار)
- نیکه وینا ( ګفتار)
- نیک عمل (کردار)

او له اسلام وروسته په عرفاني مکتبونو او د سترو صوفیانو په افکارو کې له حضرت سنایي، عطار، مولانا، امیرعلي شیر نوايي او... تر رحمن بابا او پیر روښان او... پورې د نرمۍ او یو بل منلو د لوړو ارزښتونو سترې معنوي پانګې لري. همدا ډول د دې سیمې ځانګړې موقعیت د تمدنونو د مخامخېدو او څلور لارې په توګه، د سترو تمدنونو د ګډولې پېژند دی، خو په خواشینۍ سره چې زموږ تاریخ په وینو او زورزیاتي لیکل شوی او څه ناڅه نیمه پېړۍ کېږي چې: افغانستان د تکفیري او د سولې او پخلاینې ضد ذهنیت نښانه ده او د "اسلامي" بنسټپالنې د خطرناکې او ډارونکې سونامې د خطر مخ کې ولاړ دی. خبرونه او خبرلوڅان وايي چې ښایي د حضرت

مولانه په قول: هنوز درخم یک کوچه باشیم!!! او پر بهرني دوښمن سرېيره هر يو خپل دين، نژاد، قوم، ژبه، سيمه، فکر، تنظيم او گوند تر نورو ښه او په حق گڼو او د يوبل منلو او متقابل درناوي په فکر کې نه ياستو.گواکې د حضرت مولانا دا نصيحت او ارزښتناک کلام مو هېرکړی دی چې:

هر که گويد، جمله حق است، احمقی است
هر که گويد، جمله باطل او شقی است

په دغه راز ډارووونکو حالاتو کې او له پخلاينې ضد ذهنيتونواو د توليرانس، نرمۍ او يو بل منلو له دوښمنانو مقابله کې اړينه ده چې د نړۍ شموله ارزښتونو په رڼا کې د ارزښتناکه فرهنگی شتمنيو نه په گټنې سره د رښتينې سولې او د افغانستان دټولنې د له منځه وړلو د مخنيوي په خاطر سوله غوره کړو او د رواجولو لپاره يې د انساني پازې په توگه سترېا نه منونکی کار ترسره کړو او زورزياتي او تکفيريانو ته نه ووايو او د ژوند په ټولو اړخونوکې د تلپاتې سولې لپاره لاره پرانيزو.

سرچینې

---

[۱] د اسلام ستر پیغمبر او په حجت الوداع کې دهغه وینا ته اشاره ده.

[۲] د اخلاقي پازې د اصل له یادونې څخه موخه په بین‌المللي حقوقو او بین‌المللي اړیکو کې د اخلاقو د بحث ګډول نه دی. مقصد هماغه غیر الزامي اصول دي چې دهغو په نه مراعت کولو سره په نړۍ کې د ځنګل قانون واکمنېږي.

[۳] د افغانستان د جګړې د ځانګړیو نښو موخه د اده چې: دعام تصور خلاف او د نړیوالو شخړو د حل د تیورۍ پر بنیاد، د افغانستان په جګړه کې د دې حقیقت پټول چې د امریکا متحد ایالتونه د جګړې دواړه خواوې تمویلوي او څاري، د دولت تمویلونکی او ملاتړ دی او د مېرمن کلينټن، مېرمن بې نظیر بوټو، پرویز مشرف، نوازشریف او ... د منښتو(اعترافونو) له مخې د طالبانو پروژې د جوړېدو له ملاتړکوونکی او اوس هم په قطر کې خپلې سترې پوځې آډې ته نږدې له هغوی سره پراخه کښېناسته پاځېده کوي او د پاکستان له دولت سره تاریخي معامله لري.

[٤] (Tolerance) تولیرانس یا پخلاینه او زغم د انګلستان اوولسمې زېږدیزې پېړۍ او روشنګرۍ د پیر فیلسوف جان لاک له اندونو څخه دی چې؛ د کلاسیک لیبرالېزم پلار او د ټولنیز قرارداد د نظرېې او د تجربه ګرایي د مکتب یو شرح کوونکي په نوم پېژندل کېږي او د ولتر، ژان ژاک روسو او زیاتو نورو موسکاتلیندي مفکرینو او امریکایي انقلابیانو او د امریکا د متحدو ایالتونو د خپلواکۍ اعلامیې مؤلفانو کې اغېزمن وو.

## شېرزم څپرکی

# جرمي اقتصاد د ترهګرۍ او طالبانو د تمویل یوه سرچینه!
# او د "قطر تړون" کې يې د پټولو معما

د رښتینې سولې بهیر کې په دغو مسایلو له بحث پرته به د «ترکستان» په لار درومو. د طالبانو له جوړېدو ۲۶ کاله وروسته او په ځانګړې توګه وروستیو دوه لسیزو کې، د ملګرو ملتونو سازمان او د امنیت شورا له لوړ مقام او پخپله سرمنشي نه د امریکا د هغې د متحدینو د دیپلوماسۍ، خارګرۍ او پوځي دستګاه او د افغانستان په مسایلو کې د ښکېلو ګاونډيو هېوادونو او ملي او بین‌المللي رسنیو، د سیګار موسسې مسوول ښاغلی جان سپکو او د ناتو جنرالانو تل مخدره توکي او طالبان د یوې سکې دوه مخه بللي دي. اوس څنګه د "قطر" په تړون کې، د یوې بنیادي ارزښتناکه مسألې او د ترهګرۍ او طالبانو د تمویل د اصلي سرچینې په توګه پر جرمي اقتصاد نه دی تم شوي او که د "تړون" په پټه برخه کې يې یادونه شوي وي، څرنګوالی يې پټ او راز دی، په داسې حال کې چې:

طلایي هلال د نړۍ د مخدره توکو د ترانزیت تر ټولو ستره مبدا!
افغانستان د نړۍ د تریاکستان پلازمینه او (درګ سټیټ)!
او هلمند د نړۍ د هیروینو پلازمینه![1]

د تېرې پېړۍ له اوبایمې لسیزې راهیسې چې تریاک د افغانستان، پاکستان او ایران د غرو لمنو کې د جرمي اقتصاد د ډېرې ګټورې سرچینې په توګه رواج موند؛ د مخدره توکو د قاچاق کوونکو پام يې ځانته واړوه. د طلایي هلال ګړنې (اصطلاح) سیمه‌یز

او نړیوال شهرت وموند او ډېر ژر د (تایلند،برما،او لاووس) له طلایي مثلث نه زیات مشهور شو او د نړۍ د تریاکو د سترې سرچینې په توګه ټوله نړۍ کې مشهور شو.ځکه چې د نړۍ شتمني ټولوونکو او د ملیونو وګړو قاتلان چې د دې ناولې سوداګرۍ له امله له مینځه تللي او د په نیشه‌یي توکو اخته اوږده لیکه جوړوي، د سپینو زرو( هیرویینو) ارزښت پېژني او له تیلو او وسلې وروسته یې، د هغې پربمانه ګټه کتار کړې.

نېشه‌يي( مخدره) توکي د کړکېچونو او اټومي افتونو، چاپيريال، جمعيت، اوبو، بېوزلۍ او کروناو دبشریت لپاره وژونکي افتونه پېژندل شوي دي.

په ۱۹۷۵ز کې د افغانستان د لومړني جمهوريت خلاف د نااعلام شوې جګړې او پاکستان کې د ورانکارو باندونو جوړولو، او په وسلو سمبالولو له کاروبار سره هم مهاله( ۱۹۷۸ز اپریل د ۱۳۵۷ل غوایي) او شوروي اتحاد له پوځي شتون وروسته، د ترهګرۍ پروژه له مخدره توکو سره د هغې د تمويل د يوې سرچينې په توګه يوځای مطرح او د پراختيا پلان يې عملي شو.[۲]

د دغو چارو ماهران ښه پوهېږي چې د "ترور او تریاکو" د دغه پلان په طراحۍ کې د ۱۹۸۰ز کال په لومړیو کې د فرانسې د پوځي استخباراتو ماهر جنرال له ولسمشر ریګن سره کتنه ډېر اغېزمنه وه ؛ د دغه کتنې پر بنياد یې د " آزادۍ مبارزانو" د پراخه عملياتو د ځان بسيا(خود کفايي) موضوع تنظيم کړې ده.

له هغې نېټې تر اوسه پورې نيشه يي توکي د جهادي، طالب، القاعده او داعش ترهګرو د تر ټولو قوي مالي سرچينه ده او په واقعيت کې ترور او تریاک او نیشه يي توکي او جګړه، د يوې سيکې دوه مخه دي.

د افغانستان لپاره په اتيايمه لسيزه کې د سي. آی. ای. پخواني مدير چارلس کوګن، په ۱۲۹۵ز کال کې په ډاګه کړه چې: «زموږ اصلي موخه دا وه چې شوروي زيانمن

کړو ... مور د مخدره توکو دستونزې له امله ښځه غواړو مگر مور خپله ستره موخه ترلاسه کړه.»[۳]

د «منځني ختیز د بنسټپالنې بهیر کې» کتاب لیکوال، د خپل اثر په ۲۰۹ مخ کې لیکي: «دجهاد په دوره کې د پاکستان د امنیت سازمان د سیا په اجازه، د "کورنۍ سیاسي څانگه" په نوم یوه اداره جوړه کړه چې په خپلو پټو عملیاتو کې یې له تریاکو او هیروئینو کار اخیست. دې ادارې د پولې په دواړو خواو کې خشخاش کرل او هیروئین یې تولیدول، جنرال امتیاز یې هم د پاکستان او هم افغانستان کې د مجاهدینو تر نفوذ لاندې سیمو کې رئیس وو چې، د جنرال حمیدگل تر نظر لاندې یې کار کاوه. د جگړې د مالي لگښت لپاره د سرچینو پر برابرولو سربېره د دغه ادارې لومړنۍ موخه دا وه چې د سور پوځ د کمزوري کولو په مقصد شوروي سرتیري په مخدره توکو روږدي کړي. وروسته بیا د مخدره توکو دغې سوداگرۍ خطرناک اړخونه پیدا کړل او په ۱۹۸۰- ۱۹۸۲ ز کلونو کې د پاکستان او افغانستان د پولې پراخه سیمې د نړۍ د هیروئینو په ستر تولیدوونکي بدلې شوې. په اتیایمه لسیزه کې یوازې د پاکستان په سرحدي ولایتونو کې له اته سوه ټنو زیات تریاک تولیدېدل، چې هغه وخت کې د نړۍ د تولید اویا سلنه کېده.»[٤]

د مخدره توکو پېژندل شوی څېړونکي دوکتور منسفیلد چې دوه لسیزې یې د افغانستان د تریاکو پر سوداگرۍ څېړنې کړې دي، وایي:«تریاکو د افغانستان له جگړې او د امریکا د تاریخ له اوږدې جگړې سره ژوره غوټه اخیستې ده، دهیروئینو د تولید گټه نه یوازې د طالبانو مالي سرچینه، بلکې د نورو ډلو لکه القاعده او داعش عاید هم دي.»[۵]

ښاغلی راشدی له مخدره توکو سره د مبارزې پخوانی وزیر په څرگنده وایي: «د افغانستان تریاک د طالبانو او نورو ترهگرو د تمویل اصلي سرچینه او په دولت کې د پراخه فساد لامل دی چې له بده مرغه نړیواله ټولنه، ناتو او حکومت ورته پاملرنه نه کوي.»

نن د نړۍ د هیروئینو نوي سلنه د افغانستان له ترياکو جوړيږي چې د اروپا د بازارونو پنځه نوی سلنه او د کاناډا د بازار نوي سلنه يې نيولې او د امريکا په بازار کې هم پريمانه شتون لري.

د ځواکمن مرکزي دولت نشتون، د ټولنې د اقتصاد ړنګېدل، د جرمي اقتصاد رواج او د بهرنيو ملاتړ کوونکو يو ډول همغږي لامل شوی دی چې په وروستيو دوه لسيزو کې دخشخاشو کر (د ترياکو توليد) مخ په زياتېدو او له سل واره ډېر زيادښت ولري او له ۱۸۵ ټنو تر ۸۵۰۰ ټنو ته ورسيږي. سره له دې چې د امريکا او انګليس د پوځي ځواکونو تر ټولو ستره اډه د هلمند ولايت په شورابک کې وه، هلمند د نړۍ د هيروئينو په پلازمينه بدل شوی او په يوازې توګه شپيته سلنه مخدره توکي توليدوي.

جنرال نيکلسن د ۲۰۱۶ز کال د دسمبر کې مطرح کړه چې: «د طالبانو شپيته سلنه بودجه په هلمند ولايت کې د ترياکو له توليد نه برابرېږي. هغه پېسې چې د ترياکو له صنعت نه حاصلېږي، د ياغيتوب د تغذيي سرچينه او د دغو ټولو نښتو لامل دی چې په هلمند کې يې ګورو.»

دې معما په ملي او بين‌المللي کچه زياتې پوښتنې رامنځته کړې او لامل شوي چې د انګليس او امريکا پر پوځي او ملکي مقاماتو تورونه ولګول شي او ان د ملګرو ملتونو سازمان د مخدره توکو او جرمونو د څانګې (UNODC) رئيس د ۲۰۰۸ز کال د بانکونو په بحران کې د مخدره توکو د تورو پېسو داغېز يادونه وکړه. د ملګرو ملتونو همدې څانګې په ۲۰۰۸ز کال کې د مخدره توکو له درکه دطالبانو عايد سل مليونه ډالر رپوټ ورکړی دی.

ښايي د همدې تورنو په مقابله کې وو چې د امريکا پوځي مقاماتو، د خشخاشو کروندو د له منځه وړلو لپاره له شور زوږ ډک عمليات وکړل او لکه څنګه چې جنرال جان نيکلسن د "اوسپنيز توپان" عملياتو په پيل سره يادونه وکړه چې: «موږ هغه نقطه

(ځای) په نښه کړی چې طالبانو ته له هر څه ارښتناک دی، یعنې دهغوی مالي سرچینې»

همدارنګه په افغانستان کې د امریکا د هوایي ځواکونو قوماندان جنرال جیمزهکر، ویلي دي چې: «د تریاکو په له منځه وړلو کې د طالبانو د مالي سرچینو په بندولو سره، په تروریستي فعالیتونو کې د دې ډلې توانایي محدودوو» خو، د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړي پلټونکی جان سوپکو اخطار ورکړی دی:« باید شفاف اوسو او منو چې ارقام زموږ د ماتې تاییدونکي دی»

نوموړي همدارنګه دمخدره توکو د قاچاق او جنایت پر بنیاد د دولت جوړېدو اخطار ورکړی دی.

دغه امریکايي پلټونکي په دې وروستیو وختو کې څرګنده کړه چې « هیله مند دی چې د طالبانو او امریکا ترمنځ اوسنۍ خبرې د سولې داسې تړون ته ورسېږي چې د تریاکو پر تولید ولاړ اقتصاد چې د افغانستان د بې ثباتۍ لامل دی مهار کړي.»[٦]

د افغانستان دفاع وزارت هم د طالبانو د مالي سرچینې په توګه د مخدره توکو موضوع په اړوند ویلي دي چې « په افغانستان کې د ترهګرو ډلو مالي سرچینې د سیمې داستخباراتو د پلان له مخې، د دغه توکو پر ترانزیتي سیمو کنترول، جدي اهمیت لري.»

جنرال سوپکود جنرال نیکلسن غوندې په دې باوردی چې «پر طالبانو بری پر مخدره توکو له بري پرته، ناشونی دی»

د مخدره توکو نړیوال بورد (اداره) چې په ویانا کې ده،پر مخدره توکو د طالبانو د کنترول رپوټ خپورکړی دی. مخدره توکي نه یوازې د طالبانو د اسلامي تحریک د

تمویل یوه اصلي سرچینه ده، چې همدارنگه دهغوی د مشرانو او قومندانانو د شتمنېدو اصلي سرچینه هم گڼل کېږي.

په دې وروستیو وختونو کې د پاکستان دفدرال تحقیقاتي اژانس اعلام کړې ده چې « د طالبانو وژل شوي مشرملا منصور په پاکستان کې د ځمکو او کورونو په پېراو پلور بوخت وو او په بانکی حساب کې يې زیاتې پیسې درلودی» د دغه رپوټ له خپرېدو وروسته، د پاکستان محاکمو لخوا د نومړي د شتمنۍ د ضبط خبر خپور شو.[۷]

په زړه پورې ده چې ملا برادر آخوند، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر سره د ۲۰۲۰ز د جون ۲۰ کتنه کې، د هیروېینو د نامتو قاچاقچي حاجي بشر چې د امریکا متحدو ایالتونو کې د قاچاق په جرم بندي وو، دخوشی کېدو غوښتنه وکړه.

## سرچيني

---

[۱] هلمند د نړۍ د هيرويينو پلازمينه: په دې اړوند مې په ۲۰۱۶ز کال کې د المان د يو تلويزيون په مستند او اريانوونکي رپوټ پر بنياد يوه ليکنه کړې وه چې په دې لينک کې يې لوستلی شئ:

https//www.facebook. com/۴۶۳۲۶۸۷۲۳۸۶۷۲۷۳/talekosh.daku/videos/

[۲] په ۱۹۸۰ز کال کې د فرانسې د پوځي استخباراتو رئيس واشنګټن ته سفر درلود او له ولسمشر رونالد ريګن سره په خبرو کې يې هغه ته وړانديز وکړ چې بايد د افغانستان د جګړې په «ځان بسياينه» فکر وکړي او هيرويين يې د يوې وسيلې په توګه مطرح کوي، چې د ولسمشر خوښېږي او د جزئياتو تنظيمول يې د استخباراتو پازوالانو ته سپاري.

[۳] کانادايي پروفيسر خاسودوفکی – ميچل «د جګړې چټلی» مقاله، ع رسولي لخوا د دې مقالې دري ژباړه په ۲۰۰۴ز کال کې په آريايي سايټ (ويبپاڼه) کې خپره شوې ده.

[٤] دانش مصطفی- منځنی ختيز د بنسټپالنې بهير کې- ۲۰۹ مخ

[٥] رولات جاستن- « امريکا په افغانستان کې د ترياکو جګړه څنګه بايلوده»- د بي بي سي په سايټ کې د ۲۰۱۹ ز د جون په ۲۱ خبره شوې ده.

[٦] نقل، د آريانا نيوز له خبري سايت نه- د ۲۰۱۹ز کال اګست

[٧] د پاکستان الفلاح بانک او اليد بانک په حواله، د آريانا نيوز له خبري سايت نه نقل(FIA) د پاکستان د فزوال تحقيقاتي آژانس

## اووم څپرکی

## د پاکستان د نقش په هکله د "قطر ترون" چوپتیا

**لومړۍ برخه: په افغانستان کې په عامه توګه او په خاص ډول د طالبانو له تحریک سره د سولې کلي د پاکستان لاس کې ده.**

د لومړني جمهوریت خلاف د جګړې لومړی اور د محمد داود خان په وخت د پاکستان لخوا بل شو او لومړنۍ ورانکاري "جهادي" بانډونه د هغه هیواد د دولت لخوا د جمهوري نظام خلاف تښتیدلو کسانو نه جوړه، تربیه، سمبال او د بغاوتونو او ناامنۍ د رامنځته کولو لپاره افغانستان ته رالیږل شوي دي. د دوی مسوولیت د سرحد د صوبې ګورنرجنرال نصیرالله بابر د آی اس آی سازمان تر مستقیم نظر لاندې په غاړه درلود. [1] دا په واقعیت کې د افغانستان د جمهوریت په خلاف د نااعلام شوې جګړې پیل ګڼل کیږي. له هغې نېټې تر اوسه او په دې وروستیو پنځه څلویښت کلونو کې، پاکستان د ترهګرۍ د مرکز او دولت یې د "جهادي" تنظیمونو، طالبانواو بین‌المللي تروریستانو د ملاتړ په توګه دا ډول نقش لوبولی دی:

- د لومړنیو ورانکارو بانډو د مرکزونو جوړول
- د جهادي تنظیمونو جوړول
- د "جهادي" تروریستانو د روزنې، سمبالولو او تنظیمولو د پراخه مرکزونو جوړول
- د سرې جګړې په مهال په افغانستان کې د لاس وهنې او مداخلې د "ټوپ تختې" نقش لوبول

- په پاکستان کې له سل زره نه د زیاتو بین‌المللي شراچونکو ترهګرو کوربه توب، تنظیمول، سمبالول او افغانستان ته د هغوی لیږل
- د افغانستان د دولتونو خلاف د دروهو( دسیسو) او ان کودتا د پلانونو تنظیم
- د ملګرو ملتونو سازمان د سولې پلان د ناکامولو د دروهې جوړول
- په پاکستان کې "د مجاهدینو لنډمهاله دولت"جوړول او هغه هم د افغانستان له دولت سره د ژنیو تړون له لاسلیک وروسته
- د پاکستان د صدراعظم او جنرالانو تر نظر لاندې د "جهادي" انتقالي اداري جوړول
- د ګډوډۍ او بلواګانو تنظیمول او د افغانستان د وسله والو ځواکونو د له منځه وړلو د پلان عملي کول (چې نواز شریف پخپله په محکمه کې اعتراف او د هغه هیواد پارلمان کې پرې ویاړ وکړ) او د جنرال ضیاءالحق د کرغیړنی هیلې تر سره کېدل چې ویل به یې: کابل باید وسوزي!
- د ملګروملتونو سازمان د سولې د طرحې شنډول چې د ښاغلي محمود مستري لخوا رهبري کېده
- د "ملګرو ملتونو "د سولې پلان بهیر کې او په ۱۹۹۴ زکال کې د تنظیمي جګړو په زور کې د طالبانو د اسلامي تحریک د جوړولو هڅې
- د۲۰۰۱ ز کال د سپتمبر له یوولسم لکه څنګه چې د پاکستان پخواني پوځي واکمن جنرال مشرف پخپل کتاب «د اور په کرښه» کې لیکلي، د طالبانو به نسکورولو کې د امریکا پوځي یرغل ته لار هوارولو کې مرسته کوي.[۲]
- په دغه موده کې د پاکستان دولت په ځانګړې انګریزي ځیرکۍ او له محتاطانه سیاستو نه په ګټنې سره، دطالبانو بیا تنظیمولو ته اقدام وکړ او دهغوی دجبهې تر شا نقش تر سره کوي.

- البته په ټولو دغو نږدې نولس کلونو کې پر طالبانو سربېره، په افغانستان کې د ټولو فعالو ترهګرو ډلو د سپنسي سر او مرکز(چې شمېر يې تر شلو ډلو ويل شوی) په پاکستان او دهغه هيواد د استخباراتو په لاس کې دی.

د تاريخ تريخ طنز: په ټوله دغه موده کې د پاکستان د نااعلام شوې جګړې، لاسوهنې او تيري پر بنياد د افغانستان د دولتونو د حقې دعوا په وړاندې، پاکستان يوازې په درواغ ويلو سره "انکار" کړی دی. البته کله چې د ۲۰۱۱ز کال مې مياشت کې اسامه بن لادن د اسلام آباد شاوخوا کې ووژل شو، د پاکستان د رسوايي تغاره له بامه ولوېده او تاريخي ملاتړو يې انګليس، امريکا او لوېديز هم نور و نشو کولای له دغه واقعيت نه انکار وکړي چې: پاکستان د ترهګرۍ مرکز او د دغه هيواد دولت د بين‌المللي تروريستانو ملاتړ دی.

**دويمه برخه: د "قطر تړون" کې د پاکستان د نقش د پټولو راز**

د قطر په تړون کې چې په مطبوعاتو کې خپره شوې ده، د افغانستان په وړاندې د پاکستان د پخواني او راتلونکي نقش په هکله هيڅ يادونه نده شوې او په دغه اړوند عارفانه تجاهل ترسره شوی دی. په داسې حال کې چې د قطر د خبرو په تنظيم او د لاسوند (سند) په تسويد کې د پاکستان نقش د شيطان له کفر نه ډېرمشهور دی، دا چوپتيا په حقيقت کې د موضوع د معمايي کېدو ښکارندويه ده او دا پوښتنه رامخته کوي چې: هغه څه چې ښکاره په "تړون" کې نه دي ياد شوي، د هغې په پټه برخه کې کښل شوي دي او په دې اړوند بيا پوښتنه پيدا کېږي چې: د خبرو اترو په تنظيم او د پاکستان د دولتمشرانو په وينا، د خبرو لپاره د طالبانو د چمتو کولو او د بهير د "برياليتوب" لپاره دهغه هيواد دنقش اجوره او ونډه څه شی دی؟

د دې ټکي روښانه کول ډېر اړين دي چې د دغو پوښتنو د مطرح کولو انګيزه د دروغو په لومه کې په سينه ښويدل نه دی، بلکې له تاريخي حقايقو او د پېښو له دقيق تعقيب نه سرچينه اخلي.

د مالوماتو له مخې د تېرې پېړۍ د اوبایمې لسیزې له دویمې نیمایي، هغه مهال چې پاکستان د افغانستان د لومړني جمهوریت په خلاف د ورانکارو ډلو کوربه کېږي، د شوروي اتحاد چاپېر د "شین کمربند " د ستراتیژۍ په امتداد د ۱۹۷۹ز کال په جولای کې په پاکستان کې د امریکا په مستقیم ګډون د ترهګرو ډلو لومړني مرکزونه جوړېږي.[۳] جنرال ضیاالحق په واقعیت کې د افغانستان جګړه ټیکه کوي او پاکستان د پېژندل شوي ژورنالیست اروابناد رحیم رفعت په وینا د افغانستان د جمهوریت په خلاف د امریکا او د هغې د متحدینو د مداخلې "د ټوپ په تخته" بدلوي. په خواشینۍ سره چې زموږ هیواد د پردیو د لاسوهنو او تیریو د قربانۍ په توګه د سرې جګړې د" نطع" یا هغه فرش نقش پیدا کوي چې د واجب‌القتل مجرمینو تر پښو لاندې اچول کېږي.

د جګړې د دوام او زموږ د هیواد دورانۍ لپاره د پاکستان دا "ټیکه داري" د امریکا د دې سناریو د اصلي طراح د جیمي کارتر د ملي امنیت سلاکار برژینسکي د ۱۹۸۰ز لومړیو په تاریخي سفر کې مشخص کېږي[٤] چې د دغه بهیرد څومره والي او څرنګوالي په رسوا کولو کې د سي آی ای د هغه وخت د رئیس ادمیرال ستانفورد وینا په زړه پورې ده.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د ۲۰۱۹ز کال په لومړیو کې د امریکا ولسمشر د ګواښ په وړاندې وویل چې: «یاغیان نور د امریکایانو ټیکه شوی څواک ندی.»

دا منښته ( اعتراف) په حقیقت کې د پاکستان د ټیکه دارۍ د نقش په هکله زموږ د استدلال سموالی تاییدوي. پدې ډول د تاریخ له عجایبو نه د اده چې د خونړیو جګړو "ټیکه دار"، اوس زموږ "سوله" هم "ټیکه" کړې ده.

ولسمشر ټرامپ په ۲۰۱۹ز کال کې له پاکستان سره د اړیکو ښه والی د افغانستان د جګړې په پای ته رسولو کې دهغه هیواد د نقش پورې مشروط کړ. په هماغه وخت کې عمران خان په ډاګه کړه چې: «له موږ نه پې د نقش ترسره کول غوښتي دي» او

د دې لپاره چې د نوي سیاست خبره یې کړې وي، اعتراف وکړ چې: «موږ نور دستراتیژیکی ژورتیا سیاست چې موږ ته یې زیات زیانونه رسولی، نه تعقیبوو.»

په هغې پسې، ولسمشر ټرامپ د یو لیک په ترڅ کې له عمران خان نه وغوښتل چې له طالبانو سره خبرو کې له موږ سره مرسته وکړي. البته عمران خان له ولسمشر ټرامپ سره له کتنې وروسته د پاکستان د غوښتنو منلو ته د امریکا د اړ ایستلو خبرې وکړې.

په دې ترتیب د قطر د خبرو لپاره د کار لومړی پړاو، اسلام آباد ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له سفر پیل شو.په دې سفر کې ښاغلی خلیل‌زاد چې یوازې یوه ورځ مخکې د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خاص استازی ټاکل شوی وو، هم له نوموړي سره مل وو.

البته دخبرو په ټوله موده کې، عمران خان او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وار وارله امریکا سره د خبرو لپاره د طالبانو په چمتو کولو کې د خپل نقش یادونه کړې ده.

اوس چې د قطر په خبرو او طرح او لاسلیک کې د پاکستان برخه ښکاره شوه، دا پوښتنه خاص اهمیت پیداکوی چې: په افغانستان کې د "سولې" له" ټیکه" کولو د پاکستان اجوره څه ده او زموږ د هیواد په راتلونکې کې دهغه هیواد نقش څه ډول دی؟

دغو پوښتنو ته د "ترون" په پټه برخه کې چې موږ ورته لاسرسی نه لرو، وضاحت ورکړ شوی دی.

د دغو پټولو پایلې او د پاکستان د نقش په باب چوپتیا، د سیمې دجیوپولوتیک سیالانو د سیالۍ د زیاتوالي اوپه افغانستان کې له هغه هیواد سره د هندوستان د

نيابتي جګړې د شدت لامل دی، چې زموږ خلک یې د خپلو وینو به بیه او د سولې په لور د خپل تاریخي آرمان په ناکامۍ سره کفاره ورکوي.

**دریمه برخه: له پاکستان سره د امریکا چلند د بدلون نښې:**

په اسلام آباد کې د اسامه بن لادن وژلو، چې د پاکستان د پوځیانو او او استخباراتو موتې یې پرانیست، هغوی په ډېر سخت حالت کې ودرول او د "لوبې" پاڼه" داسې بدله شوه چې نور یې بین‌المللي ملاتړو او شریکانو په ښکاره دهغه هیواد د دفاع غږ پورته کړي.

دا چې بارک اوباما د پاکستان استخباراتو ته "له مخکنۍ خبرتیا" ورکولو پرته په یوازې توګه د اسلام آباد په ایبت آباد کې، د پاکستان د مهمې پوځي او روزنیزې اډې په څو سوه متری کې د القاعدې مشر په بري سره وواژه، پاکستاني پوځیان یې له نه حل کېدونکې معما سره مخ کړل. تر ټولو لومړی یې د پاکستان د پوځي استخباراتو(ای اس آی) مشر شجاع الدین پاشا او همدارنګه د هغه هیواد پوځي مشر جنرال اشفاق پرویز کیاني اعتراف نشو کولای چې په دغه سیمه کې د اسامه بن لادن له شتون نه خبر وو. پدې ټوګه دهغه هیواد د څارګرې ادارې حیثیت چې د جاسوسي یو اغیزمن او ستر سازمان ګڼل کېده، زیانمن شو.[٥]

د منل شویو بین‌المللي حقوقو له مخې او د ملګرو ملتونو منشور د اصولو پر بنیاد، د ملګرو ملتونو منشور د اووم څپرکي د حکمونو مطابق او «د سولې ګواښول، له سولې نه سرغړونه او تیری کول» د پاکستان په هکله د څېړنې او تطبیق وړ وو (او دي) تر څو پر پاکستان د بین‌المللي ترورېزم د مرکز او د ولت یې د ترورېزم د ملاتړ په توګه د (Legal Settlement Sensation) اصل له مخې بین‌المللي بندیزونه و لګېږي.) د په دغو بندېزونو کې باید د پوځی مرستې بندول او د ترهګرو د له منځه وړلو او د منل شویو نړیوالو اصولو او پرنسیپونو او بین‌المللي حقونو تحقق پورې د ټولو مرستو مشروطول شامل شوي وای.[٦]

ښاغلي اوباما د ولسمشرۍ د ټاکنو په دويمه منډو ترړو کې پراخه هڅه وکړه چې د اسامه بن لادن له "ښکار" نه د امريکا د عامه ذهنيت د بدلون لپاره د وسيلې کار واخلي. البته په بين‌المللي مطبوعاتو کې داسې تبصرې وشوې چې دا هدفي وژنه يې يوه ټاکنيزه لوبه بلله.

په هر حال له دغې پېښې وروسته د پاکستان په وړاندې د امريکا دولت د بدلون نښې وليدل شوې چې د ۲۰۱۸ ز کال ترپای پورې يې په بيلابيلو بڼو خو په پوره احتياط دوام ورکړ؛ خو په خواشينۍ سره چې د دغه اووه کلونو په ټوله موده کې يې داسې کوم بنيادي اقدام ونکړ چې، وکولای شي پاکستان د بين المللی حقوقو موازينو او د ملگرو ملتونو سازمان منشور مراعت کولو ته اړ باسي.

په دې اړوند زيات لاملونه شتون لري خو په افغانستان کې د يو ځواکمن ملي دولت نشتون دی چې د ملي گټو او دهيواد د لوړو مصلحتونو رښتينی ممثل وی او کولای يې شوی چې له دغه استثنايي فرصت نه د هيواد په گټه د ملگرو ملتونو او اړوندو بين‌المللي ادارو دهليزونو ته د خپل اعتراض غږ ورسوي، د گناهکار(پاکستان) له غاړې نه د رسۍ دليرې کېدو يو اساسي لامل دی.

پاکستان د امريکا د گواښ په ټولو اقداماتو کې چې د ډيورينډ کرښې ته نږدې د پاکستان ځليرويشت پوځيانو له وژلو، د پوځی مرستو تر کمولو، د وسلې او بم غورځوونکو سترو الوتکو له ترلاسه کولو د دغه هيواد محروموول او د امنيت شورا پريکړه او په تور نوملړ کې د يوشمېر مجرمانو داخلول او... په آرامۍ او خاص انگريزي مهارت د بن د دويمې غونډې له تحريم نه پيل او د امريکا د پوځي کاروانونو تر گواښولو او د فشار او "معاملې" د سترې وسيلې په توگه يې پر طالبانو باندې پراخه کار ته دوام ورکړ او په امريکا کې يې په لاېي گرۍ لاس پورې کړ .

په زړه پورې د اده چې په دغو اووه کلونو کې ښاغلی خلیل‌زاد د پاکستان خلاف یو فعال لابي وو او هغه هیواد یې تل د تروریزم مرکز او د پاکستان دولت یې د تروریزم ملاتړ باله.

د پاکستان په وړاندې د امریکا د بدلون زیاتې نښې د ۲۰۱۸ ز کال د جنوري په لومړۍ د ښاغلي ټرامپ په لومړني مشهور ټویټ کې ښکاره شوې چې د پاکستان د یو ستر تاریخي ملاتړ کوونکي لومړنۍ منښته (اعتراف) ګڼل کېږي.

## څلورمه برخه: د امریکا په وړاندې د پاکستان د مانور توان

له بده مرغه موږ عادت لرو چې د "دالخور... " او څو نورو ( پاکستان د امریکا نوکر او...) شعارونو سپکاوی سره، دهغه هیواد د دستګاه نقش، عیني توان او د مانور ظرفیت ته پام ونکړو او په واقعیت کې عام تصور دادی چې: پاکستان یوازې د امریکا د امرونو اجرا کوونکی دی دا یوازې د واقعیت یوه څنډه بیانوي، موږ د ملي ګټو ددفاع لپاره د هغه هیواد پوځي- استخباراتي او دیپلوماسۍ دستګاه له توان بې خبره او لېرې کوي.

په دوه وروستیو کلونو کې او په تېره بیا له دوه وروستیو میاشتو په زیاته موده کې یو ځل بیا زبات شوه چې: "دال خورانو" په میراثي انګریزي مهارت او تجربه لرونکو ماهرو کادرونو، سره د پاکستان دلوړو ګټو او مصلحتونو د تعریف او دفاع سمه وړتیا لري او په دغه حقیقت باندې په منښته به مو پام شي چې له کومې امکان لرونکي دستګاه سره مخامخ یاستو او هم مهال که په لږ انصاف سر په ګریوان کې کښته کړو چې موږ: په دې دوه کلونو او د دغو ټولو کړکېچونو او افتونو په بهیر کې په څه اخته یاستو او د" بیړني" دولت څوکیو د ترلاسه کولو لپاره مو یو د بل له ګریوان نیولو سره په حقیقت کې د پاکستان په ژرنده اوبه سموو.

په داسې حال کې چې پاکستان د افغانستان د سولې پروژه کې له امريکا نه تر ټولو زيات امتيازاو "ونډې" په اخيستلو سره، وار وار د امريکا د ديپلوماسۍ او پوځي لوړپوړي په اسلام آباد کې سرګردانه کړي او ان دا چې د يوامريکايي د خوشې کېدو له امله يې زيات باج غوښتی او د هغوی يې يوډول ډېر سپکاوی کوي.

ښايي د پاکستان د دغه چلند لاندني درې لاملونه وي:

- د امريکا د دولت خپل نا سم سياست (کوډ يې نيسه خو مه يې تويوه)
- په راتلونکو لوبو کې د پاکستان د نقش لپاره د لا پراخه سيمې پرانيستل
- د امريکا لوري په مجبوريتونو د پاکستان آګاهي

پاکستان د يو "کرايي" لوبغاړي په توګه او د سيمه يزو او نړيوالو قدرتونو (لکه چين، سعودي او...) د ملاتړ په لرلو سره ښه پوهېږي چې امريکا د "کوچني" بوش د مهال يوازني زبر ځواک ندی، لکه څنګه چې جنرال مشرف د خپل کتاب «د اور په کرښه» په ۳۱۲مخ کې ليکي: «د امريکا د هغه وخت دبهرنيو چارو وزير کولن پاول، تيليفوني راته وويل چې: «يا له موږ سره اوسه او يا ترهګرو سره» [۷] او په سبا يې، د بهرنيو چارو د وزير مرستيال ارميتاژ، اسلام آباد ته په سفر کې زياته کړه چې: «که د تروريستانو لوری ونيسې، هغه وخت داسې بمبار ته چمتو اوسئ چې د ډبرې عصر ته وروګرځئ.»

په هغه حالاتوکی، له څلېرويشت ساعتونو څخه کم وخت بس وو چې، پاکستان د خپلو دوستانو (طالبانو او القاعده) د بمبارۍ لپاره همکارۍ ته چمتو شي او هم مهال د "خاينانه" قمار لپاره خپل راتلونکی "چال" هير نکړي.

**پنځمه برخه: پاکستان ولې د طالبانو د اسلامی امارت بيا ټينګښت نه غواړي؟**

هغه کسان چې د افغانستان مسايل په غور سره څاري، بايد پوهېدلي وي چې: نور د اسلامي امارت په وجود کې د طاليانو بيا ټينګښت د پاکستان د دولت د کار په

سرلیک کې ځای نلري.

البته د دې شننې طرح د عام اټکل خلاف پدې معنا نده چې پاکستان د افغانستان په راتلونکې کې د طالبانو له نقش او پراخه ونډې نه تېرشوی وي.

زه داشننه په دې پوښتنې مطرح کوم چې: پاکستان په کومه بیه او د کوم امتیاز په ترلاسه کولو، د طالبانو په ستره ایدیالوژیکه غوښتنه او د دوی امارت د بیا ټینګولو هیله باندې پښې ږدي؟

تل یې باید په یاد ولرو چې: پاکستان د افغانستان په مسایلو کې د خپلو ملي ګټو په دقیق تعریف یو غښتلی لوبغاړی دی چې له پیاوړي استخباراتو او د دیپلوماسۍ د ځواکمنې دستګاه او د انګریزي ځیرکتیا لرونکو اکادمیکو او مسلکي کادرونو سره په ټوله دې نیمه پېړۍ کې تل توانیدلي دی چې له سیاسي خیالپالنې پرته دهغه هیواد له ملي ګټو دفاع وکړي. پدې توګه باید:د پاکستان له سوپر شیطاني وسله تون (زرادخانې) نه نوي فریب کارۍ ته منتظر اوسو.

نوې دروهه په څه شی وي؟

له شک پرته هر پلان د هغه هیواد د ملي ګټو پر محور او پر افغانستان تر زیاتې کچې لاسبرۍ او تسلط لپاره ترتیب شوی دی.

باید منښته وکړو چې پاکستان په افغانستان کې، د نااعلام شوې جګړې د دوام لپاره پدې وروستیو پنځه څلویښت کلونو کې، پر تنظیمونو،ډلو او کسانو زیاته پانګونه کړې ده. د "سولې سریال" د پیل پدې دوه کلونو کې موږ ولیدل چې داسې ښاغلي کم ندي چې د پاکستان په ګټه د خپل هیواد په لوړو مصلحتونو پښې کېدي چې په اسلام آباد کې زموږ دهیواد سیاسي جلابانو یوکال مخکې غونډه یې ثبوت دی.

اوس چې پاکستان د ښاغلي ټرامپ له ادارې سره په دروهه کې غاړه شوې دی، په ډېره ځیرکۍ سره او له مور نه مهربانې دایي په توګه د "سولې" د مرستندوی په نقش کې، د څرګندو حقایقو په پټولو سره یې د نصیحت کوونکي او پخلا کوونکي څېره غوره کړې ده.

په دې ډول ډېر اسان فورمول چې د ټرامپ د ادارې په بیړنۍ سلیقه برابر او د افغانستان د کمزورۍ لامل کېږي، هماغه د عمران خان د لنډمهالي حکومت طرح ده چې د افغانستان لسګونه سیاسی جلابان ورته نوماند دي اوکولای شي په راتلونکې کې په لنډمهالي حکومت کې د طالبانو، جهادي تنظیمونو او سیاسي جلابانو په غوښن ګډون نیابتي جګړه په نیابتي سولې بدله کړي. پاکستان به په دغه غشي چې د افغانستان ملا به ماته کړی په یو وخت کې څو موخو ته رسیږي.

له بده مرغه د افغانستان ټپي د آشیل پونده یا زموږ په ولسي ګړنه ټپي ګوته د قانون محور قوي ملي دولت نشتون دی او دا نشتون او د فساد واکمني، لامل شوی چې ستر ملي فکر شکل ونه نیسي او د افغانستان لوړې ګټې او مصلحتونه د مذهبي، ایدیالوژیک، عظمت غوښتونکي شوونیزم او سکتاریزم د تنګ نظري لید نه قربان شي. له دیرش ملیونه نه د زیاتو افغانانو ګټې د دین د سوداګرو، د قوم د هټیوالو، د "جهاد" ټیکه دارانو د کرکې وړ لړه کې سره یرغمل کې قربان شي او تلپاتې سوله چې د مظلومو او سولې ته تږیو خلکو تاریخي آرمان په یو ځلوبي(سراب) بدل شي.

البته هیله لرو چې د افغانستان غیرتي او آزاد خلک او د هیواد لوړو مصلحتونو ته ژمن سیاسي ځواکونه به په هوښیارۍ او زړورتیا سره تلپاتې سولې ته د تېرېدو له مکانیزم نه دفاع وکړي او د هیواد د تاریخی دوښمنانو د دروهو مخه به ونیسي.

[1] د میرمن کلنتن، جنرال مشرف،د میرمن بې نظیر بوتو د منښتو، تلک خرس کتابونو پر بنیاد: د "مجاهدینو" د معنوي پلار په توګه دنصیرالله بابر نقش بشپړ روښانه دی، البته له همدې امله وو چې په ورپسې پړاو کې د طالبانو د معنوی پلار په توګه خپلې دندې ترسره کړې.
د ۲۰۰۹ز کال په سپتمبر کې د پاکستان جیو تلویزیون د «جوابده» په خپرونه کې پېژندل شوي پاکستاني ژورنالیست افتخار احمد، په کرنیل امام مشهور سلطان امیر سره مفصله مرکه وکړه. د آی اس آی دغه پخوانی افسر د سي آی ای او (ام آی ۶) په اشاره په "جهادي" ډلو کې د افغان فراریانو په تنظیمولو کې د جنرال بابر او دهغه هیواد د استخباراتو نقش ته اشاره کوي: «...بوتو نصیرالله بابر ته وویل چې دوی [جهادیا ن] تنظیم کړي... بابر صیب بااستعد اده سړی وو او دهغوي د تنظیمولو لپاره سیاسي ګوند جوړ کړ. ربانی صیب چې پروفیسر وو هم ګوند ته راغی. مولوي یونس خالص هم کوند ته راغی... د افغانانو یو ځای کول داسې دي چې په یو ناولي ډنډ کې چینډځې وشمېرې... یوځای کولو یې شپږ میاشتې ونیولې. [فراریان ] ۳۵ نوي ځوانان ( د داوود لخوا د فشار راوستلو وروسته پاکستان ته د ګلبدین، مسعود او رباني تښتېدو ته اشاره ده ) او دوه مشران یې لرل. بالاخره ګوند جوړ شو.زه په هغه مهال په پېښور کې د کماندو جم ښوونځي کې وم...»

[2] مشرف- پرویز- «در خط آتش»- ۳۱۳مخ، په دري ژباړه: سید هارون یونسي، میوند خپرندویه ټولنه

[3] محمد یوسف -ډګروال «تلک خرس» یا«حقایق پشت پرده جهاد در افغانستان»،د محمد قاسم آسمايي ژباړه

[4] برژینسکی ک‌ی بود؟ له رسالې په اخیستنه- ۱۹۸۰ ز د یوې لېږې پرتې پاکستانۍ پوستې لیدل. برژینسکی په اسلامپالو ډلو چې په افغانستان کې دشوروي په خلاف په جګړه بوخت په ميلياردونو ډالرولګښت ولګول.

[5] یادښت: د بارک اوباما د خاطراتو د کتاب «سرزمین موعود» پر بنیاد، د جنرال مشرف کتاب «درخط آتش»، د پاکستان پیژندل شوی ژورنالیست عبدالرشید خېړني او ... د پاکستانې مقامتو

له خبرتیا پرته د اسلام آباد په شاوخوا کې د اسامه وژل او د امریکا د ولسمشر لخوا یې اعلانول، د پاکستان په مخ څپېړه او د دغه هیواد د جنرالانو د شرم لامل وو چې لوي درستیز جنرال کیاني او د آی آس آی رئیس جنرال شجاع پاشا په دغه شرم اعتراف ونشوکړي.

[٦] Legal Settlement Sanction- پستا- حسن- فرهنگ روابط بین المللی. ۳۶۳ مخ

[٧] مشرف- پرویز٠ درخط آتش- ۳۱۲ مخ، په دري ژباړه: سید هارون یونسي، میوند خپرندویه ټولنه

# اتم څپرکی

## د پاکستان له سوپر شیطاني پلانونو سره مقابله

د دې سکالو د دقیق بیان او سم ځواب لپاره لازمه ده چې اساسی پوښتنه مطرح کړو: له څینو لنډو وختو پرته پدې اووه لسیزو کې پاکستان ولې تل برلاسی دی؟

زموږ ستره تاریخي کمزورتیا زموږ په شعار زدګی کې ده چې له ستونزو او مصیبتونو سره زموږ د شعوري چلند مخه نیسي، البته چې د دې تاریخي لامل هماغه د عقل د حاکمیت نشتون دی چې د شرقي ذهن او عادت له مخې د هغې طرح "کسرشان" او ان سپکاوی ګڼو.

تر څو دا پوښتنه په سیاسي هوښیارۍ ونه چېړو او د خپلې کمزورۍ او ناکامۍ لاملونه و نه پېژنو د دغه مصنوعی او د ښکیلاک زېږند هیواد، له بې ټیکاوه سیاسي سیستم سره چې نیم عمر یې په کودتاګانو او پوځي واکمنیو تیر شوی، بایلونکې یاستو او د هغوی د سوپرشیطانی او ا نګریزي ډوله پلانونو په وړاندې به مقابله ونشو کړی. له لومړني جمهوریت نه تر اوسه زموږ تاریخي زوال دغه پوښتنې ته له ځواب ورکولو سره غوټه شوی دی.

د دغه هیواد د کړنو ناوړه پایلو، د نړۍ د سترو قدرتونو او لومړۍ درجه پوځي سازمانونو پښه ؛ په اتیایمه لسیزه کې شوروي اتحاد او د وارسا تړون او اوس امریکا او د ناتو تړون، زموږ خاورې ته را اوړدې کړې دي، د روزګار له عجایبو نه ده چې

بیا د نسکوربېدو په مخځوړ کې دقیقې شمارو او خوبښ یاستو چې: پاکستان ته "دالخور" ووایو خپل درد تسکین او پټ کړو او ځان تېرایستنې ته دوام ورکړو!!!

زموږ د هیواد او خلکو خلاف په دې لوبه کې د پاکستان د "بري" شاه کلي او اصلي راز څه دی؟

په اووه لسیزو او په تېره بیا په وروستۍ نیمه پېړۍ کې، په تر ټولو کړکېچنو شرایطو او د بین‌المللی سترو لانجو پلندۍ کې د سرې جګړې له مهاله د "لویو لوبو" تر نوی پیر او د نړیوالې جیوستراتیژیکې سیالۍ تر زیاتیدوزد امریکا له اووه ولسمشرانو او دکرملین د شپږو پازوالانو د ستراتیژیک دوست په توګه، د رقیب هندوستان له ستر قدرت سره په دایمي دوښمنۍ د اقتصادي دېو چین، د ځواکمن پوځ او د "اسلامی اټوم بم" لرونکی او "د ناټو غېر اروپایي شریک" د یو سیمه یز ځواک په توګه مطرح دی. په داسې حال کې چې نوره د شیطان له کفر نه مشهوره ده چې: پاکستان د نړۍ د شراچوونکو مرکز او د تکفیري ذهنیت او د ترهګرو د تولید تر ټولو ستر زیرمتون دی چې ان د هغه هیواد ستر ملاتړ امریکا هم پدې اعتراف کوي چې په ۲۰۱۸ ز کال کې د ښاغلي ټرامپ لومړني ټویت هم په ډاګه کړه.[۱]

د پاکستان نااعلام شوې جګړه څلورځلویښت کاله مخکې د ورانکارو په روزلو، سمبالولو او لېږلو پیل او تر اوسه په ټولو اړخونو کې دوام لري او د مادي او معنوي شتمنیو او د ملیونونو افغانانو په شهادت افغانستان د هغه هیواد د تیري قرباني دی.

خو دریغه او سل افسوسه چې اوس د افغانستان دا تاریخی دوښمن زموږ برخلیک ټاکي او زموږ لپاره بیا هم لنډمهاله حکومت جوړوي[۲] او د تېرلاستي (سیاسي جلابان) د دې کرغېړنو او شیطانی پلانونو سره د همغږۍ لپاره د پنجاب دربار ته ځغلي.

د دې قلم له انده، د پاکستان د بري اصلي رمز او شاه کلي په دغه هیواد کې د دولت د موسسې پایښت، ځواکمن وسله وال پوځ، پیاوړې استخبارات، ماهرملي کادرونه او په نړۍ کې د لابي ګرۍ ستر توان دی.

پاکستان د خپلو ملي ګټو دقیق او روښانه تعریف لري چې هر پاکستانی ملکي او پوځي، ملا، سوداګر او...پرې باور لري. د دغه باور پر بنسټ د پاکستان هیڅ واکمن، جنرال او مولانا له هندوستان او افغانستان سره له دوښمنۍ لاس نه اخلي.

برخلاف موږ څه دریځ لرو؟

په ټولو دغو پړاوونو کې، موږ د دولت د کمزورۍ لاروهلې او سقوط، انارشي او د پاکستان مستیقیم لاسبری مو تجربه کړی او تر ټولو د زیات شمېر کډوالو، شهیدانو، معلولینو، یتیمانو، کونډو، معتادینو او... په لرلو په نړۍ کې تر ټولو ناامنه هیواد پېژندل کېږو.

په وروستیو نولس کلونو کې، د ملیاردونو ډالرو په لګښت د ترټولو ستر پوځی یرغل کې د امریکا، د ناټو سازمان او د هغې د متحدینو پراخه شتون، د دولت پرځای، جهادي-طالبي او مافیایي او کلیپتوکراسي ډول سهامی شرکت واکمن او د آزاد بازار پر ځای یې د فساد بازا خپور او د نړۍ ترټولو د فاسد دولت په توګه ثبت شوي یاستو.

د مشروعیت بحران، د باور بحران او ملي نفاق هغه ستر مصیبتونه دي چې د ملي واکمنۍ د حق او د ملت - دولت بهیر ته د تېریدو دعملی کولو او د سولې او پرمختګ پر لوي واټ د تګ خنډ کېږي .

 د افغانستان کمزوري یا د آشیل پونده [په هغه کمزورۍ دلالت کوي چې سره عمومي سلامتي ا وتوان کېدای شي د ماتې او زوال لامل شي ]، د قانون اوعدالت پلي کوونکي ملي دولت نشتون دی چې لاره ملي ځواکمن واک ته هواره کړي چې موږ

د ملي ګټو روښانه تعريف ولرو او د ملي وحدت او د هيواد لوړ مصلحتونو په منګولو کې نيولو سره ( چې د ټولواک امان الله په وينا د افغانستان شتون يې په لاس کې دی) او شوونيزم او سکتريزم او ځان محوری، تنظيم محوری، قوم او سمت محوری ته په نه ويلو سره ملي نفاق له اور نه تېر شوو.

همدا د ملي دولت نشتون لامل شوي چې د اروا ښاد مجروح په قول د «قوه جاذبه ی المرکز پر ځای قوه ي دافعه عن‌المرکز»[۳] د جنګسالار په زور او زرو" قانون خلافه مرکز تښتېدونکو او بې قانونه مرکز خوښوونکو "ته لار برابره شي چې د خپلو شخصي ګټو په پار د پرديو او ورسترګو ګاونډيانو د جيوپوليتيک ګټو په چوپړ کې د دولت موسسه لېرې کړي.

په وروستيو مياشتو کې چې د امريکا د ځانګړيو ګټو په حساب د سولې له سريال نه د ځلوبي (سراب) څپه جوړه کړې ده، موږ په ښه توګه د دې واقعيت د رښتينولۍ لامل ګورو چې د سياسي جلابانو يوه ډله د افغانستان د خلکو له نامه پرطالبانو داغېزمنو هيوادونو پلازمينو ته سرګردان دي، د هڅو حاصل يې د "طالبانو بدی پاکول" او د دولت اداري "مشروعيت له منځه وړل" او د "لنډمهال دولت "جوړولو لپاره د پاکستان پلان ته لار جوړول او د هغه هيواد تر قيموميت لاندې د طالبانو اسلامي امارت صادرول دي.

په دغه لور روستۍ هڅه د پاکستان لاهور ښار ته د يو "دلګي" سياستوالو(سياسي جلابانو) بيړنۍ سفر وو چې د«تاند» رپوټ له مخې د دوی له سپکاوی سره مل شو.

د سياسي جلابانو په دغه "دلګي" او "د اضدادو ټولګه" کې له ښي افراطي تر کيڼ افراطي او د سکتريزم او شوونيزم له بيلګو او له شيعه تر سني او... ټولو له يو ګريوان سر راويست او د پاکستان د بهرنيو چارو د وزير لکچر يې، لکه د لومړنيو ښوونځيو د تنبلو شاګردانو غوندې په خاصه مينه والۍ واورېد. په داسې حال کې چې تر يوې بلې اوونۍ د قطر دناستي اوومه دوره پلان شوې او د په اصطلاح د لاهور کنفرانس

د کار په اجندا کې دطالبانو حضور او یا د پاکستان له سیاسي گوندونو سره کتنه مطرح نه وه، پوښتنه را مخته کېږي چې کومې پټې موخې او یا تر کاسې لاندې نیم کاسه شته دی.

په مسکو کې له طالبانو سره د "سیاستوالو" د دویمې غونډې له ناکامۍ وروسته، د سولې په بهیر کې د افغانستان د دولت گډون او نقش ته پاملرنه وشوه.

د امنیت شورا د دایمی غړیو درې سترو قدرتونو (امریکا، چین او روسیه)، د اروپا اتحاد په خاصه توگه د المان او ناتو د سکرتر جنرال غونډو دې ته اشاره او ټینگار درلود.

په دې توگه څرگنده ده چې د "لاهور کنفرانس" د افغانستان دولت د دریځ کمزوري کولو او پاکستان ته د ولسمشر په څو ورځې وروسته سفر باندې د اغیز او د "لنډمهاله حکومت" د طرحې د مطرح کولو لپاره تنظیم شوی دی. لکه څرنگه چې یو شمېر شنونکو او د پاکستان مطبوعاتو هم په دې برخه کې د پردې ترشا موخو باندې ټینگار کړی دی.

په داسې حال کې چې په کنفرانس کې طالبانو او د پاکستان سیاسي گوندونو حضور نه درلو، دغو کسانو خپل نظریات پخپلو منځو کې البته د پا کستاني "چارواکو" په شتون کې بیان کړل. پاکستان د کنفرانس په جوړېدو سره افغانستان ته وښودله چې د دولت پر بیلابیلو مخالفینو نظارت او لاسبری لري او کولای شي هغوی په پنجاب کې راټول کړي.

په دې "کنفرانس" کې ترسره شوې خبرې د خلکو د ژوند اړوند تر ټولو اساسي مسایلو، جگړې او سولې په هکله وې چې د افغانستان شتون د هغې د حل وفصل څرنگوالي پورې تړاو لري:

- ډېر عام او هوايي
- کمه او اسانه ګڼل
- بې پلانه او بې کرڼلارې
- له محوري ارزښت پرته
- پوپوليستي

د اسلامي جمعيت له لوړپوړو نه ښاغلی محمد اکرام انديشمند چې په دغه کنفرانس کې يې ګډون درلود، پخپل فيسبوک کې ليکلي دي:

«دا ګواکې د افغانستان رهبران چې د پاکستان مري کې د سولې په کنفرانس کې خبرې کوي د جوماتونو د امامانو او واعظانو غونډې خبرې کوي. دوی د سولې لپاره هيڅ مشخصه طرح نه وړاندې کوي.دوی رښتيا هم نه پوهېږي. چې له دوی سره افغانستان نه کوم ځای ته رسېږي او نه سولې ته.»[٤]

د دواړو هيوادونو په اسلاميت وار وار ټينګار ښايي د دغو ښاغليو "نوی کشف" وي او ګواکې خبر ندي چې همدې اسلامي هيواد او خبيثو مولاناګانو يې له څلورو لسيزو په زياته موده کې زموږ خلک هلاک کړی دي او افغانستان د پاکستان دا سلامي جمهوريت د نااعلام شوې جګړې او تېري قرباني دی.

ښه ده چې ښاغلي يې په ياد ولري چې د هيوادونو د بهرني سياست موخې يې د هغوی ملي ګټې تعريفوی اوايدیالوژيکې او ديني طرحې او په هغو کې له اسلامي اخوت نه د هغوی د انساني ضد کړنو د پټولو په پار ناوړه ګټنه کېږي.

د دغو ښاغليو د خبرو څو برخو ته لنډه کتنه د لويو ادعاو او ان د ولسمشرۍ نوماند ښيي چې:

که دا ښوونځی وي او دا ملا
د ”هیواد“ حال خراب وینم

عطامحمد نور داوبو د ستونزې په اړوند په اوږده موعظه کې وفرمایل چې: «په شرعی حساب هم کولای شو دا موضوع حل او د کونړ سیند د بریښنا بند جوړ کړو» لکه چې دا ښاغلی خبر نه دی چې د ملتونو ترمنځ معاصرو حقوقو کې پدې برخه کې قواعد شته دی او ملګرو ملتونو د بین‌المللي اوبو په هکله ځانګړی کنوانسیون تصویب کړی دی.

زموږ هیوادوال اوس قضاوت کوي چې د پاکستان د تېري د دوام د یو اساسي لامل په هکله موږ څنګه فکر کوو!!!

د ولسمشرۍ نوماند لطیف پدرام د پاکستان د موجودیت په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره، په لک بخشې سره شخصي او د خپل ګوند نظر د ډیورنډ د تپلي او استعماري کرښې درسمیت پېژندلو په هکله په پاکستان کی اعلام کړ. دا موضوع مختلف اړخونه لري چې په جلا ډول به بیان شي او د روان بحث په اړوند باید ولیکو:

د نړۍ په کوم هیواد کې داسې دود او اجازه شته چې د دوه دوښمنو هیوادونو د اختلاف یوه عمده مسأله دې د یو رسمي ګوند مشر او ولسمشرۍ ته نوماند د دولت د سیاست مخالف او د هیواد د ملي ګټو او مصلحتونوخلاف ټېري کوونکی او دوښمن هیواد ته باج ورکړي!!!

له بلې خوا هرڅوک چې په روانو حالاتو کې د پاکستان د تېري دلیل د ډیورېند کرښه بولي، په دې معنا ده چې د سیمه یزو او بین‌المللي جیوپولیتیکو پیچلیو عواملو او د افغانستان د خونړي ناورین د دوام لسګونو نورو لاملونو له پېژندنې بې خبره دی او له دې پرته دغه راز طرح صاف او ساده پوپولیستي او د پاکستان جیوپولیتیک ته چوپړ دی.

له بل پلوه د نظام او سیاسي رژیم د نوعیت اړوند مسایلو طرح د افغانانواړوند کورنۍ او انحصاري موضوع ده چې له پاکستاني "چارواکو" سره یې طرح کول په دې معنا دي چې: عمران خان "حق" لري موږ ته د لنډمهالي دولت استعماري نسخه ولیکي.

ښاغلي حکمتیار په دغه کنفرانس کې په ښکاره وویل چې: «موږ به افغانستان کې د پاکستان د پایښت لپاره مبارزه کوو.»

البته د ښاغلي حکمتیار لخوا د دغه راز خبرو ویل په دې پنځه څلویښت کلونو کې چې د پاکستان د موخو په چوپړ کې دی، د تعجب وړ خبره نه ده. نوموړي څلورڅلویښت کاله مخکې د پاکستان دڅارګرۍ ادارې په لارښوونه او د سرحد صوبې دهغه مهال ګورنر جنرال نصیرالله بابر تر مشرۍ لاندې، ورانکارۍ ډلې چمتو کړې او د هغه هیواد لومړنی تیری یې د افغانستان د لومړني جمهوریت او ارواښاد محمد داود په خلاف تر سره کړ. ده د هغه هیواد د نااعلام شوې جګړې یوه عمده وسیله په ۱۹۹۰ز کال د افغانستان او پاکستان د کنفدراسیون طرح له غلام اسحاق خان سره ومنله او په نویمه لسیزه کې یې د ضیاالحق آرمان او خوب چې: «کابل باید وسوزي » له خپلو تنظیمي شریکانو او رقیبانو سره په واقعیت بدل کړ. او داځل د عمران خان د طرحې دتحقق لپاره د خپل عمر په وروستیو غشو په وینو لړلی وطن ولي.

د دولتی امنیت د ریاست پخوانی رئیس رحمت الله نبیل او د ولسمشرۍ نوماند د"لاهور کنفرانس" د ګډونوالو په هکله یوه لنډه تبصره لري چې یوه برخه یې (سپوتنیک – افغانستان) له ویب پاڼې (سایت) نه نقلوم:«... د ځینو کارېي آسان کړ، په نورو هیوادونو کې له محرمو تیلیفونو او پټو کتنو څخه ځانونه هوسا کړل، داځل یې په مستقیم ډول امرونه او "شاباسئ" واخیستې:

«به هر رنگی که خواهی جامه می‌پوش
من از طرز خرامت می‌شناسم»[5]

په ټوله کې دې ښاغلو ته لوړ ارزښتونه:

- جمهوریت
- د قانون واکمنی
او له
- امارت
- او شریعت له واکمنۍ

سره یې ماهوی توپیر، دومره توپیر نه لري او د طالبانو پېژندنې او د افغانستان جګړې ته د دوام ورکوونکو د پیچلو موخو په هکله د هغوی مالومات ډېر ابتدايي او ګواکې په پرېښانه او تنبل ذهن دي او د۲۱مې پېړۍ واقعیتونو ته د منځنیو پېړیو نسخه ورکوي.

لکه څرنګه چې محقق په ډېره سرسري کتنې مطرح کړه چې:« ... له شوروي وروسته تروریستانو د باکستان او افغانستان په اړیکو کې ناسم پوهاوي رامنځ ته کړ او اوس باید دواړه هیوادونه په ګډه دغه ناسم پوهاوي له منځه وېسي.»

په دې توګه ښاغلي د ډېرو لوړو دعواو د دې اوتو بوتو په ویلو سره غواړي، پاکستان ته خپل اخلاص د تاریخي حقیقتونو، په مسخ کولو سره تمثیل کړي. بې دلیله نه ده چې د لاهور کنفرانس کې ګډون کوونکو ښاغلیو هیڅ یو :

- د پاکستان د نااعلام شوې
- د هغه هیواد د تېري
- د ملکي وګړو د وژلو او جنګي جنایتونو

- په پاکستان کې د طالبانو د مرکزونو شتون او له هغوی سره د پاکستان دهراړخیزو مرستو په هکله هیڅ خبره ونکړه.

برخلاف لکه د لمر روښانه حقیقتونو په تحریف سره یې، تېری کوونکی پاکستان د افغانستان د جګړې "قرباني" وباله. دغه راز څرګندونې له افغانستان سره ښکاره خیانت دی چې: د پاکستان د ناعلام شوې جګړې او له هغه هیواد نه د تنظیم شوي ترهګرۍ هدف دی.

دا دریغ په ښکاره د افغانستان شهیدانو، ټپیانو، معلولینو، معیوبینو او کونډو ته بې احترامي ده.

د افغانستان د وسلولو ځواکونو په وړاندې بې احترامي چې همدا اوس په سرښندنه د نااعلام شوې جګړې او د ترهګرو د جنایتونو په وړاندې جنګېږي، د دغو ښاغلیو نه بښونکی خیانت ګڼل کېږي. همدا اوس د دغو ښاغلیو هر یو یې د وسله والو پوځونو د ځومنسوبینو لخوا ساتل کېږي.

همداړول له هیچا پټه نده چې دغه ښاغلي د موجود دولت د سهامي شرکت غړي دي او پرله پسې یې له امتیازاتو ګټه اخلي خو لیدل کېږي چې دغو ښاغلیو په مسکو او لاهور کې د دولت "فاتحه" د پردیو فتوا وبلله.

تاریخ ګواه دی چې پاکستان او ایران له بین‌المللي استخباراتو سره په جوړجاړي کې، اووه ګوني او اته ګوني د خپلو برلاسیو غوښتونکو او استعماري موخو لپاره جوړ کړل او په پاي کې یې افغانستان د هغوی د رقابت قرباني کړ.

اوس د سولې بهیر په هکله هم غواړي هماغه استعماري نسخه تطبیق او په مسکو، قطر، لاهوراو... کې په اصطلاح "پروژې" په کار اچوي، خو څرګنده ده چې څومره قصابان زیات او د لوبغاړو سیالي زیاته شي، هومره یې زیان رسوونکې پایلې زیاتېږي.

د ”نیکې فضا“، ”نیک فرصت“، ”د پاکستان او افغانستان په اړیکو کې نوی فصل“ مصنوعي تبلیغول او د دې اعلام چې: «پاکستان د افغانستان سولې ته ژمن دی» او نور «د ستراتیژیکې ژورتیا سیاست» نه تعقیبوي او... چې په عمده ډول ښاغلیو اتمر او ولي مسعود په خپلو ویناو کې وویل. فاعتبروبا اوالابصار!

په دې توګه دغه د لاهور کنفرانس (شرم فرانس) پاکستان ته د اخلاص او ارادت له څرګندولو او له شخصي، تنظیمي او ټاکنیز کمپاین پرته بل څه نه وو چې هغه هیواد ته د ولسمشر د سفر په درشل کې د پاکستان د لاسبرۍ لامل شو.

دې ښاغلیو په مسکو او لاهور کې د پاکستان په ډېره مهمه غوښتنه چې د طالبانو په پرله پسې غوښتنو کې ځلیدی، تایید کړه او د طالبانو د ”بدیو په پاکولو“ په یو ډول، د هغوی د ”مشروعیت “ او د افغانستان دولت د دریځ د کمزورۍ لامل شول چې پایله به یې، د طالبانو د اسلامی امارت استقرار شي.

د ملي مقتدر دولت او د قانون د واکمنۍ نشتون دغو ټولو ”ډرامو“ ته لار هواره کړې ده.

لکه د لمر روښانه ده چې په دې اتلس کلونو کې استعماري موخې لامل شوې دی چې په افغانستان کې د دولت پرځای، جهادي- مافیایي سهامي شرکت جوړ شي او د امریکا دولت او ښاغلی جان کېرې زموږ ملي حاکمیت د ټاکنود دوه مخکښو سیالو ډلو ترمنځ وویشه.

د دغه نقب کیندلو په پایله کې د دین د سوداګرو، د ”جهاد“ ټیکه دارانو، د قوم دوکاندارانو او سیاسي جلابانو، اوس په ښکاره د پردیو د جیوپولیتیک په ګټه ”پک“ (د اوبو راشبیل) ووهي او د هغوي د ګټو ممثل وي.

په دغه لار کې، پاکستان د دوښمن هیواد په توګه، په زیاتو تنظیمیانو افغانانو

زیادترین اغېز لري او... ان د دولت په دننه کې یې پنځمه ستن فعاله ده.

که په افغانستان کې قوي ملي دولت او دقانون حاکمیت شتون درلودای، باید دغه ښاغلي د هیواد داساسي قانون او جزايي کود پر اساس د عدلي تعقیب لاندې نیول شوي او محاکمه شوي وای.

سل افسوسه او په دغه دردوونکي نشتون کې باید دغه سیاسي جلابان د خلکو د قضاوت په محکمه کې محکوم شي او لږ تر لږه باید لاندني تدبیرونه یې په هکله عملي شي:

- ممنوع الخروج اعلان شي او له هیواد نه بهر غونډو کې له ګډون بند شي.
- باډیګاردان او ساتونکي ترې واخیستل شي او مادی امتیازات یې بند شي.

د نافذ اساسي قانون پر بنسټ، جګړه او سوله د دولت له انحصاري واکونو څخه دي. دولت د خپلو پازو د ترسره کولو لپاره باید د عزت او مشروعیت د عملي کولو په مسیر په خلکو تکیه وکړي او د خلکو د رښتیني ګټو او د هیواد د ملي ګټو لپاره قانون ته پناه ویسي. یوازې او یوازې د قانون بې شرطه او یو شان تطبیق کولای شي د بې باورۍ د کړکېچ مخه ونیسي.

د خلکو اساسي غوښتنه رښتیني او تلپاتې سوله ده او دا آرمان د یو رښتیني مکانیزم په وجود کې ترسره کېږي. په روانو حالاتو کې د دغه مکانیزم یوازنۍ وسیله همدا موجود دولتي اداره ده چې د داخلي کمزورۍ له امله نشي کولای خپلې دندې ترسره کړي.

خلک له تاریخي تجربې پوهېدلي دي چې عمل د حقیقت ملاک دی، په دې ډول که د رښتینی خدمت کولو نیت شتون ولري، د خلکو د ډېره کې: ځوانانو، ښځو، اړمنو او بیوزلانو، کډوالو او بې ځایه شویو اوهیواد ته ژمنو روڼ اندو او... چې په

ټوله کې درښتينې سولې غوښتونکي دي، همغږي دې ترلاسه کړي.

باید تل په یاد ولرو چې اصل او کلاسیک تعریف چې بهرنی سیاست د کورنی سیاست ځلا ګڼل کیږي، هماغه ډول اصالت لري اوهغه دولت چې د خلکو ملاتړ ونلري، هیڅکله نشي کولای په بین‌المللي اړیکو او بهرني سیاست کې د ملي ګټو مدافع وي.

د تاریخ تجربه د دې واقعیت ګواه ده چې د ملی نفاق، د بې باورۍ تیت او پرکتیا او څو ډلېتوب په کړکیچنو حالاتو کې، هیڅکله لوړو موخو ته رسېدل شوني (ممکن) نه دي.

نو تر ټولو مهمه ملي دنده د اده چې ټوله پاملرنه مو د ملي بې باورۍ د کړکیچ کمښت او د قوي ملي روحیې رامنځته کولو ته واړوو.

په دې څو لسیزو جګړو او کړکیچ کې مسایلو داسې بڼه غوره کړې ده چې یوازې یو د کړکې وړلړه کې په خپلمنځي معاملو او د خلکو غیاب کې د خلکو برخلیکونه ټاکلي دي او ګواکې چې د دوی په ګډون کې موږ ملي "یووالی" درلود او د دوی په کمیدو کې هرڅه ګډوډ شوي او هیواد یې د تباهۍ خواته بوولی دی.

اوس ټولنې بدلون موندلی او باید نویو خوځنده ټولنیزو ځواکونو ته لارجوړه کړو. د سر په سترګو ګورو چې د تکړښت( سپورت)، زده کړو، موسیقي، ودانیزاو ... ډګر کې ځوان اتلان د زرګونو افغانانو له خپلې خوښې او خودجوش هرکلي سره مخامخ کیږي خو ښاغلي جلابان له سترو دعواو سره سره د خپلو لاریونو اوغونډو لپاره کرایي کسانو ته اړ دي. زموږ د ډېره کې زړه ورو او تاریخ جوړوونکو ځوانانو حالت هغو زمریو ته ورته دی چې برخلیک یې د ګیدړانو په لاس کښل کیږي.

هغه کسان چې د ځوان کول (نسل) په ځواک او اراده شک لري د وسله والو

ځواکونو مبارزې او زړورتیا ته دې پام وکړي چې د ترهګرو او د پاکستان د تېري په وړاندې څرنګه جنګېږي.

د پاکستان د سوپرشیطاني پلانونو په وړاندې مقابله باید د یوملي منشور په وجود کې تر سره شي. داسې منشور چې باید د ستر ملي او له قومي، سمتي او مذهبي تنګ نظریو لوړ فکر او د ټولو د پراخه خبرو اترو محصول وي او وکولای شي د افغانستان د ملي ګټو او مصلحتونو دقیق تعریف ثبت کړي. په دې ملي منشور کې باید د پاکستان او نورو ګاونډیانو "روا " ګټې پوره وپېژنو، چې وکولای شو د سیمه یزو جیوپولیتیکو رقیبانو د نیابتي جګړې له شر نه لېرې اوسو.

د پاکستان له سوپرشیطاني پلانونو سره مقابله باید د "سترو لوبو" نوي پېر او داسې آړونو (شرایطو) کې ترسره شي بین‌المللي جیوپولیتیک رقیبان( امریکا، روسیه او چین) چې زموږ د تاریخي مقدراتو لپاره پخپلو کې، په خبرو اترو کې دي له شک پرته د افغانستان په ستونزو او مصیبتونو کې ټول ښکیل سیمه یز او نړیوال قدرتونه، نه غواړي عادي څارونکي اوسي.

په داسې ډېرو پیچلیو حالاتو کې د زیاتو خطرونو د پېښیدو احتمال شتون لري، د امریکا له احتیاط ډک سیاستونه چې د تروریستانو د منډ نښه ورته تل معلومه ده او په ټوله موده کې یې په پاکستان کې د ترهګرۍ جرړې خړوب کړي او د کوچنیو ځانګو غوځولو لپاره یې زموږ بې ګناه وګړي قربانوي، تل جدي ګواښ دی.

د تاریخ ډاروونکې تجربه مو باید تل په یاد وي چې نه یوازې د سترو قدرتونو لشکر کشۍ زیانمنې دي، بلکې غېرمسوولانه تلل یې چې دواړه د ملي ګټو په حساب تر سره کېږي، د افغانستان او ان سیمې لپاره په کراتو زیاتې بدمرغه پایلې لري.

د ملي منشور د طرحې اړتیا خلکو ته ژمنو روښ اندو ته چې د لیکوال زیاترین مخاطبین دي جدي پاره متوجه کوي ترڅې د هغه په شا تلونکی تګ او تکفیري ذهنیت په

وړاندې چې افغانستان يې په نښه کړی دی خپلو ګډو هڅو ته پاملرنه وکړي او د سولې "پروژې" تر کاسې لاندې نيم کاسو درسوا کولو لپاره پراخه تنويري کار وکړي. بايد د لوړو او نړيوالو ارزښتونو د دفاع شعار آګاهانه مطرح کړو چې:

- جمهوريت غواړو نه امارت
- د قانون حاکميت غواړو نه د طالبانو د جوړکړي شريعت حاکميت

البته د ابليس له کفر نه هم زياته مشهوره ده چې دغه راز ارزښتونه د انساني رښتو (د بشر حقوقو) جارچيانو او امريکا ته چې زموږ تاريخي برخليک ټاکي، خاص ارزښت نلري او د دويم جمهوريت او د افغانستان خلک ديموکراتيک ګوند (وطن ګوند) په برخليک له جهادي تنظيمونو سره تاريخي تجربه مو په ذهن ده. افغانستان سختې او برخليک جوړوونکې ورځې تيروی او زموږ هيواد تر ټولو اوږده جګړه زغملې او زموږ خلک پکې ستره قرباني ورکړې ده، حق لري چې د تلپاتې سولې لويې لارې ته ورتېر شي.

د اميد " انقلاب" په ساتنې سره او دعقل د واکمنۍ په رڼا کې په زړورتيا او په سياسي هوښيارۍ تکيه او د افغانستان د ګټو او مصلحتونو په ټينګولو سره بايد د مورني وطن ټپي غږ ته وړ ځواب ورکړو او د پاکستان د سوپر شيطاني پلانونو او د پرديو نرمو فريبونو په وړاندې د وطن د شتون او شتمنۍ ګډه دفاع او د رښتينې او تلپاتې سولې لپاره هڅه وکړو.

د دې بحث د ښه پای په توګه:

ټيټ مې بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه په دې افتاده ګۍ کې لوي ګړنګ يم [٦]

**سرچيني**

---

[1] د آسيا د جنوب ستراتيژۍ په اعلام پسې، ولسمشر ټرامپ د ۲۰۱۸ زکال د جنوري په لومړۍ د نوي زيږديز کال پخپل لومړني ټويټ کې، پاکستان د تروريزم منځی(مرکز) او جنجالي هيواد په توگه ياد کړ.

[2] لنډمهاله حکومت چې اوس د ژبو پر سر دی، د (رنډ کواپريشن او آی اس آی) طرح ده چې د عمران خان لخوا مطرح شوې ده.

[3] مجروح سيد شمس الدين- خاطرات

[4] د څېړونکي او ليکوال محمد اکرام انديشمند له فيسبوک نه

[5] د «سپوتنيک – افغانستان» سايت نه

[6] دا شعر د افغانستان د نامتو ملي شخصيت اروا ښاد سيد شمس‌الدين مجروح دی

# نهم څپرکی

## د سولې په بهیر کې د ښځو د رښتو او آزادیو دفاع

دا سکالو (موضع) له اساسي بحثونو څخه ده چې یوازې د قانون حاکمیت او د اساسی قانون په دویم څپرکي کې د کښل شویو لوړو ارزښتونو د ساتنې په رڼا او د ټولو خلکو د حقونو او آزادیو په جمله کې خوندي او شوني کېږي. طالبان دا سکالو پرله پسې اسلامي احکامو او له ځان جوړ کړي شریعت ته حواله کوی، په داسې حال کې چې افغانستان کې له نیمې پېړۍ راهیسې مدني کُد نافذ دی چې په ټوله اسلامي نړۍ کې د اسلامي ترین قانون په توګه پېژندل کېږي او باید له طالبانو سره د سولې په بهیر کې د هغې پلي کول او دوام د ښځو د رښتو (حقونو) د مدافعانو په سرلیک کې ځای ولري.

د همدې سکالو په اړوند هغه یاداشت چې افغان مېرمنو ته د مېرمن خلیل‌زاد له سپکاوی نه ډک لیک په ځواب کې له دي قلم نه خپور شوی وو، د دې کتاب له ګرانو لوستونکو سره شریکوم او د افغانستان ښځو ته یې ډالۍ کوم:

اغلې شرل بنارد خلیل‌زاد ته خطاب!

د ښاغلي خلیل‌زاد مېرمن اغلې شرل بنارد په هغه مقاله کې چې « نشنل انترست» کې خپره شوې، افغانستان پر مېرمنو د برید په ترڅ کې لیکلي دي:

«په افغانستان کې ښځینه مدافعان نشي کولای چې د امریکایي پوځي ځواکونو د ستنېدو مانع شي. کابو دوه لسیزې کېږي چې امریکا په افغانستان کې د ښځو د حالت

ښه والي لپاره کار کړی دی. واشنګټن د افغانستان د اساسي قانون پر تدوین نظارت درلود چې د هغوی حقونه یې تامین او په ولسي جرګه کې یې شتون تضمین کړی دی. د هغوی لپاره یې ښوونځی او مدرسه جوړه کړه، بورسیه یې ورکړه، کلیوالي سیمو د نجونو لپاره لیلیې جوړې کړې چې هغوي وکولای شي د ښار پوهنتونو کې زده کړې وکړي.آزادي او برابري د ډار او وحشت محصول نه دي چې وکولای شي هغه د نورو په پوځ او پیسو ترلاسه شي.»[۱]

مېرمن بنارد دغه راز د امریکا د ۲۵۰۰ سرتېرو وژل او د ۱۲۶ ملیارده ډالرو لګښت ښځو او په واقعیت کې ټولو خلکو ته د پېغور په ډول یادوي .

مېرمن بنارد ته باید ووایو هیڅ افغانۍ ښځې او نارینه ستاسو دعسکرو د راتګ لپاره بلنلیک نه دی درلېږلی، تاسو ښه په جریان خبر یاست چې د امریکایي عسکرو یرغل له مخکې د پلان شویو موخو پر بنیاد او دهغه هیواد د ملي ګټو پر اساس او د جیوستراتیژیکو او جیوپولیتیکو مصلحتونو په لار کې تر سره شوی دی چې زموږ مظلومو خلکو پکې تر ټولو زیاته قرباني ورکړې ده او ستاسو د عسکرو د تلفاتو څو سوه برابره یې شهیدان، معلولین او... ورکړي او په وروستیو څلورو کلونو کې چې د امریکایي عسکرو تلفات یې ۶۷ کسان او د افغان وسله والو ځواکونو یې ۴۵ زره کسان اعلام کړي دي چې هره ورځ دوام لري.

مېرمن خلیل زاد! په یاد یې ولره چې افغانه ښځه خپل حق او آزادي له امریکا ګدایي نه کوي او په دې اصل په ښه توګه باور لري چې حق اخیستل کېږي او په خاطر یې باید مبارزه وشي.

البته د شیطان له کفره هم مشهوره ده چې ته، ستا ګران مېړه ښاغلی خلیل زاد او ستاسو متبوع دولت د افغانستان پوروړی او مدیون یاست.

د افغانستان خونړۍ تراژیدي د بهرنۍ لاس وهنې او تیري محصول دی. له هماغه

لومړي جمهوريت او ارواښاد محمد داوود له وخت نه د "سنتو" د پوځي تړون غړي پاکستان نااعلام شوې جګړه ستاسو په موافقه او د وخت شوروي اتحاد چاپېر د " شين کمربند" تر شا پيل شوی ده. په وروستيو پېښو او د ۱۹۷۹ز کال په جولای کې د ترهګرو د روزنې لومړنی کمپ او د شوروی پوځيانو د پښې د راکش کولو او په دوام يې زموږ د هيواد "ويتنام" جوړولو لپاره، د هغه خونړۍ سناريو طراح برژينسکي د افغانستان په لور له خيبر درې نه د مرمۍ په سمبوليک ډز سره پيل او تر اوسه له څلورو لسيزو نه په زياته موده کې افغانستان د سړې جګړې د ډګراو اوس منځنۍ آسيا ته د ننوتلو دلارې په توګه قربانۍ ورکوي.

مېرمن بنارد!

د تاريخ د خونړۍ پاڼې پرانيستل له دې امله دي ترڅې ښه پوه شې چې د امريکا عسکر د افغانو ښځو او يا د بشر د حقونو او ... دفاع لپاره د افغانانو خاورې ته ندي راغلي. نور د ښوونځيو د لومړنيو ټولګيو ماشومان هم پرې باور نلري. له دې امله هغه څه چې لکه لمر روښانه دي: چې زموږ د خلکو په وړاندې د رقيبو قدرتونو او د امريکا د دولت اخلاقي مسووليت چې د افغانستان د خونړي ناورين لامل دي.

د ديموکراسۍ د ډالۍ يادونه شوې ده خو افسوس چې په سياسي علومو کې دې ديموکراسۍ ته کليپتوکراسي وايي او د اقتصاد په علم کې دغه ډول آزاد بازار ته د فساد بازار وايي.

په لنډ ډول بايد ووايم چې افغانستان کابو يوه پېړۍ مخکې لومړنی اساسي قانون درلود، د ښځوغورځنګ او ارشادالنسوان او له آروپايانو سره همسويه ملکه درلوده[۲] خو د انګريز ښکيلاک د جهل او تيارو سرغنه و، ګوډ ملا او کلکاني حبيب الله ته لار پرانيسته او همدا راز د پېړۍ په وروستۍ کې يې، د افغانستان اساسي قانون، د ښځو غورځنګ او ملي اردو همدغه د امريکا دولت دوستانو او متحدانو له مينځه ويوړ.

د تاریخ له عجایبو نه ده چې دا ځل هم ستاسو بې صبره ولسمشرغواړي د دریم ځل لپاره د افغانستان د نسکورېدو تجربه تر سره کړي خو پام کوئ چې ستا میړه ښاغلی خلیل زاد، د خپل مورني وطن پر برخلیک، پاکستان واکمن نکړي او د افغانستان په ناسور ټپ زیاتي مالګه ونه ښیندي. له دې پرته ډاډمن اوسئ چې افغان زړورې، صبرناکې او سخت سرې او زمونږ غیرتي خلک کولای شي چې د خپل ژوند او د ربښتینې سولې او پرمختګ شاهراه ته د هیواد د تېرېدو له حق نه دفاع وکړي.

تر څې ربښتینې او عادلانه سولې ته ونه رسېږي افغانستان به هیڅکله د ربښتینې سولې مخ ونه ویني، په دغه لار کې د ټولنې له نیمایي بدن نه دزیاتې برخې (ښځو) د حقونو او آزادیو له تامین پرته دسولې خبرې پوځلوبی (سراب) دی. دا لکه دلمر روښانه حقیقت د "قطرتړون" کې وضاحت نلري.

سرچينې

---

[۱] په نشنل انتريست کې د مېرمن خليل‌زاد جنجال پاروونکې مقاله

[۲] د ښځو غورځنګ زياتره د نجونو د ښوونځيو په جوړېدو او د ارشادالنسوان اوونيزې په تاسيس په ۱۳۰۰ل (۱۹۲۱ز) کال کې په کار پيل وکړ. څرګنده وه چې دا اوونيزه د افغانستان د ښځو د ښوونې لپاره جوړه شوې وه او مديريت يې د محمود طرزي مېرمن رسميه چې په بي بي عربي ياديده او سرمحرره يې روح افزا چې په منشيه ياديده او (د محمد زمانخان خازن الکتب لور او حبيب الله طرزی مېرمن) په غاړه وه.

## لسم څپرکی

## په مسکو کې د «رندکواپرېشن»، GHQ او ISI د نسخو څلیدل

د "سوبې" مدعیان په دې توګه دوطن قبر کني!

د امریکا د نوي ولسمشر د ادارې له خبرتیا وروسته، چې ګواکې له طالبانو سره دهغه هېواد په "هوکړه لیک" "بیا کتنه" کوي، د دغه ډلې په مشرانو او ملاتړ کوونکو یې اور ولګید. د دوحې د خبرو په ځنډولو او په (جي اچ کیو) کې له پاکستاني جنرالانو او (آی اس آی) سره د اوږدې مشورې لپاره، تهران او مسکو ته پلاوي ولېږل، ترڅې د «ذلت په دیپلوماسۍ» او نرمو فریبونو سره، د کابل ارګ ته د رسیدو لپاره، د خنډونو د لرې کولو لپاره له پرونیو دوښمنانو مرسته ګدایي کړي.

د تاریخ خندنۍ: هغوي چې د خدای تر ټولو مظلوم خلک تېرباسي چې ګواکې، ستاسو د دین او آیین په پار مو"جهاد" کړې دی او د امریکا زبرځواک ته مو ماته ورکړې ده او باید زموږ احسانمند اوسئ او باج مو ومنئ، د "بیاکتنې" په یوې خبرتیا سره کچکول پر غاړه ګدایي کوي:

اګر این است عیش خاکساری
ز پستی هم تنزل می توان کرد [۱]

د قدرت غوښتنې په دې ګنده لوبه کې د طالبانو مشران د ایران په هکله د خپل لاربنود او لومړني "امیرالمؤمنین" ناوړه خبرې او همدارنګه د طالبانو په باب د ښاغلي خامنه يي ورته خبرې چې دواړو يو بل «د اسلام له دایرې بهر او...» بللي دي، نورې په یاد نه ورولي.

هم مسکو اوهم تهران له امریکا سره د مقابلې لپاره، د خپلو جیوپولیتیکو ګټو پر بنیاد د " ابزار" په توګه د طالبانو په سم پېژندلو له ډېرو وختونو راهیسې له طالبانو سره پراخه او پیچلې اړیکې ټینګې کړې دي چې د افغانستان په جغرافیه کې له اصلي رقیب سره حساب پاک کړي او د "دوحې تړون" د ناکامۍ په مخنیوي سره د امریکا له پوځي شتون او پراخ اغېز بې غمه شي.

په مسکو کې دعباس ستانکزي (هماغه چې دوه کاله مخکې د افغانستان د وسله وال پوځ د له منځه وړلو د پلان خبره يې کړې وه او له همدې امله مې يې، له نوم سره د پاکستاني لارنس نوم ورزیات کړ اوهغه یادښت د دې لیکنې په پای کې، له ګرانو لوستونکو سره شریکوم) په مشرۍ د طالبانو پلاوي، له واک نه د ښاغلي دوکتوراشرف غني لېرې کېدل، له راتلونکي دولت سره د همکارۍ شرط وباله!!!

په دې توګه، د طالبانو د درواغجنې او همېشنۍ ادعا خلاف چې د دولت اوراتلونکې مسایل یوازې له افغانانو سره په بین‌الافغاني خبروکې مطرح کوو او تصمیم نیسو، د دوحې د پټې هوکړې د تطبیق او د افغانستان د موجود دولت څنډې کولو لپاره، د پاکستان د جنرالانو او ښاغلي خلیل‌زاد جوړ جاړی رسوا کړ!!!

تاریخ څه مداریتوبونه او عجایب لري؟ او افغانستان د دغو عجایبو یوه بیلګه ده. په دې هیواد کې ده چې د کارل مارکس د خبرې خلاف تاریخ تکراریږي!!!

له ښاغلي ضمیر کابلوف سره د طالبانو د پلاوی ناسته پاسته او هغه انځور چې په ویاړ او ځانښودنې سره يې خپور کړی دی، په مسکو کې له ښاغلي روتسکوی او ...

سره محبت او خواله د شوروي اتحاد د ماتې او د برلین دیوال د ړنګوونکو د مدعیانو د سفر یادونه ذهنونو ته راولي:

هغه وخت کې هم "جهادي" تنظیمونو دا د پاکستان نسخه تکراروله چې، موږ له لاسپوڅي دولت سره نه جوړېږو او د "سوچه اسلامي دولت" کلي یې له مسکو نه غوښتله. ترڅې په پایله کې د افغانستان د تاریخي دښمنانو د هماغه نسخې پر بنیاد یې د وطن هست و بود برباد کړل خو د "جهاد" ټیکه داران خپل مظلوم ولس احسانمند بولي او د قاروني خزانو په لرلو سره ځانښودنه او پر ټولو کبر کوي، او په دغه ټوله موده کې یې هیواد، مظلوم ولس، ربښتیني سوله او د هیواد پرمختګ یرغمل نیولی دی. اوس د طالبانو وار دی چې د آی اس آی د انګریزي سناریو زړه نسخه عملي کړي.

څرګنده ده چې سوله زموږ د غمځپلو خلکو اساسي غوښتنه او اړتیا او د افغانستان د پایښت راز دی او سوله باید د طالبانو د همدغه ترهګرې ډلې سره وشي.

خو له بده مرغه د سولې بهیر د ښاغلي ټرامپ(مست زنګي) د پریکړې له مخې د یوې «پروژې» سطحې ته ټیټه او د امریکا د کورنیو ګټواو ټاکنیزو موخو په چوپړ کې شوه. پایله یې همدا د دوحې "تړون" دی چې د « رند کواپریشن» نسخې په اساس له (ISI او GHQ)سره په همغږۍ کې تنظیم او طالبان یې له یوې یاغي، ترهګرې ډلې نه «د ارګ دراتلونکي واکمن»[۲] تر کچې جګ کړل.

د همدې "تړون" پټ اړخونه، په افغانستان کې د سیمه یزو جیوپولیتیکو کړکېچونو او نیابتي جګړو د نوي دور د پیل اساس شو.

له دې معاملې نه د افغانستان د موجود دولت څنډې ته کول او د اوربند د ټینګښت لپاره د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې همېشنۍ غوښتنه ته بې پروایي، لامل شوه، چې (له "تړون" راهیسې) دې لسو میاشتو کې زموږ هیواد کې د وینو

حمام لا گرم او هره ورځ په مرکز او ولایتونو کې «کربلا او شطیلا» تکرارشي.

په زړه پورې ده چې د پاکستان د زرادخانې له نسخو نه لنډمهاله، لېږدیز، سرپرست او ... دولت د ولسمشر تر څنډې ته کېدو پورې خبرې کېږي او سیاسي جلابان او کارپوهان یې هم تبلیغوي خوهیڅوک یې د عملي کولو د مکانیزم خبره نه کوي. گواکې ډېره اوږده او د کورنیو، سیمه یزواو بین‌المللي پیچلیواړخونو پېچلې جگړه د پاکستاني انشاالله په حساب، لوبه ایښودل له اوبو تېرېدل او هغه هم د خبروله پیل نه مخکې، له امریکا سره د معاملې په استناد اوپه نتیجه کې یوهیواد اوخلک په وینوکې ډوبول دي.

دخبرو دځنډېدو په اړوند د دکتورخلیل‌زاد له معنا ډکه چوپتیا، دا سفرونه او څرگندونې د دې معاملې پټ رازونه رسوا کوي چې له دغو پلانونو سره د دوي د همغږۍ ښکارندوی دی او په یو کس پورې د ډېرې پېچلې او څواړخیزه سولې د بهیر تړل، د نظام د له منځه وړلو لپاره یوه سوپرشیطاني دروهه (دسیسه) ده.

موږ «پیریانو نیولي»، جادوکړي او مسموم کړي یاستو که نه نو له تاریخ نه ولې درس نه اخلو؟

څرگنده ده چې زموږ کمزوري دعقل حاکمیت دی! که نه نو څنگه له هماغه سوري، څو پلا چیچل کېږو او په داسې حال کې چې د اسلام پیغمبر ویلی دي: څوک چې له یوسوري، دوه ځل مار وچیچي، زما په امت کې نه دی!

مخکې له دې چې د افغانستان ماته بېړي له منځه لاړه شي، باید د ټپي مورني وطن غږ ته لبیک ووایو او خپل مدني اعترض سره نږدې او گډ کړو. د سولې د عملی بهیر شنډولو او گواښولو لپاره د تاریخي دوښمنانو کرغېړن پلانونه رسوا او له سراسري او تلپاتې سولې او اوربند دفاع او د فساد سالارانو د واکمنۍ او فاسد حکومت خلاف ودرېږو، ترڅې نظام او اساسی قانون د پردیو له دروهو خوندي پاتې شي.

د دریم ځل لپاره، د تېرې پېړۍ په لومړیو او وروستیو کې د دوه ډاروونکو ماتو تکرار، دوطن دمور په وینو ککړ جسد، ټوټه ټوټه کوي.

د موجود دولت مشران دې په یاد ولري چې جمهوریت پوچ شعاراو د فاسدانو د دوام وسیله نه ده. جمهوریت له یونان او په خاصه توگه په اوس‌مهاله بین‌المللي حقوقو او سیاسي علومو کې له کانت او روسو وروسته د دوه حاکمیتونو:

- ملي حاکمیت
- د قانون حاکمیت

په شتون کې ربښتینی وي، چې اسلامي امارت(اسلامی اسارت) هغه رټل شوی بولي او نه یې مني.

له دې امله:د نظام ساتنه، د ربښتینې سولې ټینگښت او د پرمختگ لویې لارې ته تېرېدل، یوازې د قانون د واکمنۍ په رڼا کې چې د ملي قانون محوراو عادل دولت د ملا تیر دی، شونی دی، چې دغه راز دولت کولای شي پراوسني کړکېچ بریالی او د خلکو او نړیوالې ټولنې د دفاع جوگه شي او پرته له دې زموږ لار ترکستان ته ځي چې داسې دې نه وي!

پاکستانی لارنس او د افغانستان د وسله والو ځواکونو له منځه وړل:

ښاغلی الحاج شیرمحمد عباس ستانکزی د «نن ټکی آسیا» له تلویزیوني شبکې سره په مرکه کې وایي چې په راتلونکي کړنلار کې د امریکا د پوځي ځواکونو له وتلو سره په یو وخت کې، موجود وسله وال ځواکونه منحل او موږ نوی اردو جوړوو.[۳]

لکه د لمر روښانه ده چې د افغانستان د وسله والو ځواکو له منځه وړل، د پاکستان پلان دی؛ په تېر وخت کې هم پاکستان له "جهادي" تنظیمونو سره په همغږۍ کې

دوخت وسله وال ځواکونه له منځه ویوړل او لکه څرنگه چې ښاغلي نواز شریف د خپلې محاکمې په ورځ، دغه تصمیم پاکستان ته خپل تر ټولو ستر خدمت وباله.

موږ د خپل هیواد د تباهۍ په بیه د دغه ستر ملی خیانت د خطرناکو او ډارونکو پایلوگواهان وو او زموږ مظلومو خلکو د خپلو اولادونو د وینو په بیه د هغې کفاره ورکړه.

د بلک واټر، د مخدره توکو بین‌المللی غدۍ (مافیا) او د کانونوغدۍ او...غوندې غولانو موخې د دغو پلانونو خطرونه اسانتیاوې برابروي اوهڅوي يې.

اوس چې سوله د خلکود ډیره کې د اساسي اوسملاسي غوښتنې او د افغانستان د پایښت د شرط په توگه مطرح ده، ډېره اړینه ده چې مورنۍ وطن ته ژمن افغانان له بل هر وخت نه ډېرپه ټول غوراو د حب الوطن من الایمان پر بنیاد او پر سیاسي هوښیارۍ باندې په تکیه او له شخصي، قومي مذهبي، گوندي، تنظیمي او... گټو له پام کې نیولو پرته، د هیواد د ملي گټو او مصلحتونو په ټینگولو سره د افغانستان د تاریخي دوښمنانو کرغېړنو پلانونو ته متوجه وي او د رښتینې اودایمې سولې لپاره چې د ملي غښتلي واک په گرو کې ده، هڅه وکړي.

سرچینې

---

[۱] د حضرت بیدل شعر-

[۲] هغه نسخه چې په دې ورځو کې د افغانستان د سیاستوالو منځ کې لاس په لاس ګرځي، د (رند کواپریشن) طرح ده، چې په رسنیو کې د زیاتو کسانو د څرګندونو له مخې د دوکتور خلیل‌زاد لخوا یوشمېر کسانو ته لېږل شوې او په دوبۍ کې یې دسیاست بازانو بازار تود کړی دی.

[۳] http://www.youtube.com/watch?v=fjEqar۵SaC۸&feature=youtu.be -

## يوولسم څپرکی

## د «رند کواپریش» موسسې د رندانه طرحې په باب ځغلنده نقد او نظر

دا نقد او نظر مخکې د ښاغلی عبیدي په بلنه او مهربانۍ د آسمايي ارزښتناکه سایت کې خپور شوی، چې د هغې په اړوند د شور او زوږ له امله او همدارنګه د دې تریخ واقعیت له امله چې دغه افغانستان ضد طرح  د "قطر تړون" بنسټ دی، دې کتاب سره مل کېږي.)[۱]

داسې ښکاري چې د «رند» موسسې رند طراحان د تاریخ له پوهېدو اود افغانستان له بدلون وروسته پاتې دي او په تېره پېړۍ او پرافغانستان د امریکا پوځي یرغل د پېژندلوارړخ کې بند پاتې دي.

پام مو وی چې په وروستیواتلس کلونو کې موږ له سترو بدلونوسره مخ یاستواو دغه بدلون باید په پرانیستو سترګو د افغانستان په جیودیموګرافیک بدلون کې وڅېړو.

د رسنیو او تحصیلي موسسو پراخه شتون افغانستان د عمومي ویښتیا په لوربوولی او زموږ په وړاندې ځوان نسل چې راتلونکی څاري او آینده ساز دی جوړوي شتون لري چې د مدني ژوند بدلون او پرمختګ غواړي. موږ نور د جهادي انارشۍ لسیزې او طالبانو د منځنیو پېړیو د زورزیاتي له اړمن، ټکول شوي او ستړي نسل سره مخامخ نه یاستو چې له ډېرې ناچارۍ او زورزیاتي د "بن" پر کړکیچ زیږوونکي هوکړه لیک باندې بسنه وکړي!!!

نور زموږ مخاطبین یوازې د دین د سوداګرو، د جهاد ټیکه دارانو او د قوم د دوکاندارانو منفور لړه کې نه دی چې د خپلې باداری لپاره د پردیو جیوپولیتیک په چوپړ کې سیالي کوي. ډېره اړینه ده چې د سولې په هکله له څه ویلو مخکې، د جګړې په لامل او د افغانستان په خونړۍ غمیزې تم شو، هغه جګړه چې د بهرنۍ لاسوهنې معلول او محصول دی او د افغانستان د ملي واکمنۍ په زیانمنولو او زموږ د لومړنۍ جمهوریت په خلاف ( د ارواښاد محمد داوود مهال) د پاکستان له نااعلام جګړې شوې پیل او تر اوسه دوام لري.

له دې امله؛ د سولې د سکالو په طرح کولو سره باید ټول کورني، سیمه یزاو بین‌المللي اړخونه د ملي واکمنۍ حق چې په انحصاري توګه او د نړۍ شموله بین‌المللي حقونو، د ملګروملتونو منشور، د انساني رښتو نړیوالې اعلامیې او د جاري اساسي قانون د څلورمې مادې له مخې، په خلکو پورې اړه لري، درناوی وکړي.

څرګنده ده چې سوله، د خلکو اساسي غوښتنه، د هیواد د پایښت او د پرمختګ لوی لارې ته د تېرېدو شرط دی او افغانستان او افغانان حق لري او د دې وړ دی چې سوله ولري.

له دې پرته چې له وروستیو اتلس کلونو څخه د واکمن سهامي شرکت د کلیپتوکراتانو غوندې"د حضرت عثمان کمیس"جوړ کړو، غواړم هوښیار اوسئ او بیا هم هوښیار اوسئ ووایم. خلک حق لري او باید د بریاو اولاسته راوړنو د دفاع وکړي چې د تاریخ په اوږدو کې په خاص ډول په وروستیو سلو کلونو کې او د ملي دولت په جوړېدواو د( ټولواک امان الله) لومړني اساسي قانون له نافذیدو سره تر اوسه یې د هغې لپاره مبارزه کړې ده او په ټوله کې اساسي قوانین او له هغې نه د نافذ اساسي قانون په دویم څپرکي کې کښل شوی دي او له هماغه لوړو جهانشمولو او دیموکراتیکو ارزښتونو، څخه عبارت دی چې د اوسمهالو بین‌المللی حقوقو ځلا ده او زموږ د خلکو له ملي او اسلامي روحیې سره سمون لري او مراعت کول یې، له نړۍ سره د افغانستان د پیوستون پُل او رښتینې سولې او د پرمختګ واټ ته تېرېدل دي.

هغه څه چې د ”رند“ موسسې طراحان ورته پاملرنه نلري، د سولې د مکانېزم د تطبيق وسيله ده چې هماغه اغېزمن او کارپوه دولت دی. سره له لسګونو نيوکو او نيمګړتياوو موجود دولت، د رښتينې سولې د ټينګښت يوازنۍ وسيله ده.

نو له دې امله د دولت هرډول له منځه وړل او ځنډې ته کول او د ”لنډمهالي دولت“ پوچې طرحې چې د استعماري موخو په ګټه دي، د افغانستان د ړنګېدو او د سيالو نو قدرتونو د اغېز په سيمو ويشلو او کورنۍ جګړې ته لار برابروي.

نو بين‌المللی ټولنه چې د افغانستان د خونړۍ غميزې په وړاندې مسووليت يې لکه د لمر څرګند دی، بايد دافغان مظلوم او غېرتي ولس رښتو ته درناوی ولري او د ملي واکمنۍ حق او او رښتينې او تلپاتې سولې ته د رسېدو په پار زمو له هيواد سره مرسته وکړي.

په داسې حال کې چې افغانستان د تېري او ترهګرۍ موخه ده او د پاکستان د نااعلام شوې جګړې او د نيابتي جګړو لوبغاړو او د سيمه يزو او نړيوالو قدرتونو له دروهو سره مخ دی، د پوځي ځواکونو د وتلو او د ترهګرۍ ملاتړو ته د باج ورکولو، ډاروونکې پايلې لري چې دهغه کورسيزونکي اور لوګی به د ”رند“ موسسې د بيړندويو(عجولو) پاليسي جوړونکو او طراحانو له پزو ووځي.

ډېره خواشينونکې او شرمناکه ده چې په ”سهامي شرکت“ کې شامل يو شمېر سياسي جلابان په وروستيو دوه لسيزو کې د هيواد د لوړو ګټو او مصلحتونو له پام کې نيولو پرته يوازې دشخصي موخو لپاره له دې طرحې چې افغانستان دلبنان کيدو لور ته بيايي، پلوي کوي او ګواکې د هغې په هنداره کې يې د خپلو بانکي حسابونو خونديتوب ليدلی دی.

سرچينې

---

[1] - د ”رند کواپریشن“ په ۲۰۱۹ ز کال کې د Afghanistan Envisioning a Comprehensive Peace Agreement for
«د افغانستان لپاره د بشپړې سولې لړلید» ترسرلیک لاندې یوځه مفصله طرح به ۱۹۹ مخونو کې خپره کړه، و چې د دکتور جانتان س. بلیک او په واشنګټن کې میشت بین‌المللي کړکیچ د ادارې د آسیایي برخې مدیر لاورل میلر په نومونو د رند موسسې د دوه پیاوړیو څېړونکو د کار حاصل دی.
د یوشمېر افغان «سیاسیتوالو» روان بحث د همدغه طرحې د مدار پر یوه برخه تود شوی دی.

# دولسم څپرکی

# سوله که ړنګېدل

## لومړۍ برخه

ګران وطنداره هوښیار اوسه او هوښیار اوسه!

لکه د لمرڅرګنده ده چې سوله د افغانستان د پایښت او زموږ د ویرژلو خلکو سخته زیاته اړتیا ده. له دې امله د سولې د څرنګوالي او څومره والي په اړوند خبرې د هیواد دننه او له هیواد بهر د هر افغان پازه ده.

ښه ده، مخکې له دې چې زموږ ماته بېړۍ د پېښو په توفاني ګرداو کې ډوبه شي، د افغانستان د لوړو ګټو او مصلحتونو پر بنیاد دا پوښتنه وکړو چې: زموږ ګران افغانستان د سولې که د ړنګېدو د لوی لارې په درشل کې ولاړ دی؟

د «امید له انقلاب» نه زما همېشنی ملاتړ به زما د اندېښنې خنډ نه شي. د افغانستان ماته بېړۍ همدا اوس له افتونو او بلاګانو سره مخ ده، د کروناوبا د خپریدو په حالاتو کې د بېوزلۍ سونامي د بهرنیو مرستو د کمښت له ګواښ سره همهاله او د قانون د حاکمیت په نشتون کې د فاسد حکومت او فساد سالارانو واکمنۍ د خلکو روزګار تباه کړی دی. د دغو هلاکوونکو مصیبتونو په ټوله کې: دستر ملي فکر او د هیواد د لوړو مصلحتونو د سم پوهاوي نشتون، د ملي یووالي د ستنو ړنګیدل، د ملي وفاق نشتون او د سکتریزم او شوونیزم د افغانستان ړنګونکو اندونو زیادښت د ملي باور د کړکېچ د پراختیا او د پردیو جیوپولیتیک چوپړ کې د قوم د ټیکه دارانو

ودریدل او ... په دغه لړ کې د رښتینې سولې ساتنې د سراسرۍ جوړښتونو او د قانون د واکمنۍ نشتوالی او بې ارادې مدني ټولنه زموږ د ګډ هیواد افغانستان لپاره خطر زیږدي او ګواښوونکې لاملونه دي چې باید په پرانیستو سترګواو سیاسی هوښیارۍ سره یې وګورو او مخکې له دې چې د افغانستان ماته بېړۍ ډوبه شي، په سیاسي پوهې سره د ژغورنې لار پیدا کړو.

هغه برخې چې ما له طلوع تلویزیون سره د ښاغلي خلیل‌زاد له مرکې یادداشت کړې دي، د طرح شوي "هوکړې" په اړوند زما اندېښنه له ګرانو هیوادوالو سره شریکوم: [۱]

په ټوله دغه موده کې ښاغلي خلیل‌زاد پرله پسې دا سکالو تکرار مطرح کړې او ډاډ یې ورکړی دی «ترڅو په څلورواړو برخو هوکړه ونشي په هیڅ برخه به موافقه نه کېږي» [۲]

اوس یې د ژمنې خلاف، موضوعات په دو برخې کړي دي او پر دوه برخو هوکړې باندي"هوکړه لیک" لاسلیک کوي.

البته د خبرو اترو څرنګوالی او پر هغو برخو چې د افغانستان د ملي حاکمیت نقض کوونکی دي، په دغه لړ کې د بندیانو خوشې کول چې د قانون مطابق او دافغاني محکمو له لارې محاکمه شوي دي، جلا بحث ایجابوي.

خلیل‌زاد او همدارنګه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر څو ځله تکرار کړې ده چې موږ، د ځواکونو دایستلو نه، بلکې د سولې په باب خبرې کوو.

اوس برخلاف د ښاغلي ټرامپ د کمپاینې ګټو لپاره د ځواکونو په وتلو باندی په داسې حالاتو کې ټینګار کوی چې افغانستان د ترهګرۍ موخه او د پاکستان د نااعلام شوې جګړې له شدت سره مخامخ دی. ښاغلیو خلیل‌زاد او پامپیو څو پلا ویلي دي چې له خبرو نه زموږ موخه د افغانستان له دولت سره خبرو ته د طالبانو راښکل

دي، په داسې حال کې د هوکړې د نهايي کيدو خبرې کېږي، طالبان د پخوا په څېرله دولت سره په خبرو نه کولو ټينګار کوي او دولت د خپل اصلي لوري په توګه نه مني.

په داسې حال کې چې د نړيوالو تجربو او د لانجو د حل تيورۍ پر بنياد، خبرې د جګړې ددواړو خواو(دولت او طالبانو) په وجود کې معنا لري په خواشينۍ سره چې په افغانستان کې د پوهاوي ( تفاهمي) ناستې له خبرو سره غلطوي.

له بده مرغه طالبان تر اوسه نه دي پوهېدلي چې د هغوی تر ټولو ساده کار جګړه کول دي او اساسي کارسياسي بهير ته تېرېدل او سياسي راکړې ورکړې (تعاملاتو) ته چمتووالی دی. طالبان بايد پوه شي چې جګړه کولای شی چې د دين تر نامه لاندې وکړي او د خلکو د لمسون لامل شي خو د سياست او دولت چارې ترسره کول، دنيايي کار دی او بايد له «سپېڅلو» مسايلو سره ګډ نشي. تر هغو چې طالبان د افغانستان له دولت سره په مخامخ خبرو کې د خبرو د ميز پر سر، سياسي واک ته د رسېدو لپاره خپلې سياسي غوښتنې او مدني چلند مطرح نکړي، هيڅکله به د سياسي ځواک په توګه پرمختګ ونکړي.

البته دا بې شرطه خبرې مشروطې سولې ته د لاسرسي لپاره تر سره کېږي او سوله چې بيه لري، دښکېلو خواو لخوا يې بايد بيه مشخصه او دواړه خواوې بايد هغه ورکړي. د سياسي رژيم او حقوقي نظام ډول (نوعيت) او ...باندې هم په همدې خبرو کې ترسره شي.

اوربند بايد داجندا په سر کې ځای درلودی؛ په داسې حال کې چې په خواشينۍ سره بې ګناه خلک او ملکي وګړي د خطراو وژلو موخه دي او جګړه په بېساري توګه سخته شوې ده، ښاغلي خليلزاد په "هوکړه ليک" کې د خشونت او اوربند د يوې برخې اوسيمه يز کمښت خبرې وکړې چې په ډاګه د جګړې او وينې توبولو د دوام معنا لري.

اوربند باید د ټولو د غوښتنې او د مظلومو او ویرژلو خلکو د اصلي اړتیا او له طالبانو سره د هر ډول هوکړې د مخشرط او په سراسري توګه مطرح شي.

د طالبانو غټ ښودلو او د هغوی د بدیو پاکولو بهیر د په مسکو او لاهورکې د افغان سیاسي جلابانو لخوا په شوق تر سره شو، اوس د طالبانو امارت ته په رسمیت ورکولو سره تمامېږي چې په یو هیواد کې دوه د مختلفو سیاسي سیستمونو او بیلابیلو حقوقي نظامونو د حاکمیت د شتون معنا لري.

دا په ښکاره ساده موضوع او د هیواد په شمال او ختیز کې د داعش پراخه شتون، د مخدره توکو او کانونو غدی (مافیا) او په زرګونو بې بندوباره "جهادي" ټوپکوال او... د امریکا د عسکرو په نشتون کې، دوه واکمنۍ یاغیتوب او ملک الطوایفۍ ته لار جوړوي.

ښاغلی خلیل‌زاد د افغانستان دولت مشران له خوړې ګوتې نیسي او کېکاږي یې چې د "هوکړه لیک" طرح نالوستلې لاسلیک او تایید کړي، په داسې حال کې چې لا تر اوسه د هغه متبوع هیواد (امریکا) نه ده تایید کړې او په اړوند یې زیاتې اختلافونه او نیوکې څرګند شوې دي.

البته ښاغلیو ټرامپ، پامپیو او خلیل زاد ته به په یاد وي چې د افغانستان په وړاندې حقوقي او اخلاقي ژمنتوب لري چې د هغې نه ترسره کول به، د امریکا دولت په تاریخ کې نیواګګر په توګه ثبت شي.

**دویمه برخه**

د افغانستان د ربښتینې سولې، ټیکاو او پرمختګ په لار کې ستر خنډونه:

<u>لومړی-</u> د کرکې وړ لړه کې شتون: عام ګومان دادی چې جګړه د افغانستان د

مصیبتونو د حل و فصل اصلي خنډ دی، خو جګړه د یو لړ کورنیو، سیمه یزو او نړیوالو لاملو پایله ده او په کورني اړخ کې پراخ فساد او فسادسالاران د جګړې د دوام او زموږ د مظلومو خلکو د بدمرغۍ اصلي لامل دي.

په مشخص بیان سره: همدا د دین د سوداګرو( دین پلورونکو)، دقوم دکاندارانو( قوم پلورونکو)، دجهاد ټیکه دارانو او سیاسي جلابانو منفور لړه کی چې ټول دېرش ملیونه وګړي یې یرغمل نیولي دی، د افغانستان د رښتینې سولې، ټیکاو اوپرمختګ په لار کې تر ټولو ستر خنډونه دي.

په وروستیو دوه لسیزو کې همدغه د کرکې وړ لړه کې د ملي ځواکمن دولت او قانون دو اکمنۍ پرځای، سهامي شرکت جوړ او کلیپتوکراسي یې واکمنه کړه. اوس په دروهو (دسیسو) او ټګیو (لطایف‌الحیل) سره د دغه سهامي شرکت د دوام په پار ان د عمران خان طرحې ته چې لنډمهاله حکومت او د اغېز پر سیمو او ... د افغانستان دویشلو په باب ده هڅې کوي.

دغه د کرکې وړ لړه کی د ملي حاکمیت حق ته چې په انحصاري توګه او د بین‌المللی موازینو او اساسي قانون له مخې په خلکو پورې اړه لري، باور نلري او د خلکو د تابعیت حقونو پرځای په یو ډول د باداری او نوکرۍ سیستم مني چې د خدای په مخلوق د خپل زور او زرو واک د دوام لپاره د"قیم" نقش عملي کوي.

<u>دویم-</u> د افغانستان د اشیل پونده*:

---

* د آشیل پونده: هغه کمزورۍ ته اشاره ده چې له سلامتیا او توان سره کیدای شي د ړنګېدو لامل شي.

د ملي ځواکمن قانون محور او عادل دولت نشتون دی او ترڅې هیواد کې د قانون واکمني تینګه نشي داسې دولت به هیڅکله جوړ نشي. خلک په وروستیو سلو کلونو کې د دریم ځل لپاره د نظام له رنګېدو ډارېږي د نظام او اساسي قانون ساتنه غواړي. نو د افغانستان دولتي مشران باید آګاه اوسي چې د جمهوریت شعار دخلکو له مجبوریت سره غوټه نکړي. ځکه جمهوریت تر ټولو مخکې له هماغه لرغوني یونان او تر معاصرو حقوقو او سیاسي علومو پورې، په خاصه توګه له کانت او روسو وروسته په دوه واکمنیو: ملی واکمنۍ او د قانون واکمنۍ کې رښتینې بڼه مومي او له همدې امله، خلک فساد او دفساد سالارانو واکمني د سولې او پرمختګ لپاره د خپلو هیلو په وړاندې اساسي خنډ ګڼي.

<u>دریم-</u> د رښتینې سولې او قانون د واکمنۍ د ساتونکو نشون:

په دې توګه د افغانستان د ستونزو او مصیبتونو له منځه وړل د خلکو په دې تاریخي تصمیم پورې اړه لري چې په یو تاریخي "حی الفلاح" کې دغه څو سوه کسیز لړه کې ته په میړانه، نه ووایي او د سولې، ټیکاو او پرمختګ ستر واټ ته د تېرېدو په پار د افغانستان له حق نه دفاع وکړي.

زړور خلک، آینده جوړوونکی ځوانان او ښځې چې کابو نیمه پېړۍ جګړه او د هغې ډاروونکې مصیبتونه یې زغملي دي "اسلامي" امارت (اسلامي اسارت)، د پاکستان سوپر شیطاني دروهو، د ایران تېرایستونکو دروهو او د امریکا «ګوډ نیسه مه یې تویوه» سیاست ته نه ویلي دي، له دغه کرکې وړ لړه کې نه په خلاصیدو سره به د سولې او هوسایني دروازه پرانیزي.

که سوله زموږ حق دی او افغانستان حق لري د سولې لوی لارې ته تېر شي، نو باید: ټول په یاد ولرو چې حق ورکول کېږي نه، اخیستل کېږي!

له دې امله: باید په زړورتیا د خلکو له حق او حقونو او د تلپاتې سولې(مثبتې سولې) ستر واټ ته د افغانستان د تېرېدو دفاع وکړو. او په یاد ولرو چې:

د خلکو زور د خدای زور دی! البته د«امید انقلاب» ساتنه او د خلکو په اراده باور، د دې کرښو د لیکو انګېزه ده او چې وي نو داسې دې وي!

سرچينې

---

[1] خليل زاد- زلمی – په دوحه کې د افغانانو د خپلمنځي خبرو د پيل په مهال له ۱ تلويزيون سره په مرکه کې

[2] دکتور خليلزاد له طالبانو سره د خبرو له هماغه پيل نه د(۲۰۱۸ز کال)په وروستيو کې وار وار او په تکرار، دا موضوع ويلي ده چې له طالبانو سره په څلور موضوعاتو خبرې کوی: له افغانستان نه د امريکا د پوځي ځواکونو وتل، له القاعده او نورو ترهګرو ډلو سره د طالبانو د همکارۍ بندول، اوربند او د افغانستان له حکومت سره د طالبانو د مخامخ خبرو پيل .
ده تل ټينګار کړی دی ترڅو چې په څلورواړو موضوعاتو هوکړه ونشي په هيڅ موضوع هوکړه نه کېږي.
اوس چې له طالبانو سره "ترون" لاسليک شوی او د امريکا د پوځي ځواکونو د بشپړ وتلو او نوي اسلامي حکومت د جوړېدو پوښتنه مطرح ده، د افغانستان خلک حق لري، پوښتنه وکړي او له ښاغلي خليلزاد وضاحت وغواړي چې مهرباني وکړي او دخپلو پرله پسې ژمنو نه د افغانستان ويرژلو او سولې ته تږيو خلکو ته معلومات ورکړي.
يادونه: د دې موضوع په هکله او د ژنيو ترون او د « مثبت او منفي سميتري» بحث په اړوند مط تېر کال ليکلې وه چط لينک يې لاندې پروت دی.

https://www.facebook.com/۱۰۰۰۱۰۱۲۹۹٦٤۷۰٤/posts/۱۳۸٤٦۷۸۹۳۸٥٤٦٤۲٥



نویسنده: حقوقدان میرعبدالواحد سادات
رئیس انجمن حقوقدانان افغان در اروپا